عبدالغفور لیوال

# لارویان

(مریدنامه)



# لاروپان

(مریدنامه)

عبدالغفور لیوال

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم:  لارویان (مریدنامه)

لیکوال: عبدالغفور لېوال

ډیزاین:  ودان لېوال

خپرندوی: د اسمايي فرهنګی ټولنه

د خپرېدو کال : ۲۰۲۵

ISBN ۹۷۸-۱-۳۲۶-۶۳۰۳۷-۹

# په بې‌زمانه زمانو کې...

# د لټون پیل

زمانه ورکه وه. نن و پرون و سبا نه‌وو ځرګند. لوړو غرونو پرېمانه زخمونه لرل او له هسکو څوکو یې د ویلې شوې واورې له شرشرو او رودونو سره کرښه کرښه وینې راتلې. خلکو ګومان کاوه، چې د غرونو له زړونو غمي راوځي. سره غمي لکه لعلونه .

د هسکو غرونو له زړه څخه راوتلي لعلونه د دې زمکې د زخمونو څرېکې وې. دا څرېکې نه‌تمامېدې، زمانه نه وه، چې زخمونو او دردونو ته یې پای وربښلی وای .

څوک نه پوهېدل، چې دا پرون و، که نن که سبا؟ خو دومره خبر شول، چې لاروی او لاربښود په خپلې ورکې پسې ووتل. لاربښود ببرې ایره‌یي ځنې لرلې او د هغه زدکوونکي و مرید (لاروي) داسې برېښنده سترګې لرلې، چې له هرو کتلو څخه یې پرېمانه پوښتنې پیدا کېدلې. لاربښود د خپل لاروي سترګې لوستلای او پوښتنې یې په کې موندلای شوې .

د یوه پسرلني باد پستو ګوتو د لاربښود ځنې خوځولې، چې مرغیو له غوټیو څخه وپوښتل :

د دوی ورکه څه ده؟

له غره څخه مسته شرشره چې په خپلو سپینو رګونو کې یې سرې وینې رابهولې - او خلکو ګومان کاوه، چې د غرونو له زړونو څخه لعلونه راوځي- د مرغیو پوښتنې ته ځواب ورکړ :

دوی په «ریښتیا» پسې ګرځي .

- «ریښتیا»؟

- هو «ریښتیا».

- د څه شي «ریښتیا»؟

- دا «ریښتیا» چې موږ ولې «داسې» یو؟

- ښه نو دوی به په سلو منزلونو ګرځي، چې «ریښتیا» ومومي؟ ښايي دوی د دې پوښتنې ځواب تر سلو منزلو روسته ومومي، چې: «موږ ولې داسې یو؟»

د مرغیو او غوټیو، د پسرلني باد او سپينې شرشرې ترمنځ دا خبرې هیڅا وانه‌وریدلې. پسرلني باد لا په پستو ګوتو د لارښود څنې خوځولې او د لاروي سترګې له پوښتنو ډکې وې .

غرونه ولې زخمي دي؟

د هسکو سردرو له زړه څخه په سپینو اوبو کې ولې وینې رابهیږي؟ او خلک ګومان کوي، چې لعلونه دي. دا وطن د لعلونو خزانه ده .

یو شاعر یې ویلي :

«اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما...»

دغه مستانه لیوني شاعر هم د دې غرنو د زړونو له زخمونو څخه رابهېدلې وینې لعلونه ګڼلي وو .

- ایا د خلکو زړونه هم زخمي دي؟

- هو .

- دا د خلکو له سترګو څخه رابهېدلې وینې دي، چې غرونه یې لکه سره لعلونه له خپلو زړونو بهوي او د سپینو واورینو څوکو له هسک څخه په مستو رودونو او شرشرو کې رګ رګ رابهیږي او خلک ګومان کوي، چې لعلونه دي .

- ریښتیا زمانه ولې ورکه ده؟ د نن و پرون و سبا توپیر ولې نه‌شته؟

- دلته خلک د زمان په یوه تړلې کړۍ کې راڅرخي. د دوی نن له پرون سره توپیر نه‌لري او سبا یې نه‌شته. دوی تل د پرون په حسرت و ارمان کې ژاړي، خو که یې وپوښتې کومه پرون؟ دوی یې نه‌پېژني، ځکه پرون یې هم لکه نن داسې وه. څو سوه کاله پخوا یې یوه بل شاعر ویلي وو :

- «خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک

په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلک

هېڅ خندا مې له دې خلکو سره نه‌شي

ژړوي مې هغه تللي تللي خلک»

څوسوه کاله پخوا هم د دوی ملنګ شاعر د تېرې زمانې حسرت کاوه، نن هم دوی د خپلې پرون – چې نه شته- حسرت و ارمان کوي. هغه خلک چې تل د تېرې زمانې حسرت کوي، «نن» نه لري او هلته چې «نن» نه وي «سبا» هم نه‌شته. دلته زمانه ځکه ورکه ده، چې تېره زمانه ښه ښکاري او نن و سبا د دردونو، زخمونو او غمونو بلا غوندې وېروونکې ده. خلک د نن و سبا له وېرې پرون ته پناه وړي، هغه پرون چې لا ابل پرون ورته ښه ایسي. دلته زمانه نه‌شته، ځکه تر پرون نن او تر نن سبا ښکلې نه‌ده. تر پرون نن او تر نن سبا ځکه ښکلې نه ده، چې د ښکلي کولو ژمنه و اراده یې نه‌شته...

- خو دا ولې؟

- «ولې؟»

- د همدې «ولې؟» ځواب خو هماغه ورکه «ریښتیا» ده کنه !

- ښه ښه ! هغه ورکه ریښتیا، چې اوس ببرسری لارښود او د هغه ځیرمن لاروی پسې په سفر وځي؟

- هو، خو خدای خبر چې پیدا به یې کړي!؟

- داسې مه وایه! دوی به سل منزلونه ووهي او ښايي «ریښتیا» به پیدا کړي .

- خدای دې وکړي. مګر وېرېږم چې د «بېزمانی» په کومه ګردله کې ترې بېرته ورکه نهشي .

مرغیو او غوټیو واورېدل، چې پسرلني باد شرشرې ته وویل: زه به ورسره ملګرتیا وکړم او ګورم به چې ورکه «ریښتیا» چېرته پټه ده؟

او داسې پسرلنی باد لکه یوه پسته او خوږه وږمه د دوو لارویانو ملګری شو .

# په «ریښتیا» پسې مزل

# لومړی منزل

# د زړو ویاړونو ځلې

سادو د وران شوي ښار په یوه زاړه برج ختلی و او د خپل ښار د زړو ویاړونو ترانه یې په خپل ځیږه غږ کې سندره کړې وه .

سادو ویل : نیکونو مې له چنګېزه تر انګریزه ټول وهلي دي زما ښار د ویاړونو ښار دی، دلته هر دوښمن مات شوی او دا ښار د یرغلګرو هدیره ده....

سادو لګیا و او د ویاړ بدلې یې ویلې، ښاریانو ته دا بدلې سولېدلې او بېخونده وې، چا سادو ته یوه سکه هم نه ورکوله، لاروی ورته پښه نیولی شو، خو بېرسری لاربشود په یوه ترخه موسکا ترې تېر شو او لاروي ته یې وویل : اوږده لاره په مخکې ده، خپلې راتلونکې ته په پام مخکې ځه او شا ته مه ګوره!

لاروي وپوښتل :

مګر زاړه ویاړونه ؟...

بېر سري وویل : دا ټولې د نن او سبا د بېوزلۍ او حقارت عُقدې دي، چې نارې وهي. که د هدیره شوي ښار ښاریان د خپل ښار دننه جګړه ویاړ ګڼي نو هغه دوښمن چې د خپلو ګټو لپاره له اوو سیندونو او اوو غرونو را اوښتی او دلته جنګېده، دهغه ولس به ځان ځومره لوی اتل ګڼي؟

اتلواله دا ده چې ته د خپلو ګټو لپاره په نورو سیمو کې وجنګیږې، نه دا چې خپل ښار د چا په هدیره بدل کړې. لاروي ګامونه چټک کړل او د سادو په بېخبرۍ او بېوزلۍ یې زړه وخوږېد.

# دویم منزل

# جلادانو ته ولاړ په نوبت خلک

لاربښود و لاروی ستړي ستومانه پر یوه زاړه ښار ورننوتل، د ښار دروازې ساتونکي نه‌لرل، هر څوک ښار ته ننوتلی شول .

ببرسري لاربښود له کوښو څخه د لارې شکې وځنډلې، یوڅه وړاندې ولاړل، که څه ګوري؛ د بنیادمانو سلاخي روانه ده او جلادان څوک سرې تورې او څوک تبره ساتولونه په لاس، لګیا دي د ښار د خلکو سرونه پرې کوي، ښاریان کتار کتار خپل وار ته په تمه ولاړ دي او جلادان ستړي ستومانه لګیادي، سرونه پرې کوي. له سلاخۍ څخه د وینو رود مخ په وچ سیند روان دي .

ببر سري لاربښود کټ کټ وخندل، لاروی حیران شو، خپل لاربښود یې پوښت : خلک ولې سر وهلو ته په کتار کې ولاړ دي؟

ببرسري ځواب ورکړ :

جلادانو دوی ته ویلي: خدای دښار جلادانو ته امر کړی، چې د خلکو سرونه پرې کړي او خلکو د جلادانو دا خبره منلې ده، چې ګواکې د خدای حکم دی .

دا خلک پر خدای نه ، بلکې پر خپلو جلادانو مومنان دي. د دوی ستونزه دا ده، چې په خپله د خدای فرمانونه نه‌شي لوستلای، یا نه‌شي پرې پوهېدلای، بلکې دوی د خدای احکام د جلادانو له ژبې اوري. د دې ښار خلک په دې نه پوهیږي، چې خدای د ( انسان ) قتل حرام کړی دی. ښاریان جلادان خپل مقدس مشران ګڼي .

لاروی له سلاخۍ په منډه تېر شو، له ښاره ووت ، د سارا هوا یې کش کړه، خو د وینو بوی یې لا په سپږمو کې پاتې و.

# دریېیم منزل

# لکه مړي ویده خلک

ببرسری لارښود او د هغه ځیرمن لاروی همدا چې له کنډوه واوښتل، پراخه دښته په مخه ورغله، د دښتې په یوه اړخ کې د ویجاړو بانډو نښې لا پاتې وې، نوره دښته ټوله هدیره وه، وروستي مړي چا نه وو خښ کړي، هډونه یې پرزمکه پراته وو...

لاروي پوښتنه وکړه : دا څوک دي ؟

ببرسری موسک شوک :

هغه قوم چې ووژل شو، خو راویښ نه شو .

د دوی له منځه یوڅوغلو او وژونکیو د (عقیدو) بیرغونه راپورته کړل، ویې وژل او لوټ یې کړل. ځینې دخیټې له غمه په دوی پسې شول او نور چې ویده ول، په خیټورو پسې ورغلل. یوه ورځ ټول د زړو خوبونو د ښامارانو له ویرې دلته راغلل او مړه شول .

د ببرسري لارښود لمن د لارې په اغزیو کې ښکېل شوه او له سوري څخه یې نرۍ دوړه ووته.

# څلورم منزل

# هغه ښاه چې «خپله» نه‌ده

ببرسري د ښار ښاه ته وکتل، ببرته يې سر هسک کړ، يوه قهرېدلې موسکا يې پر شونډو وه. لاروی اودس کاوه، لارښود په موسکا ورته وويل : پر دې اوبو دې اودس نه کيږي .

لاروی کوزړی کېښوده، حيران شو ؟

ببر سري وويل :

د دې ښار خلک له همدې ښاه څخه اوبه څښي او ببرته پخپله په کې خځلې او ناولې اوبه اچوي .

لاروی بيا په سترګو کې ورڅخه د ( ولې؟) پوښتنه وکړه. ببرسری لارښود لا هماغسې موسکی و :

ښاريان دا ښاه (خپله) نه ګڼي، ځکه دهغوی په کور کې نه ده کيندل شوې.

# پینځم منزل

# ریښتیا څه ده؟

# د نیکونو باور کوم و؟

ببرسري لارښود خپل شوریده لاروي ته وویل :

- نن د ( بنګساره نسلونو) د ښار له څنډې تیریږو، مزل ډېر دی، که د ښار له منځه تېرشو ښايي ډېرې پوښتنې درپیدا شي، خو که یې له څېرمه تېر شو، زه به د دغه ښار کیسه درته وکړم .

لاروي وویل :

کوربان لارښوده !

زه نهغواړم په بنګساره پوښتنو واوړم، د دې ښار کیسه راته وکړه .

لارښود خندل، ګواکې د بنګساره نسلونو د ښار خلک په یوه خنداوړ زمانه کې ژوند کوي.

لارښود په خندا کې وویل:

- د دې ښار ځوانانو ته مې هم خندا راځي او هم ژړا. له یوې خوا حیران دي، چې د چا ومني او له بلې خوا دومره په حیرانتیاو کې سرګردانه دي، چې باور یې هېر شوی او ټول ژوند ورته د بېباورۍ یو سُراب ښکاري .

لاروي وپوښتل:

- اخر څه وریپښه ده، چې د دوی ژوند یې په داسې سرګردانۍ او بېباورۍ اړولی دی؟

لارښود لاخندل :

د «بنګساره نسلونو» د ښار په بر سر کې يو مزدک دی، چې ژېړکميسي راهبان په کې د ښار زلميو ته زاړه کتابونه وايي او د همدې ښار په کوز سر کې د حکمت د ښوونکيو يو داسې ښوونځی ودان دی، چې هره ورځ يې کتابونه نوي کيږي. د ښوونځي په کتابونو کې راځي چې:

« د نن پوهه تر پرونه بشپړه او د سبا هغه به لا ترنن پوره او کره وي .»

خو د زاړه مزدک کتابونه هماغه د زړو پخوانيو کلونو افسانې تکراروي او نوي کول يې کفر ګڼي. د دغه ښار ځوانان سهار سهار مزدک ته ځي او ځاښت مهال ښوونځي ته چې تر مازيګره هلته زدکړه وکړي .

ښاريان خپل زامن دواړو ته استوي، ځکه هم د کار روزګار او ګټې وټې لپاره بايد نوې پوهنې ترلاسه کړي او هم د خپلو پلرونو او نيکونو د باورونو په اړه زاړه کتابونه ولولي .

ربړه دا ده، چې ځوانان نه پوهيږي، د چا ومني؟ د ښوونځي د نويو کتابونو؟ که د نيکونو د باورونو د زړو نسخو؟

د مزدک زاړه کتابونه وايي :

- «زمکه د غوايي په ښکر ولاړه ده، غويی په ماهي سپور دی او ماهي په اوبو کې روان دی. د غوايي په پوزه کې چې مچ ننوځي نو سر وښوروي، غويی چې سر وښوروي نو زلزله وشي.»

د مزدک زاړه کتابونه بل ځای وايي :

- « په اسمان کې شيطانان چې يو له بل سره جګړه کوي، نو تورې او زغرې يې يو له بل سره ولګيږي، هماغه وي چې تالانده و بريښنا شي...»

خو د ښوونځي نوي کتابونه وايي :

- « زمکه د لمريز نظام يوه پنډوسکی (کُره) ده چې پرځان تاويږي او تر لمره هم راڅرخي. چې پرځان څرخي نو شپه او ورځ او چې په لمر څرخي نو مياشتې وکال ترې رابرېږي. د زمکې زړې ته نږدې لوړه تودوخه ده او اوبلنه لاوا بهيږي، د اوبلنې لاوا د خوځښت له کبله کله کله زمکه خوځيږي، چې زلزلې پيښيږي...»

نوي کتابونه بل ځای وايي :

- «د سړې و تودې هوا د ټکر له کبله د زمکې په اتموسفير کې په اوبو متراکم جريانونه يو له بله سره په شدت لګيږي او تالانده وبرېښنا رامنځته کيږي...»

د مذهب راهبان ټينګ دي، چې د دوی کتابونه ريښتيا وايي، ځکه د دوی پلرونه او نيکونه په همدې باور وو او زرکاله پخوا چې چا دا کتابونه ليکلي دي، د خدای دوستان او ښه خلک وو، ځکه يې بايد خبرې ومنل شي ...

د ښوونځي ښوونکي وايي :

- د نويو کتابونو پوهه په تجربو ثابته شوې ده او د تجربو له مخې د پوهې وده هره ورځ نوې کيږي، موږ تر سل کاله پخوانيو خلکو ډېر پوهيږو او سل کاله روسته خلک به ترموږ هم په ډېرڅه پوهيږي...

ببرسری لارښود چې د کيسې دې ځای ته راورسېد، نو خپل لاروي ته يې د بنګساره نسلونو د ښار رنګ ديوالونه وروښوول او په خندا يې زياته کړه :

ښارونه او انساني ژوند په نوې کېدونې پوهه جوړيږي او پرمختګ کوي، دا ښار ځکه رنګ پاتې دی، چې د زاړه مزدک راهبان او د ځوانانو پلرونه او نيکونه خپل ځوانان د زړو کتابونو باورونو ته رابولي او همدا ورته وايي، چې :

« د خپلو پلرونو او نیکونو باورونه وساتئ! »

ښايي له همدې کبله به دغه ښار د نیکونو او پلرونو د باورونو په شان زوړ او نیمګړی همداسې شاړ پروت وي .

دا مهال لاروي ته د بنګساره نسلونو ښار داسې ښکاره شو، لکه د زروکلونو پخوا جوړ شوی افسانوي ښار چې ويني .

# شپږم منزل

# په دعا پرېوللې هڅه

پر کلي ورننوتل، وبا ګډه وه، د ماشومانو لويه هديره جوړه وه، مشران ولړې او تندې پسې اخيستي وو، ويالې وچې وې، کليوالو يو د بل غوښې خوړلې او زورورو د کمزوريو پر وينو خپله تنده ماتوله .

چې اذان به وشو، کليوال به ډلې ډلې رنګ جومات ته ننوتل، اوږده اوږده لمونځونه به يې وکړل، ډېره شيبه به يې لاسونه لپه نيولي وو: له خدای (ج) څخه يې په ويالو او چينو کې اوبه، ښېرازي، سوله او يووالی غوښته، د وبا له شره يې د خلاصون دعا ګانې کولې .

لاروي ببرسری وپوښت: ولې د دوی دوعا ګانې نه قبليږي ؟

ببر سري د وچې ويالې بهير وڅاره، تر غره پورې يې نظر وګانډه او ځواب يې ورکړ .

دا وياله تر دې غره هاخوا له يوه بند څخه را ببله شوې ده، اوس بند نړېدلی دی او سربند خټو بند کړی دی، لوی خدای (ج ) دې خلکو ته لاس او پښې ببښلي، چې ولاړ شي سربند پاک کړي او بند ورغوي، په وچو ويالو کې به اوبه راشي، غنم به شنه او وبا به ورکه شي .

خو لاروی قانع نه شو : ما د دعا د اجابت پوښتنه وکړه .

لاربښود وويل: همدا ( هڅه ) د دوی د دعا اجابت دی!

# اووم منزل

# جګړه څه ده؟ راته وایه!

بیدیا وچه او لاروی تږی و. ببرسري لاربښود په شګو کې د پاتې شویو ګامونو بهیر ته کتل .

لاروي وپوښت : د جګړې په هکله راته ووایه !

ببرسري له شګوڅخه سترګې راپورته کړې :

))جګړه د انسان د حرص او ځواکغوښتنې د غریزې په مټ هغه کرغېړنه کړنه ده، چې دواړه لوري یې ( حق) ګڼي. جګړه د هوښیارو سیاستوالو تلقین دی، چې کمعقله وګړي په ولولو راولي او دوی ورته خپلې وینې نذرانه کوي. جګړه، همدا اوس، په دې بیدیا کې، زما وینو ته ستا تنده ده، چې که ته له تندې څخه مرګ ته نږدې شې، نو د څښلو لپاره زما د وینو د بهولو مشروع لاره په خپله عقیده کې لټوې.

پوه شه ! جګړه د ګټو، واک او ځواک لپاره د انسان د وحشت تمثیل دی، چې د شرافت حماسي جامه ور اغوندي او د خونړي وحشت څېره د ( غیرت ) ترشا پټوي .

لاروی تږی و، خو د ببرسري وینا یې تنده ترې هېره کړه، هومره چې په شګو کې یوه بهېدونې چینه یې هم ونه شوه لیدلای.

# اتم منزل

# کاشکې زه ښکلی مرغه وای

ببرسری يې وپوښت :

ځوکاله مخکې چې پر دې لاره تېرېدو؛ روانې اوبه ، شنه بوټي او ګورې ونې ولاړې وې، د الوتونکيو غږونه وو او خوږه وږمه چلېده، خو اوس دلته کورونه او ډبرين ديوالونه دي، بد بوی دی، ايا انسان د طبيعت دوښمن دی؟

لارښود ځواب ورکړ :

دا بد بوی د انسان د حرص ، کمعقلۍ او لنډپارۍ دی .

طبيعت سخي دی. دهرڅه لپاره ځای لري. دا حضرت ( انسان ) دی، چې خپل عقل سم نه کاروي او په شنو سيمو کې کورونه او کلي جوړوي. د غرو لمنې، کوشنۍ غونډۍ او ډاګونه د اوسېدو لپاره دي او کروندې، ځنګلونه او ورشو ګانې د رزق، ښکلا او سمسورتيا لپاره .

دا مخلوق په خپل خير نه پوهيږي، هغوی چې د خپلو ګټو لپاره يوبل سره وژني، پر طبيعت به نو څه رحم وکړي؟

لاروی، سوچ ته ولاړه او دځو شيبو لپاره پر خپل هويت او ماهيت پښېمانه شو، هيله يې وکړه چې کاشکې يوښکلی مرغه وای نه حضرت انسان!

# نهم منزل

# لاړ شئ!

# ورکه عاطفه بېرته پیدا کړئ!

د ښار په دروازه کې خبر شول، چې د ښار خلک ناروغان دي، خو دا څه عجیبه غوندې ناروغي وه. د ښار خلکو عاطفه نه پېژندله او زړه خوږی یې هېر شوی و. خلک بنګساره وو، ګومان یې کاوه، چې د بل ښاري ځورول ( خیر مطلق ) دی .

چې ښارته ورننوتل؛ یوه ډله ماشومان پرې راټول شول، بېرسري په مینه مینه ورته وکتل، یو ماشوم راغی او د لاربښود له پښو یې غېږ چاپېره کړه، لاربښود ورکوز شو او ښکل یې کړ، لاروي هم څو ماشومان په غېږ کې ونیول. خلک حیران شول، چې دوی څه کوي؟

دا پردي مساپر ولې د دوی له ماشومانو سره مینه کوي؟

ښاریانو مینه او پرماشومانو مهرباني نه پېژندله ...

لاروي خپل لاربښود وپوښت :

د دې خلکو د ناروغۍ علاج شته؟

لاربښود په ډاډ ځواب ورکړ :

هو! کله چې مشران ټول مړه شي او دغه ماشومان رالویان شي او بیا د دوی بچیان وشي او رالوی شي، مینه، عاطفه او زړه سوی به بېرته ورپه یاد شي .

لاروي بیا پوښتنه وکړه :

چا او څه شي دوی په دې ناروغۍ اخته کړي دي؟

حلاله ګڼه نه وه، یو لوی سیاسي کوډګر دوی ته خپل خپلوان کافران کړل، د کافرو شویو خپلو خپلوانو کور، ښځې، ماشومان، شته او زمکې یې ورته حلالې وګرځولې، دوی بله ګڼه نه شوه کولای، بس د خپل ښار او خپلوانو په شتمنیو یې چور واچاوه، څوک یې چې مخې ته درېدل دوی به وژل.

زورورو به دکمزوریو مال راخپلاوه. دې کار ورو ورو له دوی څخه عاطفه او زړه سوی هېر کړل، روسته بیا دا ناروغي ساري شوه، ټول ښاریان پرې اخته شول .

عاطفه او زړه سوی د انسان طبیعي ځانګړنه ده، خو حرص او سیاسي واکغوښتنه یې دوښمنان دي، که عقیدوي جواز ورسره ملګری شي، بیا نو د دغو انساني ارزښتونو( عاطفې او زړه سوي) ریښې له بیخه باسي. یا خو باید ټول بالغ ښاریان له منځه ولاړ شي او نوی نسل له خپلې خدای ورکړې عاطفې سره رالوی شي او یا هم دې ښار ته نور ښاریان راوستل شي، چې لا یې د ( ګټې) لپاره د بل ښاري وژل او خوړل نه وي زده .

خو پوه شه ! چې د دوی ناروغي پرمساپرو اغېز نه لري، ورته ځیر شه او د خپل معرفت زېرمې ته ورڅخه زده کړه وکړه .

لاروی ښاریانو ته حیران شو، د دوی په ناروغي یې زړه وخوږېد، خو د ماشومانو په معصومو څېرو کې یې د ناروغۍ نښې ونه لیدلې، د ښار ( سبا) ته یې هیله پیدا شوه.

# لسم منزل

# د الهام له مغارو نه

لاروی د غره په ډډه کې د هغې مغارې ترڅنګ ناست و، چې ببر سری لاربښود یې بېګاه د ذکر وعبادت لپاره ورننوتلی و. ښکته یې هغه ښار ته کتل، چې په‌کې څو زورورو د خلکو پر ژوند د زبېښاک جال غوړولی و او لکه خونخورې زنځې یې د ښاریانو وینه زبېښله. ناڅاپه د ښکالو غبږ شو، غبږ د مغارې له دننه څخه و، لاروی ځک ودرېده، په حیرانۍ یې خپل لاربښود ته وکتل، چې سترګې یې ځلېږي او موسکا پرشونډو راووت .

لاروی وپوښت : څه وشول، چې دومره ژر راووتلې؟ نورکله خو به دې څلوېښت ورځې په مراقبه تېرولې....

ببرسري لاربښود یې په خبرو کې ورولوېده :

ماته الهام وشو، چې ښار ته ولاړ شم او څلوېښت ورځې د ښاریانو د روایښولو په عبادت بوخت شم. چې د خدای (ج)  د مخلوق د هوساینې او مړښت لپاره څه ونه کړای شو، نو خدای ج ته به څه خدمت وکړو؟

بېشکه چې هغه زموږ له خدمت څخه بې نیازه دی !

راته الهام وشو، چې که د خدای بنده ګان په جګړه، ولږه او جهالت کې وي، زما عبادت به دهغو زورورو وژونکیو د سیاست په شان له ریا څخه ډک وي، چې خپل ښاریان د دین په نامه وژني او د وینو پر رود پاچاهي جوړوي. ماشومان وږي دي، کونډې له پردو ووتلې، ښار له مجبوریته د ګناهونو په ټاپو بدل شو.

عجیبه دا ، چې ګڼ جنایتونه د ( عقیدې ) په نامه کیږي. څلویښت ورځې خواري بويه، چې خلک د وژونکیو، وینه څښونکیو په ظاهره سپین په باطن تورو زهادو په وړاندې راپاڅیږي، هغه دروغجن رهبران، چې ولس‌وژنه د خدای حکم ګڼي او غلا ته ( غنیمت ) وایي. ماته په الهام کې حکم شوی، چې د ښار حکومت هغو بنده ګانو ته وسپارم، چې د ښاریانو د ډوډۍ غم لري او د سیاست مخه او موخه یې په ښار کې د ماشومانو پر شونډو د خوښۍ موسکا خپرول وي .

ببر سری په بېړه د هوارې خواته رهي شو، لاروي ورپسې منډه کړه، خو د لاربښود رفتار تر ده ډېر چټک و.

# يوولسم منزل

# ولې ویره له ځنګله نه؟

دواړه په ځنګله کې روان وو. نا څاپه ببرسرى ودرېد، لاروي ته يې وكتل، كټ كټ خندا يې وكړه، د ده له خندا سره په ونو کې وړې چوغکې والوتلې. لاروي په حيرانتيا وروكتل او لاربښود وويل :

پړانګ د دې لپاره هوسۍ داړي، چې خپله ګېډه مړه کړي، د ځنګله په قانون کې دروغ نه شته، داړونکي ځناور خپل قرباني ته بهانې نه جوړوي، ځان ته دروغ نه وايي، بلکې له ولږې څخه دځانژغورنې لپاره يې خوري. د انسان توپير له داړونکي ځناور سره همدا دى، چې دى بل انسان د سياسي ځواک، ګټې او ځان لوړاوي لپاره خوري، خو د انسان خوړلو لپاره خواړه دروغ وايي : دا ځناور (وژل) مقدس ګڼي، عدالت يې بولي، د جنت د ګټلو لار د ماشومانو د وينو له ګودره باسي، هم ځان تېرباسي او هم خپل چاپېريال د دروغو په خيرو ککړوي .

باخبر !

وينه هم په ښار کې بهيږي او هم په ځنګله کې. په ځنګله کې وينې بهولو ته دځان مړول وايي، خو په ښار کې همدې كار ته سياست .

سياست د بل په وينو د ځان مړول دي، خو په يوه دروغجن تقدس .

په ځنګله کې قرباني له خپل قاتل څخه تښتي او د خلاصون هڅه كوي، خو ښاري قرباني د خپل قاتل غاړې ته د ګلونو هار وراچوي، لاسونه ورته پړكوي او خپل مقدس رهبر يې ګڼي .

ځکه خو ښار تر ځنګله ډېر ګواښمن او ویروونکی دی. که د «ریښتیا» موندنې مقصد نه وای، تر مرګه به همدلته په ځنګله کې دېره وای .

لاروی ژوره ساه وکاږله، له ځنګله څخه ویره یې له زړه ووته. ځنګل ورته د امن کور ښکاره شو.

# دولسم منزل

# ها خدایان،

# چې یې ساتي بندګان

ځنور زلمیان تورې او ټوپک ترملا ډله ډله معبد ته ننوتل، روسته پاخه نارینه او سپین ږیري هم له وسلو سره ورغلل. معبد ورو ورو ډکېده. له زلمکیانو سره هم وسلې وې. ماشومانو ځانونو ته د لرګیو وړې وړې وسلې جوړې کړې وې. ببرسري لاربشود چې خلک له وسلو سره ولیدل، نو دی هم معبد ته ورکوږ شو. لاروی حیران و، خو په خپل لاربشود پسې یې ګامونه چټک کړل. دوی چې ورننوتل، نو د معبد لوی انګړ ډک شوی و، په وروستي کتار کې کېناستل. راهب بر سر ولاړ و چې ببرسری لاربشود او د هغه لاروی یې ولیدل . خلکو ته یې وویل: بېګاه مې خوب لیده چې : زموږ معبد ته به یو لوی انسان راځي، خوب مې ریښتیا شو، نو اې د ورکې «ریښتیا» پلټونکیه لاربشوده! راشه او دې قوم ته نصیحت وکړه !

ببر سری مست ورپاځېده، پرخطابه ودرېده او د وسله والو زړو ځوانانو په سترګو کې یې خپلې زرځې سترګې خښې کړې:

- دا وسلې ولې له ځانه سره ګرځوئ؟

خلکو ورغږ کړل :

- خپل بُتان ساتو، دین مو په خطر کې دی !

ببرسري وخندل:

- ایا ستاسو خدای خپل دین ساتلای نه‌شي ؟

که دین د خدای ګڼئ، نو تاسو ځوک یاست چې هغه به وساتئ؟ ریښتیا خو دا ده چې ستاسو د نفسونو بُتانو ته خطر پېښ دی !

اې خلکو ! تاسو پرخپل دین ځان نه‌دی پوهولای، بلکې تاسو پردین غیرت کوئ !

دین باور دی او باور له پوهې څخه پیدا کیږي ! دین ستاسو تر غیرت ډېر، ستاسو د زړه او ذهن روښانېدو ته اړ دی. پر دین د خپلوخلکو وینې مه‌بهوئ، پر دین خپل تیاره زړونه روښانه کړئ!

تر دې روسته بېرسری او لاروی دواړه له معبد څخه ووتل.

د راهب له سترګو څخه یوه رڼه اوښکه را ورغړېده او خلکو ته یې وویل :

د نن ورځې موعظه همدا وه!

# دیارلسم منزل

# غیرت څه دی؟

# په قانون کې د ځنګلونو

ببرسری لاربښود مخکې او پلټونکی لاروی ورپسې څاښت مهال له یوه ځنګله څخه ووتل او مخامخ په یوه شنه ورشو یې د غره لاره ونیوه .

دوی څو ورځې پرلپسې په ځنګله کې مزل کړی و. د لاروي ګڼې پېښې په یاد وې، خو یوه خونړۍ پېښه یې ډېره سترګو ته درېدله؛ دوی ولیدل، چې یو وړ‌ی زمری په یوې ټپی هوسۍ پسې دی، څو ځلې زمري هوسۍ نېولې او په خپلو تېرو منګولو او غاښونو یې ټپي کړې ده، خو هوسۍ بیاځلې ځان خلاص کړی او په تُنده منډه ترې ځغلي ...

دا مهال ببرسري لاربښود په موسکو شونډو خپل لاروي ته ویلي و، چې دا پېښه په یاد وساتي او بیا به یې په اړه خبرې وکړي .

همدا چې لاربښود و لاروی له ځنګله څخه ووتل، نو لاروي خپل لاربښود وپوښت :

- د زمري غیرت ولې ډېر ستایل کیږي؟

لاربښود ته دا پوښتنه په زړه پورې وه، ویې خندل :

- اول باید وپوښتو، چې دې پېښې ته په پام (غیرت) څنګه پېژنو؟

غیرت د ځواک هغه برید دی، چې موږ هر یوغواړو ویې لرو. د زمري غیرت د هغه په پیاوړو پلو، ځواکمن وجود، تیرو منګولو او ځیرونکو غاښونو کې دی. که د هغه د لوړې په غریزه کې؟

د لوړې غریزه ټول ژوندي موجودات لري. هوسۍ واښه خوري، خو د وښو په خوړولو غیرتي نه ګڼل کیږي. ګل هم د تندې غریزه لري او له خاورې څخه اوبه څښي، خو ګل په ښکلا پېژندل کیږي، نه په غیرت .

زمرى چې هوسۍ ښکاروي، د لوږې لپاره او دا طبيعي خبره ده، نه د غيرت كمال .

لاروي وپوښتل :

- بیا نو ولې زمرى د ځناورو باچا ګڼل کیږي؟

- ځکه تر نورو ځناورو ځواکمن دی .

- ایا ځواکمنتیا غیرت دی؟

- د ځنګله په قانون کې هو .

- نو په بشري قانون کې څه ؟

- په بشري قانون کې ګټور ځواک د غیرت یوه ځانګړنه ګڼلای شو .

هوسۍ تېزه منډه اخلي او تر روستي بریده خپل ځواک د خپل ژوند د ژغورنې لپاره کاروي. د بشري قاعدې له مخې دا تر ټولو ګټوره ځواک‌کارونه ده. هوسۍ خپل ځواک د خپل ژوند د ژغورنې لپاره کاروي او زمرى يې د يوه ژوند د اخيستنې لپاره. د ګټورتيا له مخې د هوسۍ ځواک کارونه غيرت دی، ځکه ژوند ژغوري .

لاروی قانع نه شو .

- مګر زمرى خو هم خپل ځواک د خپل ژوندژغورنې لپاره کاروي، ځکه که ښکار ونه‌کړي مري .

لارښود ووېل :

- همدا د ځنګله او بشري قانون توپېر دی. په ځنګله کې د غريزې خړوبول «ګټه» ده، خو په بشري قوانينو کې  د هر ژوند ژغورل ګټه ده او هر ګټور كار غيرت ګڼل کیږي .

پلټونکي لاروي نورې پوښتنې هم لرلې :

- همنوعي به نه هېرووو، مهمه ده. زمری هم د بل زمري غوښې نه خوري او انسان د پسونو او نورو ژويو غوښې خوري، پرته له دې چې د هغوی ژوند ژغورنه غیرت وګڼي .

د لارښود سترګې وبرېښېدې، وېې خندل :

- هو د ګټورتیا له مخې د غیرت مانا همدلته بدلیږي، ځکه د انساني فکر توان دومره دی، چې په ځای‌ناسته (بدیله) ګټه فکر وکړي .

انسان به یو مهال د لوړې غریزه داسې خړوبوي، چې بل ژوندي موجود ته تاوان پېښ نه کړي او همدا به د انساني غیرت تر ټولو لوړ معراج وي .

لاروي د روستۍ پوښتنې په توګه وپوښتل :

- انسان به دې معراج ته ورسیږي؟

لارښود وخندل :

هو !

انسان څلور څواکونه مجبوروي، چې ځان د ګټور غیرت دغه معراج ته ورسوي :

عاطفه، اخلاق، ګروهه او قانون .

د دې څلورو په اړه به یو مهال هرڅه درته ووایم .

او لاروي بله پوښتنه ونه کړه. مخامخ غر د لمر ځلا ته ښکلی ښکارېده .

# څوارلسم منزل

# له ګاونډه بلا بوته

پر یوه کلي وریښ شول، چې خلک یې د ګاونډیوکلیو له بدماشانو څخه په تنګ ول، ګاونډیو کلیو د دوی اوبه ورڅخه ګرځولې وې، په چینو کې یې ورته ډبرې اچولې وې، د دوی د کلي غواګانې او پیورې وزې یې ورڅخه په زوره وړلې، پادوانان او شپانه یې وروژل او ژوندۍ رمې یې ورڅخه وړلې، د دې کلي کښتونه یې تر پښو لاندې کول او درمندونو ته یې اور اچاوه، کلیوال د ګاونډیو کلیو له بدماشانو خوراپازاب وو. لاروي له لاربښود څخه وپوښتل :

ولې کلیوال د ګاونډیو بدماشانو څه چاره نه کوي ؟

ببرسري وخندل :

د دې بدمرغه کلي ملکانو او اخوندانو د ګاونډیو کلیو بدماشانو ته خپلې لونې ور واده کړي دي، دوی په ګاونډیو کلیو کې کورونه او خېلخانې لري، ملکان وايي د ګاونډیو پیران، راهبان او زیارتونه زورور دي. نو ځکه یې د هغوی بدماشانو ته لورګانې ورکړې دي. د بدماشانو ناروا ته غریب شپانه او خوار کلیوال یوازې پاتې دي .

لاروی یوه شو، چې دا خیبښي ډېره مرګونې ده، له لاربښود څخه یې هیله وکړه، چې په بېړه له دې کلي څخه ووځي .

...خو شاته لا هم له یوه درمند څخه لوګي پورته کېدل.

# پينځلسم منزل

# بې دیواله دروازې او زنځیرونه

غرمه وه، چې د ښار دروازه یې ورته پرانیسته، عجیبه وه، ښار دیوالونه نه درلودل، خو دروازه به یې تر غرمې تړلې وه .

چې ورننوتل، څه ګوري ؟ د دروازې په دالان کې دوه پاسوالان ولاړ دي، تورې یې له تېکو راایستلې او په وینو ککړې، وړاندې ولاړل، چې د ښار په لومړۍ څلورلارې کې یې لوړ کله‌منار ولیده، لاروی وحشت ونیوه، هاخوا لویه ډله خلک په یوې جنازې پسې روان وو، لاروي یو ښاري وپوښت : څوک مړ دی؟ ښاري په پوزخند وویل :

- د ښار (قصاب) !

په کوشنۍ ویاله کې له اوبو سره ګډې وینې بهېدې، هاخوا په یوه لوی واټ کې ګڼې ښځې روانې وې، سرونه یې لوڅ او ببر وو، له خپلو ټیکریو څخه یې جنډې او بیرغونه جوړ کړي وو، په جنډو لیکلي وو :

)موږ د ښځو حقونه غواړو (!

ښځو د حقونو چیغې وهلې او خښمېدلې ښکارېدې...

لاروي ببرسري ته مخ وراړاوه :

دوی څه وايي ؟

ببرسرى لاربښود له خندا په ملا مات شو، له ډېرې خندا څخه یې د ستما په منځ کې ځواب ورکړ :

دوی له هغو نارینه وو څخه ، چې یو په بل پسې تورې ګرځوي، خپل حقونه غواړي .

دا ښځې په هغه ښار کې، چې ( ژوند ) نه شته، ( حق) غواړي !

پوه شه ! چې ( حق ) د ژوندیو خلکو غوښتنه وي، پر مرګ محکوم ولسونه (حق) نه‌شي غوښتلای !

لاروی ښاریانو ته ځیروو، چې ټول دوه برخې شوي وو؛ نارینه د قصاب په جنازې پسې راون وو او ښځینه وو د خپلو  حقونو د غوښتلو چیغې وهلې.

# شپاړسم منزل

# د خیر و شر ترمنځ

# همدا څلور بریدونه

نن لاروی خوشاله و. ببرسري لاربښود ژمنه کړې وه، چې دی به د حکمت داسې یوه ښوونځي ته ورولي، چې هلته د خیر و شر ترمنځ څلور بریدونه وپېژني. لاربښود ورته ویلي و:

- له ځنګله څخه د راوتلو په ورځ مې درسره ژمنه کړې وه، چې د خیر و شر تر منځ څلور بریدونه دروپېژنم. موږ هرڅه په «ښه» او «بد» ، «رڼا» او «تیاره» ، «خیر» و «شر»، «ګټه» یا «تاوان» پېژنو. له زړې زمانې داسې فکر کیږي، چې په انسان کې دا د عقل جوهر دی، چې د دې متضادو څیزونو ترمنځ توپیر کوي، مګر داسې نه ده، عقل انسان ته د « ګټې» و «تاوان» په اړه مخامخ درک وربښلای شي، خو په یوازې سر د خیر و شر ترمنځ د نیاومنې پرېکړې توان وربښلای نه شي .

راځه نوره کیسه به د حکمت ښوونځي له ښوونکي واورې .

لاروی په ډېره تلوسه په خپل لاربښود پسې روان شو. له یوې شنې و سمسورې ورشو څخه واوښتل، چې په یو ښکلي بڼ یې سترګې ولګېدې، په باغ کې ګلونه غوړېدلي و او د سروې شنو ونو سیوري خواره کړي وو. مرغیو سندرې ویلې، ډله ډله پېغلې و زلمیان له خپلو ښوونکیو راتاو وو او د خیر و شر و عقل و ګټورتیا و فیزیک و متافیزیک په اړه یې نوي څه زده کول .

د حکمت د ښوونځي مشر حکيم د ببرسري لاربښود له ورتللو خبر شوی و، په خوښۍ يې د خپل پخواني ملګري هرکلي ته ځان راورساوه او د حکمت د باغ په دروازه کې يې لاربښود او لاروی په غېږ کې ونيول .

درېواړو په باغ کې قدم وهل پيل کړل. لاربښود خپل حيکم ملګري ته وويل :

- لاروی غواړي پوه شي، چې د خير و شر، ښکلا و بدرنګۍ، ښه او بد ترمنځ څلورګوني بريدونه کوم دي؟

حکيم په خوښۍ سره کيسه پيل کړه :

- پخوا پخوا زمانو کې يو سړی خبر شو، چې د ډېرو سرو او سپينو زرو خاوند پانګوال ګاونډی يې ناڅاپه مړ شو او د هغه ښکلې کونډه او اووه کلن ښايسته ماشوم يې د ټولو وړپاتې شتو له ميراث سره په مېنه يوازې پاتې دي. سړي په کور کې يوه تېره توره لرله، لنډپاري عقل ورته وويل :

- ښکلې او ځوانه کونډه مېړه غواړي، که ته ولاړ شې او په دې توره ماشوم ووژنې نو کونډه به درواده کړې او بيا به د دې ټولو شتو خاوند شې ...

سړي توره واخيسته او د ګاونډي کور ته روان شو. لومړی يو پوځي په مخه ورغی. سړي وپوښت :

- څوک يې؟

پوځي ورته وويل :

- زه قانون يم او که ماشوم دې وواژه د قتل په جرم به دې ونيسم .

سړی لږ پښه نيولی شو، خو لا هم په ژمنه ټينګ و. فکر يې وکړ: د سرو او سپينو زرو په مرسته به له قانون څخه ځان پټ کړم. څوګامه روسته يو نوراني سړی په مخه ورغی، ده بيا وپوښت :

- ځوک یې؟

- زه ګروهه (عقیده) یم، که له قانون څخه ځان پټ کړې، نو له ځښتن څخه خو ځان پټولی نه شې. ځښتن به دې د ماشوم په قتل مجازات کړي .

سړی نور هم زړه نازړه شو او له خدایه ویره یې په زړه ورننوتله، مګر فکر یې وکړ: ښايي خدای به مې وبښي. د وړاندې تللو تکل یې وکړ، له لرې یې ښکلی اووه کلن ماشوم ولید، توره یې لاس کې ټینګه کړه، دا مهال یو ښکلی او مهذب سړی په مخه ورغی، ده وپوښت :

- ته ځوک یې؟

- زه اخلاق یم. غواړم دومره درپه یاد کړم، چې که ته د دې ماشوم پرځای وای او یا ستا په ماشومتوب کې چا غوښتی وای، چې په توره دې ووژني، نو تا به څه کول؟

سړی ورپېردېد، په وچویلي یې خوله راښکته شوه او ماشوم ته نږدې ودرېد، تور یې تر شا پټه کړه. څه ګوري، چې ماشوم ډېر ښکلی او معصوم دی، دا مهال یوه ښکلې پېغله راغله او د سړي مخې ته ودرېده :

سړي وپوښتل :

- ځوک یې؟

- زه عاطفه یم. ته باید انسان نه، ان تر یوه ځناوره هم بدتر موجود اوسې، چې د څه ګټې وټې لپاره دا ښکلی او معصوم ماشوم قتل کړې. د هغه سترګو ته ښه وګوره! هغه مهال چې وغواړې ویې وژنې د هغه سترګې به څومره خبرې درته وکړي؟ ښايي ودې‌پوښتي، چې: ولې مې وژنې؟ ما څه ګناه کړې ده؟ تا ته مې څه بد در رسولي دي...

د سړي له لاس څخه توره ولوېدله، په ژړا شو او ماشوم یې په سر ښکل کړ. بېرته راوخوځېد او تر دې روسته یې بدن په دوو برخو وويشل شو :

نیم تیاره و او نیم رڼا، نیمایي بدن یې داسې سپین ځلېده لکه ستوری. د سر ماغزه یې هم نیم تیاره ول، نیم رڼا. نیمه تیاره د ده د هستي هغه برخه وه، چې غوښتل یې د شتمنۍ لپاره قتل وکړي. نیمه رڼا یې هغه هستي وه، چې له دې پېښې څخه په راستنېدلو کې رڼا شوې وه .

نیم تیاره عقل یې د بدۍ پرمهال لاربښوونه کوله، خو نیمایي روښانه عقل یې د بېرته راګرځېدو پرمهال لاره ورروښانوله ...

ښايي حکیم به لا نور هم څه ویل، خو لاروی اوس پوهېدلی و، چې د خیر و شر تر منځ بریدونه همدا څلور دي:

قانون، اخلاق، ګروهه او عاطفه .

# اوولسم منزل

# میرغضب په لویه لاره

په لاره تېریدل، ناڅاپه دوړې شوې، خلک له لارې څنډې ته شول، لاره یې پرېښوده، د لارې دواړو غاړو ته کتار ودرېدل ټول په ملا مات شول او د یوه لوی درناوي لپاره یې ملاوې کړوپې کړې، ځینې ښاریان له ویرې رپېدل .

یو بدرنګه میرغضب پر تور اس راورسېده، توره په لاس اردلیان یې ورپسې وو، ببرسری لارښود او پوښتونکی لاروی یې هک پک ولاړ ول. ناڅاپه بدرنګه سپور ورغبرګ کړ :

- لیونیانو !

ولې تعظیم نه کوئ؟ تاسو نه ګورئ، چې د لوی اتل زوی ( قهرمان ) ستاسو ترمخ ولاړ دی؟

ببرسري کړس کړس وخندل :

- دا څه ډول قهرمان یې، چې لسګونه وسلوال اردلیان درپسې روان دي؟ که ته اتل یې ورشه په خلکو کې یوازې وګرځه اوبیا ترې وپوښته، چې اتلولي دې مني که نه ؟

اتل غوسه شو، ویل :

- ټول ښار زما د راتللو د ښکالو په اوریدو د پاڼو په څېر رپېږي او ته مې لا قهرمان نه ګڼې؟

ببرسري ورغبرګه کړه :

- په ( اتلانو ) باید باور ولرو، له اتلانو څخه نه ښايي وډار شو .

دا ښاریان له تا څخه ویرېږي، خو په اتلولۍ دې باور نه لري .

لاروی پوه شو، چې ښاریان د خپلې ویرې غلامان دي او که نه په ( اتل) کې د باداری بل ارزښت نه شته!

# اتلسم منزل

# هغه دیو چې غره کې ناست دی

لرې یو غر ښکاریده، هسک او سهمناک. غره ته له ویرې څوک نه ورتلل، د هغه په اړه ډېرې افسانې وې. لاروي له ببر سري وپوښتل :

په دې غره کې څه دي؟

لاربښود سترګې پرغره ګنډلې وې :

په دې غره کې د نړۍ ترټولو لوی دیو ناست دی، چې د دونیا لویه خزانه ورسره ده. دا دیو د پانګې دیو دی. دغه غره ته دوه ډوله خلک ورځي؛ ( مغرور پهلوانان) او ( هوښیارسیاستوال).

مغرور پهلوانان له دیو سره د جګړې په نیت ورځي، خو ټول وژل کیږي، لاتر اوسه هېڅ مغرور پهلوان له دې غره څخه ژوندی راستون شوی نه‌دی. خو هر هوښیار سیاستوال له پریمانه سرو او سپینو سره ورڅخه راستنیږي.

دوی چې له غره څخه راشي، نو دومره پانګه یې له ځانه سره راوړې وي، چې د خپلو کلیوالو او ښاریانو ژوند هم پرې جوړکړي. بندونه، ویالې، کورونه او لارې پرې رغوي. خو مغرور پهلوانان هماغلته سر وخوري او ورک شي .

لاروی پوه شو، چې د ده کلیوال به ټول له دې غره سره په سر جنګولو کې تباه شي.

- هی ارمان! چې په دومره کلیوالو مغرورو پهلوانانو کې یې یو هوښیار سیاستوال هم وای .

...او غر لاهم هسک او سهمناک ښکارېده.

# نولسم منزل

# خپلواکي دلته خرڅیږي

د ښار په څلورلارې کې سلګونه ځوانان د کار لپاره راغونډ شوي وو، چې څوک یې بوځي او ټوله ورځ یې ونښیځي او بېګاه ته د ده او د ده د بچو د وچې ډوډۍ پیسې په لاس کې ورکړي، دوی ته یې مزدورکار ویل، هر مزدورکار ته به چې چا د کار وویل، ورمنډه به یې کړه ...

دې نورو به هغه بختور وګاڼه .

لاروي ببرسري ته وویل :

د دې ښار ټولو حاکمانو د ( خپلواکۍ ) نارې وهلې، خو د دوی له برکته ټول ښاریان په مزدورۍ پسې راوتلي دي. د دې ښاریانو په ادبیاتو کې ( مزدوري) بد نوم نه و؟

ببرسري کټ کټ وخندل :

ټول حاکمان هغه څه چې وایي، دهغه پرضد کړنې کوي. ځینو ویل : له فرد څخه د فرد استثمار به ورک کړو، اوس ټول ښاریان په دې پسې ځان وژني، چې څوک یې استثمار کړي. دلته لویه نیکمرغي دا ده، چې ښاریان د چا لپاره استثمار شي .

بل ویل: خلک خپلواکي ته رسوم ! راغی او ولس یې د لوږې غلام کړ .

پوه شه، چې (ولږه) ( مزدوري ) زیږوي .

په دې څلورلارې کې راټول شوي خلک خپله یوه ورځ خپلواکي د دې لپاره پلوري، چې د خپلو بچو ګېډې مړې کړي .

دلته بدمرغي دا نه ده، چې خلک خپله خپلواکي پلوري. تر دې لويه بدمرغي دا ده چې څوک نه پيدا کيږي چې د دوی ( خپلواکي ) ورڅخه وپيري .

دا ولږه ده، چې له ( کارګر) څخه ( مزدور) جوړوي. د کارګر او مزدور توپير دا دی، چې کارګر حقوقي شخصيت لري او مزدور يې نه لري، مزدور ( اسباب ) دی او اسباب خو شخصيت او خپلواکي نه‌شي درلودلای. ښاريان په کار پسې نه دي راوتلي، دوی مزدوري غواړي. کارګر ته د کار خاوند ورځي او مزدورکار په کاروالا پسې ګرځي .

سياستوالو د مزدورانو د خپلواکۍ دروغجنې چيغې ووهلې، خو د مزدورانو د ګېډو د مړولو په اړه يې هېڅ ونه ويل، د دې ښار سياستوالو ( ولږه ) نه پېژندله، دوی د ( ولږې ) د پېژندلو ( سواد ) نه درلوده .

په هغه ښار کې چې بېسوادان سياست کوي، خلک يې خپله ( خپلواکي) په بازار کې پلوري .

او لاروی د ښار خلک ليدل، چې لاهم په مزدورۍ پسې منډې وهي.

# شلم منزل

# «غم‌اباد» په څه اباد دی؟

پسرلی و، چې ( غم‌اباد) ته ننوتل، خلکو څوړ سرونه اچولي وو، د ماشومانو خندل هېر شوي وو، ښځو سینګار نه کاوه او د نارینه وو څېرې له غوسې پړسېدلې وې.

لاروي یو ښاري وپوښت:

- د دې ښار خلک ولې خپه دي؟

ښاري ځواب ورکړ :

- دا د راهب امر دی، راهب وايي، چې خدای امر کړی، چې په دې ښار کې خوښي حرامه ده. خندا ګناه او سینګار و ښکلا کفر دي .

پخپله راهب په ښکلي کور کې اوسي، ګڼې ښځې او مینځې لري، دوی ته یې لوی سینګارتون جوړ کړی دی، د ښار سندرغاړې د شپې له خوا په پټه راهب ته سندرې وايي او زوړ راهب په خپله بریره کې ښکلي ګلان او د سرو او سپینو زرو ګونګرې اچولې دي. راهب چې سندرو ته سر وښوروي، نو د ګونګرو شرنګا پورته شي .

راهب د ښاریانو زمکې او شته ورخپل کړي وو.

راهب ویل :

- دا د خدای امر دی، چې د ګنهکارو ښاریانو شته باید د راهب شي. یوازې راهب د خوشالۍ حق لري، ځکه دا حق خدای ورکړی دی او خدای چې چاته څه ورکړي، نو په دې کې خو د اعتراض ځای نه شته .

ببرسري او لاروي د ښاري خبرې واوريدې، لارښود يوه ترخه خندا وکړه او لاروي ته يې وويل :

پوه شه، چې د دې ښار خلک د خپل دين له حقيقته خبر نه‌دي ، تر هغو چې دوی د دين اواز د راهب په ږيره کې د زرينو ګونګريو له شرنګا څخه اوري، پر دوی هره خوشالي حرامه ده .

او لاروی لاهم نه پوهېده، چې ښاريانو ته څنګه د خوشاليو لار وروښيي.

# يويشتم منزل

# هغه غله چې يې پلورلې خپلې سپړې

په کاروان کې روان وو. له دښتې تېرېدل، دښتې غله پرې برابر شول. غلو پر کاروانيانو خپلې سپړې وپلورلې او ويې ويل:

- دا سپړې له ځانه سره وساتئ! په کار به مو شي .

لوټ شوی کاروان روان شو، لاروي له لارښود څخه وپوښتل :

د غلو او سپړو راز څه دی ؟

ببر سري وخندل، کټ کټ په ملا مات شو :

پوه شه، چې ژر به همدا غله پر دې قوم واکمن شي. کاروانيان به ورته د دروغجن درناوي سرونه ټيټ کړي او هر چا چې ډېرې سپړې له ځانه سره ساتلې وې، له خزانې څخه به هماغومره زر وګټي او په سلطنت کې به بر ځای ولري .

هغه قوم چې غله پرې خپلې سپړې پلوري، خپل مشران د سپړو د شمېر پر بنسټ ټاکي .

د سپړنو سلطنت به د بنيادمانو په تاريخ کې يو ځانګړی باب وي .

...او لاروی يو کارواني وليده، چې په پوره پام يې څو دانې سپړې په خپله هميانۍ کې خوندي کړې.

# دوه ویشتم منزل

# چې بُتان يې ماتول، خپله بُتان شول

ماښام و، چې د بُت ماتوونکیو هېواد ته ورسېدل. د دې هېواد خلک مشهور وو، چې د ختېو بُتان يې مات کړي دي. د بُت ماتوونکیو مشران اوس پخپله په کاغذي بُتانو بدل شوي وو. خلکو بُتان مات کړي وو، خو بُت پرستي يې نه وه پرېښې. د بُت شکنانو د لښکرو مشرانو، چې ختېن بُتان مات کړي وو، اوس يې ځانونه په لویو لویو بُتانو بدل کړي وو او خلک يې خپلې لمانځنې ته په زور اړ ایستل .

لاروي د ببر سري لارښود حیرت د هغه په سترګو کې ولوست، پوښتنه يې ونه کړه، خو د لارښود په موسکو شونډو يې د خپلې پوښتنې داسې چوپه زمزمه ولوسته، لکه له ځان سره چې خبرې کوي :

تر بُت ماتولو، د بُت پرستۍ د فکر پرېښول مهم دي. هغه قوم، چې د انسانانو د ژوند د شرایطو د ښېګڼې شعور په سیاست او فرهنګ کې د اصلي محور په توګه ونه مني، له بُت پرستۍ به ځان خلاص نه‌کړای‌شي.

# درویشتم منزل

## راته وایه پوهه څه ده؟

لاروی لمر ته ځیر و او یو لاس یې په سترګو سیوری نیولی و.  لاربښود چې ولید ورته وېخندل:

- د لمر وجود حقیقت دی، له دغه حقیقت څخه ستا درک ستا پوهه ده، په سترګو ستا د لاس سیوری ستا عقلاني – غریزي غبرګون دی. البته ښایي ستا پوهه د ټول حقیقت په اندازه پراخه او هراړخیزه نه وي، خو پوهه نوې کېدونکې او پراخېدونکې ده. له لمر څخه ګټه اخیستل د هغه په اړه ستا د پوهې په اندازه ده او د هغه په وړاندې ستا اختیار تر هغو بریدونو پورې پراخ دی، چې ته پرې پوهېږې. تر دې بهر ته د لمر په وړاندې مجبور یې .

د لمر حقیقت دا دی، چې هغومره رڼا و تودوخه درکوي چې ته یې د خپلې پوهې په مټ ترې غوښتلای شې.  پوهان وايي چې لمر هغه ناولتیا او جراثیم و ژني، چې انسان ته ناروغۍ ورپېښوي، ته چې دغه ناولتیا و جراثیم پېژنې، نو د لمر په دې ګټه خبرېدلای شې، دا ګټه ستا د پوهې تر بریده تا ته رسیږي .

لاروی د خپل ببرسري دغو ځرګندونو حیران کړ، د پوهې په اړه یې تلوسه لا زیاته شوه. ناڅاپه یې وپوښتل :

- اورېدلي مې دي، چې پخوا پخوا زمانو کې داسې ولسونه هم وو، چې لمر یې پرښته ( عبادت یې ورته کاوه) دوی د شمش (شمس) په نامه خدایګوتی درلود، چې د لمر په معبد کې یې د هغه بُت جوړ کړی و او پرښتنه یې کوله. ایا دغو ولسونو د لمر په اړه ډېره پوهه لرله؟

لاربښود ځواب ورکړ :

- هغو ولسونو د لمر رڼا او تودوخه ولیده او د هغه لمانځنه یې پیل کړه، د هغوی لپاره لمر تر هرڅه پیاوړی، روښانونکی او ژغورونکی ځواک و. خو هرکله چې دوی د لمر پرښتنه پیل کړه او هغه یې مقدس وګاڼه د لمر په اړه یې د پوهې د پراختیا او نوي کېدو مخه ډب کړه. ګروهه یا عقیده د یو څه په اړه د پوهېدو مخه ځکه نیسي، چې ګروهمن انسانان د خپل خدایګوټي په اړه بدلون منلای نه شي. هرڅه چې جوهر یې بدلیږي، خامخا زوال لري او ګروهمن انسانان د خپل خدایګوټي کمال و وجود تل ثابت ګڼي. د لمرپرښتونکیو پوهه د لمر په اړه په څو زره کاله مخکې زمانه کې ولاړه پاتې ده، خو د نورو خلکو پوهه نننۍ ده او ښايي سبا یا په لرې راتلونکي کې د لمر په اړه پوهه نوره هم پراخه شي او د راتلونکیو زمانو انسانان د لمر په اړه تر موږ په زیاتو څېزونو پوه شي .

پوهه د تیارو رڼېدل دي، ګټه یې عامه ده او وجود یې سیال او بهېدونی دی، ولاړ نه دی. هغه «علم» چې په پخوانیو زمانو کې ولاړ پاتې وي یا زړې افسانې و روایتونه دي او یا هم د لرغونیو زمانو د خلکو ګروهې. هغه څه چې د نننۍ انسان له درک سره سمه ګټه وررسوي او سبا ته یې له درک سره د ګټې اړخونه لا پسې پراخیږي، پوهه ده .

لاروی یوځل بیا لمر ته ځیر شو، سترګې یې وبرېښېدې او احساس یې وکړ، چې دا ځل لمر نور هم تود او روڼ ورته ښکاري .

# څلورویشتم منزل

# ړوند ایمان د ژوند قاتل شو

ښار رنګ و، چیني وچې او لارې شاړې. د پاچا ماڼۍ هم کنډواله وه او د پښ دوکان هم ویجاړ پروت و. تنرونه ساړه و او په شکریو کې ډوډۍ نه وه. خو د ښار په منځ کې لوی مزدک ( معبد) لا ودان و.

څو متور ځوانان تر مزدکه راتاو وو او د هغه ساتنه یې کوله. د مزدک د راهب امر ته یې غاړې کړې نیولې وې. لاروي حال وپوښت او ببر سری وموسېد :

- دا هغه قوم دی، چې له دوښمنانو څخه یې یوازې خپل مزدک وساته او هېواد یې بایلوده.ځوانان د مزدک ساتلو ته راټول شول او ژوند پای ته ورسېده، ماشومان خښ شول او مېرمنې له ولږې په هدیرو ننوتلې، ساتونکیو ځوانانو د مړوشویو انسانانو غوښې خوړلې او د مزدک ساتنه یې کوله. اوس هره ورځ همدا ځوانان راټولیږي، پچه اچوي او چې د هرچا په نامه وختله نو خپل هماغه ملګری قرباني کوي، غوښې یې ویشي او ګېډې پرې مړوي . بیا نو ترسبا پورې د مزدک ساتنه کوي .

لاروی نور هم حیران شو:

- ایا د مزدک ساتنه په دومره بدمرغۍ ارزي؟

لارښود ځواب ورکړ :

- چې دوښمن د ښار تر دیوالونو راورسېده، پښ وویل :

- هېواد او د ښاریانو ژوند ته ګواښ پېښ دی، ژوند وژغورئ!

خلکو دهغه خبره وانه وریده.

خو کله چې راهب وویل :

- مزدک په خطر کې دی، وېې ژغورئ!

خلکو هېواد هېر کړ او د مزدک ساتنې ته یې وسله پورته کړه. ښايي دوی نه پوهېدل چې که ژوند او هېواد نه وي، نو نه به مزدک وي، نه راهب .

لاروی پوه شو، چې د مزدک وروستی ساتونکی ځوان به هم د راهب خوراک شي او ترهغه روسته به د راهب او مزدک وروستۍ ورځ راورسیږي.

# پینځه‌ویشتم منزل

# اووه بُتان اووه یې لښکرې

له یوه ښاري څخه یې واورېدل، چې پخوا په دې ښار کې اووه لښکرونه وو، چې اوس یې مشران یا مړه دي او یا هم په لویو ماڼیو کې د مرګ په تمه ناست دي. د ښار ځوانانو د همدغو اوو لښکرمشرانو خټین بُتان تراشلي او لیکه لیکه ورته ولاړ وي .

غمیزه د دغو لښکر مشرانو لمانځنه نه ده، د خواشینۍ ځای دا دی، چې د ښار زلمیان د مړوشویو یا مرګ ته په تمه لښکر مشرانو په ستاینو او غندنو یو له بل سره لاس او ګریوان دي، هره ورځ یو د بل په وینو رنګ وي او د لښکر مشرانو پر سر یو د بل له ګېډو کولمې راباسي .

لاروي ببرسری وپوښت :

- د دې طلسم راز څه دی؟

لاربښود وویل :

- ځوانان بل ( ارزښت) نه پېژني چې پرې راټول شي. مړه یا مرګ ته په تمه لښکر مشران یوازیني محورونه دي، چې دوی یې په نومونو راټول شوي دي او دغلا - غدۍ ملګرتیا یې جوړه کړې ده .

لاروي بیا وپوښتل :

- دا خلک به نو څوک له دې غفلته راپاڅوي؟

ببرسري کړس کړس وخندل :

- هوښيار ځوانان بويه، چې دوی خبر کړي: «مړه او ژوندي لښکر مشران د تاريخ په هديروکې خښ دي. د ښار د ښې نن او سبا لپاره سره يوشئ ! هم به يو د بل له څيرلو خلاص شئ او هم د لښکر مشرانو د ختېنو بُتانو له لمانځنې »

خو داسي به ترهغو ونه‌شي، چې زلميان د لښکرمشرانو له لمانځنې ډوډۍ خوري او يا هم هغوی د خپلې عقيدې مشران ګڼي .

لاروی لا نه وقانع شوی :

- نو لارښوده !

که ولړه له منځه ولاړه شي، ايا زلميان به راپه خود شي؟

لارښود لاهم خندل :

- هو، خو پوه شه ! چې د روح او سترګو ولړه د ګېډې تر ولړې ژوره او عقل توږونکې ده. د ښار د زلميانو د ګېډې ترځنګ د هغوی شعور او روح ته روزي ورکول بويه، نو ايله د لښکرمشرانو له لمانځنې لاس واخلي .

او لاروی نن درې سره ولړې وپېژندلې.

# شپږویشتم منزل

# نه په کلي کې مېږه شته

# نه کندوانو کې اوړه

د شاړو پټیو او ویجاړو ویالو له اړخه تېر شول. هیڅا غنم نه وو کرلي، سیند ویالو ته اوبه نه ورکولې، د قولبې زغ او سپاره یوې خواته پراته وو او قولبه یې غوایان د ښار قصاب مخکې کړي وو. د کلا شاو خوا پر ټوله هواره زمکه یوه ونه هم نه وه ولاړه، غله دانه ورکه وه، پیورې غواګانې هم د قصاب ترچړې ورغلې وې او شپنو د وزو، مېږو او ورغومیو رمې نه پوولې، کلي تشېدل او کلیوال، بزګران، شپانه ان ژرندهګړي او ملایان، باغوانان او میراوان د ډبرینې کلا خواته روان وو. د ډبرینې کلا دروازو ته په زرګونو خلک ولاړوو، کلیوالو ډبرینې کلا ته ځان وررساوه او په ډبرینې کلاکې د دومره خلکو لپاره ځای نه و .

لاروي وپوښتل :

- یا روښانه لارښوده !

دا خلک ولې ټول د کلا خواته روان دي؟

لارښود د حیرانۍ خندا ته بډوډي نیولي وو :

- کلیوال خبر شوي، چې په کلاکې د پاچاهۍ بوډا میرزا مړ شوی دی او پاچا نوی میرزا ټاکي، ټول خلک غواړي د میرزا ځایناستي شي، دا څووم کال دی، چې د میرزا پر منصب شخړه ده، پاچا هم حیران دی، چې په دومره خلکو کې څوک وټاکي؟

کلیوالو خپلې زمکې، غوایان، زغ و سپارې، بېلونه او څپرونه وپلورل، په کلا کې یې د پاچا وزیرانو او ندیمانو ته سود، سوغات او بډې برابرې کړې، خو لاهم میرزا ټاکل شوی نه‌دی ...

لاروي ته هم خندا ورغله او ایله پوه شو، چې نن وي که سبا، د پاچا په کندوانو کې به هم غله و دانه خلاصه شي، بیا به نه میرزا په کار وي او نه وزیر، ځکه په ولږه خو پاچاهي نه کیږي.

# اووه ویشتم منزل

# د لمدو به څه لامده شي؟!

داسې یوه ښار ته ورسېدل، چې له بهرنیو سره د ډېرو جګړو له امله وران ویجاړ پروت و، یوه ښاري ورته وویل :

- هر کال یو نه یو پردی راشي او ښار ونیسي، ښاریان ووژني او هرڅه لوټ کړي، ودانۍ ویجاړې او د وینو تر ویالو بهولو روسته په خپله مخه ولاړ شي. چې د اسونو ګردونه یې پرزمکه کیني، نو ښاریان خوشاله شي، څټونه کاږه ونیسي او یو بل ته ووایي: دا دی یو بل مو هم وواهه او وشاړه!

لاروی حیران شو، خپل ببرسری لاربښود یې وپوښت :

- زما لاربښوده!

د دې خلکو له حاله مې خبرکړه !

لاربښود دا ځل هم په کټ کټ وخندل او ځواب یې ورکړ :

- دا قوم له عقل څخه د کار اخیستلو په راز نه‌پوهیږي، ځکه په دې ښار کې د مشرۍ معیار وهل او رټل دي، هر زورور پر هر کمزوري وربلوسي. د پردیو زورورو همدا میراث دوی ته ورپاتې دی .

دا قوم یوازې هغه ورځې لمانځي، چې پردي تر لوټ او وژنو روسته له ښاره ووځي. دوی هېڅکله د هغو ورځو په ارزښت نه پوهیږي، چې په هغو کې باید د ښار دیوالونه لوړ کړي، د ښار دروازې پخې جوړې کړي او هرکال د هر پردي له راتللو او ښارنیولو مخه ونیسي .

د دې ښار د اوسيدونکيو هرڅه په مېټو کې دي، په سرونو کې يې څه نه شته، دوى لا په دې نه پوهيږي، چې له دوښمنانو څخه تلپاتې خلاصون د ( سرونو ) کار دى او مېتې يوازې د دې لپاره دي، چې کندوان له غنمو او دسترخوان له ډوډۍ ډک کړاى شي.

پېړۍ تېرې شوې، خو دا ښاريان پوه نه شول، چې ځواکمن، پياوړي، ودان او ماړه ښارونه هيڅوک نيولاى نه‌شي .

لاروي ګامونه تيز کړل، ښايي د کوم بل پردي يرغلګر د اسونو د پښو اواز يې ترغوږه شوى و.

# اته‌ویشتم منزل

# نرواکۍ ځپلی ښار دی

د ښار په دروازه کې د یوه قهرجن سپور پژه ( مجسمه ) ولاړه وه، له تورې ډبرې څخه د دغې توږل شوې ځېرې کرکه ښندله، ښار د ټنګ ټونګ له غږه ډک و، لاروی ولیدل، چې په ټولو هټیو کې د جګړې سامان جوړیږي، څوک توره تېره کوي او څوک له وسپنو زغرې اوبي. نارینه بړوس او قهرجن دي، په ښار کې د ماشومانو او ښځینه و غږ نه شته ...

لاروي ته یو بل ښار ورپه یاد شو، هلته چې ورننوتل، نو د ښار پردروازه له سپینو مرمرو جوړه یوه دنګه ښکلې پېغله ولاړه وه، په یوه لاس کې یې د ګلانو ګېډۍ وه او په بل لاس کې له نیولي منګي څخه یې فوارې اوبه بهولې، ښار د ماشومانو له مستیو او خندا ګانوډک و. پر مینځل شویو واټونو ښځې بې پروا ګرځېدلې، هره خوا ګلان غوړېدلي وو، څو هیلیو د ښار په شنه ډنډ کې لمبل، د نارینه و ځېرې له خندا ډکې وې ...

لاروی خپل لارښود وپوښت :

- لارښوده!

دا ښار ولې داسې بړوس او غمجن دی؟

ببرسري لرې تور غره ته کتل، و یې موسل اوځواب یې ورکړ :

- دلته ښځې یوازې پوځیان زیږوي، د پوځیانو میندې د وسلوالو د زیږولو ژرندې دي، په دې ښار کې ښځې ژوند نه کوي، بلکې دلته ښځې په مرګ محکومې دي. دلته په کور کې خور ومور د شرم و پیغور نښې ګڼل کیږي .

دلته نارینه بل نارینه ووژني او په تاوان کې بیا یوه ښځمنه ورکړي. ښځې لا بشپړې انسانانې نه ګڼل کیږي .

دا یو مذکر ښار دی، په مذکر ښار کې که ښځه ولیدل شي، نارینه یې په سترګو خوري او د ژبې په زهرو یې څټي، دلته میندو او خویندو، معشوقو او مېرمنو ته اجازه نه‌شته، چې خپلو نارینه و ته مینه ورزده کړي، عاطفه وروښيي او زړه سوی په کې وروزي .

په مذکرو ښارونو کې مینه او عاطفه څوک نه پیژني، دلته یوازې د مرګ ژوبلې وسلې د نارینه وو ګاڼه ګڼل کیږي .

مذکر ښارونه انساني ښارونه نه‌دي، په انساني ښارونو کې د ښځو سپین مړوندونه، د لونګو کوشنۍ مټې او د خویندو نیازبین لاسونه د نارینه وو دغاړو هار وي، نه تورې او زغرې ...

لاروی ایله پوه شو، چې :

- په مذکرو ښارونو کې نارینه له خپلو زغرو او تورو سره ژوند کوي، خو په انساني ښارونو کې انسانان د میندو له الاهو سره رالویږي، د خویندو له اکوبکو سره ژوند کوي، د معشوقو له کټ کټ خندا سره سړي کیږي او د خپلو مېرمنو له مینې سره زړیږي .

هو په مذکرو ښارونو کې نارینه او په انساني ښارونو کې انسانان اوسیږي.

# نهه‌ویشتم منزل

# دا منم چې ته پاچا شوې،

# خو د چا شوې؟

په دښته کې نرۍ لاره د ښار دروازې ته ورغځېدلې وه، لاروی او ببرسری لاربښود يې ښار ته روان وو، چې ناڅاپه لوی لښکر ورننږدې شو، د لښکر مشر يو لوی ميرغضب و، له قهارو سترګو څخه يې وينې توېيدې، لښکريانو تورې، نيزې او غشي نېغ نيولي وو، لاربښود له لښکر مشر څخه وپوښتل:

- چيرته ځۍ ؟

قهار وژونکي ځواب ورکړ :

- ورځو، چې د دې ښار ټول وګړي ووژنو، دوی زموږ واک نه مني .

ببر سري کټ کټ وخندل :

- چې ټول ووژنۍ، نو بيا به خپل واک په چا ومنۍ؟

دومره ځوک خو ژوندي پرېږدۍ، چې ستاسو واکمني پرې جوړه شي!

لاروی هم موسک شو او ايله يې په دغه راز سرخلاص شو، چې پاچاهي په ژونديو کيږي، نه په هديرو!

# دیرشم منزل

# هم ماتم دی، هم نڅاوې په دې ښار کې

ښار نیم ودان و او نیم وران. چې ماښام شو، د ښار په ودانه برخه کې د ساز وسرود غږ شو، په میخانو کې رڼا ګانې بلې شوې، په کوڅو کې ځینو ښاریانو نڅا پیل کړه، خود نیمايي وران ښار دخلکو د ژړاوو غږ پورته شو. ښځو په کریغو کریغو ژړل او نارینه وو خپلې ږیرې شکولې. عجیبه وه، یو ښار و، خو نیمو ښاریانو ګډل او سازونه یې غږول، نیمايي نورو ماتم نیولی و او کریغې یې وهلې. د نیم وران ښار ماشومان کوڅو ته راوتلي وو، د نیمايي ودان ښار جشن ته یې خولې خلاصې پاتې وې، دا ماشومان وږي وو او د جشن له سیمې څخه د کبابونو او پخو چرګانو بوی دوی ته عجیب ایسېده .

لاروي خپل ببرسرې لاربښود وپوښت:

- یا لاربښوده دا څه راز دی؟

لاربښود کړس کړس وخندل، په ملا کوږ وږ شو :

- کلونه وړاندې د اوسني ودان ښار خلک د اوسني نیمايي وران ښار د اوسیدونکو له لاسه له ښاره وتلي وو، پردیو ورته وسلې ورکړې او په ښار راننوتل، بیا یې نو له نیمايي ښار څخه کسات پیل کړ، وېې وژل، لوټ یې کړل او بې عفته یې کړل. د دوی هرڅه یې راوړل او دلته یې پرې ځانونو ته مانۍ ودانې کړلې. دوی پر همدغې ورځ په ښار راننوتلي وو، پرهمدې ورځ یې لوټ او وژنې پیل کړې وې، همدا ورځ د لوټمارو د ابادۍ او مړښت د پیل ورځ وه. هغه ورځ چې ورور د خپل ورور وینه توی کړه او د تره زوی د خپل تربور کور لوټ کړ .

بس له هماغې ورځې راهیسې نیم ودان ښار جشن نیسي او نیم وران ښار ماتم. دا د دوی د هرکال عادت دی. د ودانو ماڼیو اوسیدونکي د خپلې سوبې جشن نیسي او د نیم وران ښار ورړي ښاریان د خپلې تباهۍ کالیزې ته ژاړي. د ماڼیو اوسیدونکي د کنډوالو خلک کافر ګڼي او د کنډوالو غمځپلي د ماڼیو اوسیدونکي غله، قاتلان او د پردیو غلامان بولي .

د ښار دواړه برخې ټول کال لګیا وي، نیمايي جشن ته او نیمايي نور ماتم ته ځان چمتو کوي، د دغو ښاریانو ټول عمر په همدې ناندریو کې تیریږي، هېڅوک د ښار د راتلونکې لپاره څه نه کوي.

دا ښار د جشنونو او ماتمونو ښار نومیږي.

# يوديرشم منزل

# هغه ښار چې په تيارو باندې ودان و

ماښام تېر و، چې د تيارو ښار ( تاريک‌اباد) ته ورننوتل، ښار ټول تياره و. په کورونو کې څراغونه نه‌ښکارېدل. دلته د سپوږمۍ رڼا هم نه وه، سپوږمۍ له دې ښاره په غلا تېرېده او په اسمان کې ستوري هم بخيل ښکارېدل، ښايي نه يې غوښتل دې ښار ته رڼا ورکړي .

لاروی وپوښتل :

- لاربښوده ! کوربان دې شم، د دې ښار قسمت يې ولې په تيارو ليکلی؟

ببرسري وخندل، په تياره کې يې سترګې وځلېدې او ځواب يې ورکړ :

- د دې ښار اوسېدونکي د خپلو څراغونو د روښانولو اراده او پوهه نه لري. کلونه وړاندې يې له ګاونډيو ښارونو څخه رڼا د زرينو سکو په بيه اخيستله، ګاونډيو خپله رڼا پر دغو ښاريانو خورا ګرانه پلورله، نيمې پيسې يې په خپله خزانه کې اچولې او نيمې نورې يې په دې لګولې، چې د دې ښار اوسېدونکی د خپلو څراغونو د بلولو پوهه هېڅکله ورخپله نه کړي، ګاونډيو د دې ښار اخوندانو ته پيسې ومنلې، چې د خپلو (څراغونو روښانول ) ناروا وګڼي او له ګاونډيو څخه د ( رڼا ) ګدايي ته ثواب ووايي .

ښاريانو له ګاونډيو څخه رڼا په بيه اخيستله او د زرو سکې يې ورکولې، د تيارو د ښار زوروړو به رڼا وړيا غوښته او د غريبو ښاريانو د رڼا په حق يې خېټه اچوله، د ښاريانو زرينې سکې ورو ورو خلاصېدې او نور نو په ښار کې د رڼا اخيستلو لپاره

زر پاتې نه شول، بیا نو ښاریان د ګاونډیو پر رڼا سره ونښتل او پر پردۍ رڼا یې یو د بل سرونه مات کړل، خو هیچا دوی ته د خپلو څراغونو د روښانولو چل ورو نه‌ښود. کلونه کلونه کیږي، چې د تیارو د ښار اوسېدونکي د پردۍ رڼا پر سر یو له بل سره دوښمن دي او ښار همداسې تیاره دی .

لاروی د ( تاریک‌اباد) په هره څنډه کې بهانده رڼا ولیدله چې څنګه په پټه له دې ښار څخه وځي او د ګاونډیو ښارونو کورونه، کوڅې او ذهنونه روښانوي، خو تاریک‌اباد لا هم تیاره دی.

# دوه‌دېرشم منزل

# ډوبېدل ستا په قسمت دي،

# زه يې وينم

توپان چيغې وهلې، د سمندر اوبو له بېړۍ سره پهلواني کوله. توند باد د څپو پر سر راپورته شوي څاڅکي د مساپرو پر مخونو ورشيندل. بېړۍ، لکه په شرابو نشه پېغله، کاواکه يوې خوا بلې خوا ته کرېده. اسمان تورو وريځو پوښلی و او د بېړۍ د لرګيو خرپا ختله، توپان به يو ځل هووو کړ او بېړۍ به په څپو وروختله ....

په بېړۍ کې دننه مساپر په ډلو ډلو سره ويشل شوي وو، هر چا خپل قوميان او د خپلې ژبې ويونکي سره راغونډ کړي وو، يوه قوم بل ته ويل :

- د بېړۍ هغه اړخ چې موږ په کې اوسو بايد ټينګ شي، نود بېړۍ د هغې بلې څنډې تختو ته اړتيا شته، موږ ورځو چې تختې رابېلې کړو.

دوهم قوم ورته په غوسه وويل :

- موږ به هېڅکله پرې نه ږدو، چې زموږ برخه تختې رابيلې کړئ، دا برخه تختې زموږ دي .

درېيم قوم ويل:

- په بېړۍ کې زموږ ځای سم نه‌دی، زموږ شمېر زيات او ځای مو تنګ دی، موږ ته نور ځای راکړئ او که نه دبېړۍ دا برخه به ماته کړو .

څلورم قوم ويل:

- زموږ د ماشومانو ساړه کيږي، موږ به د خپلې برخې لرګينې تختې رابېلې کړو، چې اور پرې بل کړو او که نه ماشومان به مو يخني ووهي....

له مساپرو څخه هرې ډلې چيغې وهلې، سوکان يې اسمان ته پورته کړي وو او بله ډله يې ګواښله، د ځينو ډلو مشران لا له پخوا څخه سره لاس او ګريوان شوي وو....

لاروی وارخطا و، پوهېده، چې که هرډله تختو ته لاس واچوي، نو د سمندر د څپو غرونه به په بېړۍ راننوځي او هر څه به د سمندر ګېډې ته ورننباسي. د خپل بېرسري لارښود لمنه يې ونيوله :

- زما لارښوده !

راورسېږه ! دا څه وينم؟

لارښود کټ کټ وخندل، د خندا له لاسه لکه توپان وهلې بېړۍ کوږ وږ شو :

- دا خلک دا بېړۍ خپله نه بولي، يوازې هغه برخه خپله بولي، چې په کې سپاره دي. د دوی شعور لا دومره نه‌دی، چې پوه يې کړي؛ د بېړۍ ماته او ډوبېدا به دوی ټول ډوب کړي. دوی لا د دې پوهه نه‌لري، چې ټوله بېړۍ ژغورل بويه، نه د بېړۍ يو کونج .

او لاروی پوه شو، چې:

. ګواښ په توپان کې نه، بلکې د مساپرو په ذهنونو کې دی .

.کمزورتيا په بېړۍ کې نه، بلکې د بېړۍ والو په پوهه، ګډه اراده او ګډ شعور و عمل کې ده .

. او خطر په سمندر کې نه، بلکې د بېړۍ د مساپرو په ځانځانۍ کې دی.

# دريدېرشم منزل

# یو سفر د طلسمونو تر درشله

ویروونکې دره وه، دواړو لوریو ته یې غرونو سرونه هسک کړي وو، د غرونو ترمنځ سیند په غوسه غړمبېده، پاس خونړیو ګوربتانو زمکې ته سترګې نیولې وې او په ښکار پسې ګرځېدل، دغو ګوربتانو  یوازې د بنیادمانو غوښه خوړله. د پړانګانو پلونه هم پر ډېرو ښکارېدل، لکه څوشیبې مخکې یې چې څوک داړلي وي. لاروی په خپل ببرسري لاربښود پسې روان و، په دره کې ځای ځای د تورو مغارو ترمخ نارینه بنیادمان ناست ښکارېدل له چا سره تېرې تورې وې او له چا سره هم نیزې، دغو انسانانو لاربښود او د هغه وېریدلي لاروي ته په شک کتل، د لاروي ویره شیبه په شیبه زیاتېده :

- زما لاربښوده !

دا کوم ځای ته راغلو؟ په دې خونړۍ دره کې خو هرڅه د مرګ بوی لري، هرڅه د وژلو تکل او هره شېبه د قتل لحظه ښکاري؟

ببرسری لاربښود ډاډه و، ویې خندل، کټ کټ یې په دره کې انګازې وکړې :

- دا د امپراتورانو د مرګ دره ده !  د نړۍ د ځواکونو هدېره ! دلته هرڅوک چې په زور راشي، وژل کیږي.  دا خلک خپل حاکمان هم وژني. د دې درې د اوسېدونکیو زورور نه خوښیږي. پړانګان، بازان او لیوان خو یې لاخه چې سیند او غر یې هم داړل کوي، دې درې ته په زور راغلي ژوندی نهشي وتلای، خو هر زورور او هر غل دې درې ته یوازې په چل او شیطاني طلسمونو راتللای شي. د دې درې تاوتریخجن خلک ډېر ساده او بېخبره دي. غله او لوټمار چې په چینګو داړو ورته راشي نو دوی د خپلو مېرمنو جامې هم وروبښي. چې څوک یې د دین په

نامه په قتل پسې راشي نو دوی غاړې ورته کېږدي او چې څوک یې د مېړانې غورې او باتې ورته وکړي، نو دوی خپل شته ور وبښي. د دغو بنیادمانو ماشومان او ښځې نه خوښیږي .

دوی له زده کړې څخه کرکه لري، دوی له هیچا د کورونو د جوړولو سبق نه اخلي او لاهم د غره په مغارو کې اوسیږي.  بس خپل هرڅه ورته تر ټولو ښه ښکاري. لاتراوسه له وسلو سره ژوند کوي، د ژویو په څرمنو بدنونه پټوي او خوراک یې د ځناورو غوښې دي، که ځناور ونه مومي، نو د خپلو وروڼو او ترېرونو غوښې هم خوري .

راځه !

مه ویرېږه!

ما و تا د شیخۍ جامې اغوستي، دوی شیخانو ته څه نه وایي .

لاروی حیران و او د لومړي ځل لپاره یې خپلو جامو ته په قدر وکتل، پوه شو، چې نن، د شیخۍ جامو د ده ژوند ژغورلی دی.

# څلوردېرشم منزل

# بد تربور، بده یې غوښه

د سرېخوروکلي ته ورسېدل، لاروي هديره وليدله، ويې پوښتل :

- که دا د سرېخوروکلی دی، نو دا قبرونه د چا دي؟

يوه کليوال ځواب ورکړ :

- موږ د خپلو تربرونو د مړيو غوښې خورو او هډوکي يې په خورا درناوي خاوروته سپارو .

- يوازې د تربرونو ؟

- هو! هر هغه تربور، چې په زمکه، پټي، اوبو يا بل ملکيت کې راسره شريک وي، نو که زور مو پرې بر شي، وژنو يې، او که نه په تمه يو، چې په خپل اجل ومري، بيا يې غوښې خورو او هډوکي يې خښوو. پخوا مو د تربرونو ځوانان خوړل، خو اوس د کليوالو سترګې لا وږې شوې دي، د تربرونو د ښځو، بوډاګانو او ماشومانو غوښې هم خورو، هغوی هم وژنو او بس هډونه يې تر خاورو رسوو. هر تربور چې غوښې يې زموږ په حق ورسيږي، ښځې، يتيمان او ټول جايداد يې هم زموږ شي .

لاروی ورېږدېده، وډار شو او د خپل ببرسري لارښود لمنه يې ونيوله :

- زما لارښوده ! دا هرڅه ولې کيږي؟

لارښود موسک شو :

- د دې کلي خلکو په دود دستور کې د تربور دوښمني دومره ژوره ده، چې تربوروژنه يې د غيرت يوه برخه ګرځېدلې. ورو ورو يې دا هرڅه په مذهب کې هم

ورشامل کړي دي. هر هغه دود چې د غيرت، مذهب او بل ( ښه سړيتوب) نښه وګرځي، که هرڅومره (بد) هم وي، پرې ګروهمنو ته ( ښه) ښکاري .

د دې کلي په سندرو او ترانو کې د تربرونو د غوښو په خوړلو وياړنې يادېږي، ښځې اوپېغلې هغه نارينه خوښوي، چې ډېرې وينې څښلای شي، په زانګوګانو کې د خپلوانو د وژلو او خوړلو للوګانې د ماشومانو په غوږونو کې انګازې کوي .

که له دې کلي څخه هرڅا د دغه ناوړه دود ( دودونو) په وړاندې څه وويل، نو کليوال يې بې غيرته، ډارن، دود ماتوونکی او ان کافر ګڼي. ځوان کليوال، چې د نورو ټولنو انسانان يې ليدلي، په دې پوهيږي، چې دا دودونه سم نه دي، خو له دې ډاره چې څوک يې کافر يا بې غيرته ونه ګڼي، پر ټولو ناوړه دودونو چوپ او د خپلو پلرونو. نيکونو پر لارو روان دي .

...او لاروی پوه شو، چې که وژل او د انسان د غوښو خوړل د غيرت يا مذهب برخه شول، دوه يا درې نسلونه کافرکړای شوي او دار ته ختلي بويه، چې ايله دا دود بدل کړای شي.

# پینځه‌دیرشم منزل

# په اخرت کې به ناري کړم..

دواړه د ( اخرت ) کلي ته راورسېدل. دلته چا کور نه جوړاوه، لارې نه وې، زمکې شاړې پرتې وې، ټول سینګار پر هدیرو شوی و، دنګې منارې په ښیښو او غمیو پوښل شوې وې. کلیوال له کلي څخه په تېښته وو. ځوانان لرې، چېرته د ژوند ښارونو ته پټ ورتلل، د ژوند ترښارونو پورې لارې سختې وې، څه کلیوال به په اوبو کې ډوب شول، څه به په لاره کې ښامارنو وخوړل، تورې بلاوې، د اوبو دیوان اوښاپیریان پریمانه وو، له زړګونو کلیوالو به یوازې څو تنه ژوندي ورورسېدل او هلته به یې د ژوند په ښارونو کې نوی ژوند پیل کړ .

د اخرت په کلي کې به میندو په خپلو تللیو زامنو پسې ژړل، خو زامن یې دلته نه شوای تم کولای. پلرونو زمکې او باغونه پلورل، چې زامن پرې د ژوند ښارونو ته ولیږي .

لاروي له خپل ببرسري لاربښود څخه وپوښتل :

- دې کلي ته ولې د اخرت کلی وایي؟

لاربښود وموسل :

- ځوکاله پخوا دلته د سیاسي روحانیونو له خوا د اخرت په نامه تجارت او سیاست پیل شو، روحاني سیاستوالو په اول کې وړیا ډوډۍ، بیا روسته زمکې اوباغونه ترلاسه کړل، روسته یې د سیاست او پاچاهي شوق پیدا شو. کلیوالو ته یې ځانونه د اخرت واکمن وروپېژندل او د دونیا له ژونده یې د دوی زړونه ورتور کړل، کلیوالو خپله ټوله شتمني دوی ته وبښله او پخپله د اخرت په سودا کې

وړي او بربنډ کېناستل. ځوانانو چې د ژوند هيله درلودله د ( ژوند ) د ښارونو لار ونيوله، ډېر يې په ( ژوند) پسې مړه شول او يوڅوېې ور ورسېدل .

دغو کليوالو ته يې څو پېړۍ پخوا يوه شاعر بابا ويلي وو :

ښه ده ښه ده دا دونيا

چې توښه ده د عقبا

له کليوالو څخه اوس دا وينا هېره ده، دوی خاورې خوري او سياسي روحانيون د دوی غوښې او وينې .

دوی به تر هغو پورې همداسې وي، چې ژوند او ژوندتوکي ورته کفر ښکاري، ترهغو چې خپلې وينې او غوښې د اخرت لپاره، واکمنو روحانيونو ته په نذر کې ورکوي .

لاروی وويريد او نا څاپه يې د شاعر بابا بله خبره ورپه ياد شوه :

په دونيا کې ډېر حکمت دی

پرې پوهيږي حکما

په دونيا کې بدي نه شته

که بدي نه وي له تا

# شپږدېرشم منزل

# د باور د کاختۍ کال دی

داسې ښار ته ولاړل، چې هيچا پر بل باور نه درلوده، ښاريانو يو له بل څخه په هره خبره کې سند غوښت، د پاچا په کلا کې ټول خلک لاسليکونو او مهرونو ته په کتار کې ناست و، ښځې به له مېړه څخه ضمانت غوښت او زوی له پلاره. ورونړو په خپلو منځونو کې يو بل ته عريضې ليکلې او د هرې عريضې تر شاه به د کوڅې د پينځه شپږو ملکانو مهرونه لګېدلي وو ...

ترڅو به چې درېيم او څلورم ملا اذان نه و کړی، چا روژه نه ماتوله او ترڅو به چې اخوند په خپله خبره لس قسمونه نه و خوړلي چا يې خبره نه منله .

قاضي به هره ورځ حکمونه کول، خو خلکو به په شک ورته کتل، هرچا به ويل: خدايزده بيا يې څومره خوړلي دي؟

ميرزايانو به ښاريانو ته په شک کتل او ښاريانوبه ميرزايان بدې خواره، غله او لوټمار ګڼل. خلکو به خپلو کورنو پيرې کولې، چې سپاهيان يې لوټ نه کړي او هټيوالو خپلې هټۍ له کوټوالانو ساتلې .

لاروي له خپل ببرسري لاربښود څخه وپوښتل :

- زما لاربښوده !

پردغو خلکو ولې د بېباورۍ وبا لګېدلې ده؟

لاربښود پر تشي لاس کېښود، کوږ شو او پښه يې پرزمکه ووهله، ښه يې وخندل او لاروي ته يې وويل :

- دلته، ملا او اخوند پر هغه څه چې وايي، پخپله باور نه لري !

مشران فکر کوي، تر ټولو ښه سیاستوال هغه دی، چې تر ټولو لوی دروغ وویلای شي !

پلورونکی فکرکوي، چې له قسم پرته یې څوک متاع نه اخلي!

دروغ د دې ښار قانون دی، دوکه یې هوښیاري او چل یې چالاکي، تر ټولو عزتمند ښاري هغه دی، چې ډېر خلک تېرایستلای شي. دلته د دروغو سیاست معافیت لري او وینا له کړنې سره توپیر !

قانون په  زورورو نه‌شي پلی کېدلای، ځینې زورور ترقانونه پورته دي!

لاروي بیا وپوښتل :

- دا هرڅه د سر په سترګو وینم، خو د دې ټولو سرچینه چېرته ده؟

ببرسري بیا وخندل  :

- سرچینه دا ده، چې ښاریان سیاست ( د دروغو علم ) ګڼي او مذهبي پېشوایان سیاست کوي، نوخلکو په مذهبي پېشوایانو باور له لاسه ورکړی دی، ځکه دوی هغه څه چې وایي، نه یې کوي او هغه څه چې کوي، نه یې وایي.

# اووه دېرشم منزل

# ...او که پوهه لاره بېله کړي له ګروهې

مخامخ یوه تکه شنه غونډۍ وه، د غونډۍ په ښي اړخ یو د لوړو منارو مزدک جوړ و او کیڼې خوا ته یې یوه تاوراتاو لاره په یوه ځنګله کې ننوتلې او ورکه شوې وه .

لاروي خپل لارښود وپوښت :

- دا هماغه مزدک دی، چې دوه نومونه لري؟

لارښود وخندل او د خپل لاروي تلوسې او درک ته یې آفرین وویل :

- هو بالکل، دا مزدک په دوو نومونو یادېږي :

د ګروهې روستی منزل

او

د پوهې دویم تمځای .

کله چې ورورسېدو، په دې به پوه شې، چې دا یو ځای ولې غبرګ نومونه لري؟

لاروی پوه شو او بله پوښتنه یې په خپل ستوني کې کولپ کړه. دواړه د شنې ورشو ترمنځ مزدک ته په ورغلې لاره وروخوځېدل .

د ماسپښین لمر سیوري کاږه کړي وو، چې مزدک ته ورورسېدل، په مزدک کې یو راهب ولاړ و، لاسونه یې لپه کړي وو او په زړه کې یې څه اوراد ویل، ګڼو نارینه او ښځو د مزدک مخې ته ګونډې وهلې وې او د راهب د دعا او ذکر په روحاني سمندر کې ډوب ول .

مزدک ښکلی جوړ شوی و، خلکو خپلې ګانې او شته وربښلي وو، ختګرو په کې خپل اخلاص ښوولی و، نجارانو یې په لرګیو کې ښکلې میناتوري کړې وه او انځورګرو یې دیوالونه او دالانونه په سپېڅلو انځورونو ښکلي کړي وو .

داسې ښکارېده، چې له مزدک څخه لږ وړاندې کیڼ لور ته لاره کږه وږه په ځنګله ورننوتلې او په ګورو او سمسورو ونو کې ورکه شوې ده. د دوه‌لارې پر سر او ځنګله ته په وربېله شوې لار کې یو بېرسری مجذوب ناست و، چې سترګې یې برېښېدې. لاربښود او لاروی، چې مجذوب ته ورنږدې شول، د هغه د سترګو برېښنا وپړکېده او په خوښۍ یې وویل :

- راورسېدې؟ یه د ریښتیا پلټونکیه لاربښوده !

لاربښود په مینه د برېښنده سترګو مجذوب په غېږ کې ونیوه او په خندا یې ورته وویل :

- ښېګڼه دې ستا مله وي، زما خوږه ملګریه !

وینم، چې لا دې هم د خپل تللي ملګري لار نیولې، چې ښایي بېرته راوګرځي، هه؟

مجذوب وخندل:

- هو! لا هم ورته په تمه یم .

لاربښود، مجذوب ته وویل :

- زما ملګری لاروی غواړي د دې مزدک او ځنګله ته د ورننوتلې لارې په راز پوه شي. دی پوښتي، چې ولې دا مزدک په دوو نومونو یادیږي؟

د ګروهې روستی منزل

او

د پوهې دویم تمځای .

مجذوب لارښود ته درناوی وکړ او بریښنده سترګې یې د لارویانو ترشا د غرونو په لړۍ کې خښې کړې :

- نېکمرغه لارویه !

کیسه د ډېرې پخوا زمانې ده، له هغې زمانې چې ژوند و فکر خپل مزل راپیل کړ، له لومړي منزل څخه یو پرښتونکی راهب او یو پوښتونکی ښوونکی د یوه ګډ منزل په لټون راووتل. د دوی د مزله لومړی منزل د درېیو ډبرلیکونو کلی و. په هریوه ډبرلیک یوه یوه جمله کښلې وه :

١. څوک یو؟

٢. ولې یو؟

٣. روستی منزل څه دی؟

دوی تر ډېر مزله روسته دلته راورسېدل. پرښتونکی راهب او پوښتونکی ښوونکی تر دې ځایه ملګرتیا وکړه او یوې پایلې ته ورسېدل، هغه دا چې :

- یوه رڼا شته او هرکله چې له دې رڼا سره مخامخ شو، نو د خپلو پوښتنو ځوابونه به ومومو .

ګډې پایلې ته تر رسېدو روسته، د راهب او ښوونکي لارې سره ببلې شوې، ځکه راهب دې عقیدې ته رسېدلی و، چې همدلته ولاړ پاتې شي او دعا وکړي، چې له رڼا سره مخامخ شي. مګر پوښتونکي ښوونکي فکر کاوه، چې رڼا خپله نه راځي، باید پسې ولاړ شو، ویې مومو او په ډبرلیکونو د کښل شویو پوښتنو ځوابونه ترې وغواړو .

له هغې زمانې څخه راهب همدلته پاتې شو او تر نن پورې د رڼا لپاره دعا و پرښتنه کوي، چې ویې ویني .

پوښتونکي ښوونکي همدلته له راهب څخه خدای پاماني وکړه او په ځنګله ننوت، چې ځان رڼا ته ورسوي .

لاروي په بېړه وپوښتل :

- له پوښتونکي ښوونکي څخه کوم خبر بېرته راغی؟

د برېښنده سترګو مجذوب وویل :

- هو !

خبرونه راځي، هروخت .

پوښتونکی ښوونکی لاهم د رڼا په لور روان دی، ده د هستۍ ډېرې لوړې ژورې ولیدې، غرونه، ځنګلونه، اور، اوبه، هوا او خاوره یې وپېژندله، د مرغانو د سندرو په راز یې ځان پوه کړ، د کبانو خوبونه یې ولوستل، د بوټو او ونو د راشنه کېدو په راز پوه شو او د انسانانو د لا ښه ژوندون لپاره یې نوې نوې تجربې وکړې. برېښنا یې رام کړه، د انسانانو کورونه یې پرې رڼا کړل، له بوټو څخه یې درمل جوړ کړل او ناروغانو ته یې روغتیا وبښله، لیک لوست یې وپېژاند او انسانانو ته یې هم وروښود. د الوتونکو په څېر یې انسانانو ته وزرونه ورکړل، چې والوځي او د کبانو په شان په اوبو کې ولامبي. پوښتونکی ښوونکی د ټولو رڼاګانو په سرچینې پسې لا هم روان دی، د رڼا ډېر څرکونه یې موندلي او لاره یې پېژندلې ده، هره ورځ یې هیلې ډېرېږي، چې اخر به ځان سترې رڼا ته ورسوي، چې په ډېرلیکونو د کښل شویو درېیو پوښتنو ځواب ترلاسه کړي، خلک وایي چې پوښتونکی ښوونکی لا ستومانه نه‌دی او پرمخ ځي.

خو راهب، پېړۍ پېړۍ کېږي، چې همدلته ولاړ دی، سترګې یې پټې کړې دي او تر شونډو لاندې څه وایي. هغه کوي، چې رڼا یې خوب ته راشي یا یې په ویښه ووینې، خو لا هم د رڼا څرک نه‌شته...

لاروی پوه شو، چې ولې دغه مزدک ته دوه نومونه ورکړل شوي دي :

د ګروهې روستی منزل

او

د پوهې دویم تمځای .

لاروی په دې هم پوه شو، چې ګروهه ولاړه او پوهه روانه، نوېدونکې او پراخېدونکې ده .

# اته دېرشم منزل

# د جلاد او قربانۍ دعا یوه ده

جلاد تږی و، شونډې یې وچې وې، لویه او درنه توره یې په لاسونو کې رپېدېده. د قرباني لاسونه یې شاته تړلي وو، قرباني هم تږی و، د هغه شونډوهم سپینه ښوره نیولې وه. هغوی چې راټول شوي وو او د جلاد و قرباني لوبه یې کتله، هم تږي وو، ټول روژه ول .

قرباني د لوی خدای نوم یاداوه، په وروستیوشیبو کې یې لوی خدای ته زارۍ کولې، چې درد ونه زغمي، چې ماشومان یې پس له ده له ولږې مړه نهشي، چې مېرمن او پېغله لور یې د جلاد د ملګرو له خوا بې پته نهشي. قرباني په زړه کې د خدای له درباره غوښته، چې ځوانه کونډه یې څوک په زوره ورخپله نه کړي او د ده شرم خوندي پاتې شي. قرباني د خپل ژوند هره شیبه را په یادوله او د کوشنۍ لور موسکا یې تر سترګو کېده، د خپلې ځوانې مېرمنې خیرې ګریوان او شکېدلي ویښتان یې ورپه یادېدل.

جلاد خوشاله و، په مبارکو ورځو کې یې د خپلې دغې قصابۍ لپاره د خدای په دربار کې اجرونه لټول او باور یې درلوده، چې هلته به ابدي جنت ته ورسیږي .

راټولو شویو خلکو هم د خدای نوم ډېر یاداوه، ځینو یې ځانونه د ( جلاد ) په څېره کې لیدل او خوشاله وو، چې وینه بهیږي، خو ډېرو یې ځانونه د ( قرباني ) په څېر ګڼل او رپېدیدل، چې سبا به همدا کیسه پردوی راروانه وي، دوی له دې ورځې څخه لوی خدای ته پناه غوښته .

لاروي خپل لارښود وپوښت :

- یا لارښوده !

ټول یو خدای یادوي، ټول له یوه ذاته مرسته غواړي، بیا نو د جلاد او قرباني د مخامختیا راز څه دی؟

لاربښود وخندل :

- د دوی د مخامختیا راز په ( سیاست ) کې دی، جلاد قدرت غواړي، قرباني څه نه لري چې جلاد ته یې ورکړي، ځکه نو باید ووژل شي. جلاد خلک ډاروي او پرخلکو د خپل حاکمیت ترهه واکمنوي او قرباني د سرکښو خلکو لپاره د عبرت وسیله ده. ټوله کیسه د ( ګټې ) ده ! جلاد واک غواړي، خو له خدایه یې نه غواړي، د خپلې تورې له خرپه یې غواړي. قرباني پرته له خدایه د ژغورنې او غوښتنې بل څوک نه لري. او خلک یوازې ننداره ته راغلي، دوی هېڅ هم نه کوي، ترهغو چې یا پخپله د جلاد په څېر توره ترلاسه کړي او یا هم د قربانۍ پرځای لاس ترلي د خپل مرګ لپاره شیبې وشماري ...

لاربښود لا خبرې کولې، چې خرپ شو...

او روژه ماته شوه،

د جلاد روژه د قرباني په وینو

د قرباني روژه د مرګ په خوند

او د خلکو روژه له ایمانه په بې خبرۍ او بې تفاوتۍ !

...او سبا ته اختر و!

# نهه‌دېرشم منزل

# عاطفه يوه چينه ده

# د خوږو ميندو موسکا کې

چينې ته ځېرمه يې دمه وکړه، لاروی ورکوز شو، چې خپل لاربنود ته د ځښلو اوبه راوړي. په چينه کې ښځمنو اوبه ډکولې. د لاربنود له راتللو خبرې شوې او ټولې راغلې چې لاربنود وګوري. پيغلې او ځوانې ښځې په لاربنود راوڅرخېدې او ويې پوښته :

- زموږ لاربنوده !

نارينه مو مساپر دي، چې راشي خپل ماشومان نه پېژني. پېغلې په کورونو زړې شوې، زلميان د ولور په پوره کولو پسې ورک دي. موږ له خپلو نارينه وو سره د ژوند په خوند ونه پوهېدلو. بل نارينه ته تش کتل هم د مرګ په بيه اخيستل دي. ووايه موږ څه وکړو؟

لاربنود وخندل، په موسکا يې ځواب ورکړ :

- ستاسو نارينه په هغه څه پسې تللي، چې دلته هم شته. ستاسو نارينه د نورو خانانو نوکري عيب نه ګڼي، خو د خپل کلي خواري ورته شرم ښکاري. ستاسو نارينه د نورو ښارونو په سپينو او سرو ښځو پسې تللي دي، د دې لپاره ، چې تاسو ورسره پوره مينه نه کوئ. ستاسو نارينه دلته د ( شرم ) له ديو څخه تښتېدلي او ګومان کوي، چې هلته د شرم په نامه څه نه شته .

تاسو خپلو نارينه وو ته پوره مينه نه ده ورکړې او هغوی تاسو ته. ځکه خو مو ماشومان مينه نه پېژني. ستاسو په لمنو کې د مينې کمی دی، ځکه مو ماشومان

وسله اخلي او يو بل وژني. تاسو خپلې لمنې د وطن يوه برخه نه ده ګرځولې، چې بچيان مو د مور او وطن په مينه پوه شي. تاسو د انساني عاطفې سرچينې ياست، که تاسو خپلو بچو ته عاطفه ورنه کړئ، راتلونکې زوزات به مو هم يو بل وژني .

خبرې شئ ! چې انساني ارزښتونه د ميندو په لمنو کې پېژندل کيږي .

ښځې او پېغلې فکر يووړې، يوه يوه روانه شوه او لاروي د کلي هديرې ته وکتل. په ډېرو قبرونو جنډې ولاړې وې او د ډېرو قبرونو مړيو په خپلو کې سره وژلي وو. لاروی حيران شو، چې د ژونديو ښځو لمنې خړې او بدرنګه، خو د هديرو جنډې رنګينې او مستې وې!!!

# څلويښتم منزل

# ژوند يو راز دی چې مونده شي

# د سپېڅلو ماشومانو په څېرو کې

د ماشومانو په يوه ډله ورپېښ شول. ببرسری لارښود ورته کيناست او له ماشومانو سره يې خبرې پيل کړې. وېي نازول، کيسې يې ورته وکړې، ورسره وېې خندل. لاروی هرڅه ته ځير و.

ببرسري له ماشومانو وپوښتل :

- سياست پېژنئ ؟

يوه ماشوم وويل :

- سياست نه، خو سياستمدار پېژنو. په مونږ کې دايو ( يوه هلک ته يې اشاره وکړه) ډېر کلانکار، ووقې، دروغجن او کبرجن دی. هلکان وايي دا سياستمدار دی .

ببرسري بيا وپوښتل:

- جګړه څنګه ؟

يوې کوشنۍ ماشومې وويل :

- جګړه نه، خو جګړه مار پېژنو. موږ چې نانځکې کوو نو سياستمدار يو زورور هلک راوليږي، هم له موږ نه نانځکې تښتوي، هم هغه ډوډۍ چې موږ له کورڅخه راوړې وي، نانځکې سياستمدار ته ورکوي او ډوډۍ جګړه مار هلک خوري. موږ چې پوښتنه وکړو، ولې شخړه کوې؟

نو جګړه مار وايي :

- نانځکې ټيکرى نه لري. تاسو او ستاسو نانځکې کافرانې ياست! خو موږ نه پوهيږو چې ( کافر ) څه ته وايي؟ يوازې دومره پوهيږو، چې جګړه مار او سياستمدار په همدې نامه زموږ نانځکې او ډوډۍ رانه په زوره وړي .

لاربښود له کوشنۍ نجلۍ وپوښتل :

- سياستمدار هلک نانځکې څه کوي؟

ټولې خپل کور ته وړي، خپلې ماشومې خور ته يې ورکوي، پلار يې د ده خور له موږ سره لوبو ته نه پريږدي او په کور کې يې بنده ساتي. د سياستمدار پلاروايي:

- د کوڅې ماشومان بد اخلاقه دي؟ خو موږ نه پوهيږو چې بد اخلاقه څه ته وايي؟

لاربښود بيا له ماشومې وپوښتل :

- سياستمدار ولې ستاسو نانځکې خپلې خور ته ورکوي؟

ماشومې وويل :

- د ده خور هره ورځ په کور کې ګوډه غلا کوي او چې سياستمدار نانځکې وروړي، نو هغه ورته په پټه ګوډه ورکوي...

لاربښود او لاروي د ماشومانو مرکه پرېښوده او روان شول. لاروی خپل لاربښود وپوښت :

- د سياست او جګړې په اړه د ماشومانو پوهه ترموږ سمه او بشپړه نه ده ؟

لاربښود کټ کټ وخندل :

- نه، بلکې دا (موږ) يو، چې ماشومانو ته مو هرڅه داسې تمثيل کړي دي.

# يوځلويښتم منزل

# چا مړ کړی دی ښامار؟

داسې يوه کلي ته ورسېدل، چې پخوا په کې يو سور ښامار وژل شوی و. د ښامار وژونکی اتل چا نه پېژانده، اتل د ښامار تر وژلو روسته په خپله مخه تللی و، خو د ښامار تر وژلو روسته ګڼو چالاکو او دروغجنو کليوالو، د ښامار له پوټکي څخه ټوټې راپرې کړې وې او په جيبونو کې يې ګرځولې. کلونه کلونه کېدل، چې پرټول کلي همدغو کسانو راج چلاوه، دوی به د کليوالو زمکې په زوره اخيستلې، د خلکو ښکلې مېرمنې، پېغلې لونې او پېمخي هلکان يې په زوره تښتول او زبرزنا به يې ورسره کوله. دوی په ړنا ورځ د کليوالو شتمني لوټله او لارې به يې نيولې، که چا به ترې وپوښتل :

- ولې؟

نو دوی به د ښامار د سره پوټکي ټوټه له جيبه راوويسته او ځواب به يې ورکړ :

- که موږ ښامار نه وای وژلای، نو اوس به ته د ښامار په خېټه کې وای .

د ښامار د پوستکي ټوټه د جرم جواز و. د کلي راهبانو هم د دغو زورور ملګرتيا کوله او د لوی معبد رسمي فتوا يې داسې ورکړې وه :

- له هرچا سره چې د ښامار د پوټکي نښه وي، هر کار کولای شي، دا بختوران ازلي او ابدي اتلان دي .

لاروي خپل ببر سری لارښود وپوښت :

- ايا دا کليوال به د دغو زورورو تر مرګ روسته وژغورل شي؟

ببرسري لارښود وخندل :

- نه ! ځکه زورور چې زاړه شي، نو د ښامار د پوټکي ټوټه خپلو زامنو ته په میراث پرېږدي او بیا يې زامن تر دوی ډېر ظلم راپیلوي. دوهمه ستونزه دا ده، چې د دې کلي زلمی نسل له عقله لرې او اتل پرستان دي، دوی هر هغه څوک چې د ښامار پوټکی ورسره وي خپل مشران ګڼي او تر مرګه يې پالي .

لارښود په لرې غره کې د ښامار په توره لیکه سترګې وګنډلې :

- غم د اتلولۍ دروغجنه دعوه نه ده، غم دا دی، چې زمکې، ښځې او شتمنۍ په خلاصېدو دي او د پوټکي د نښو خاوندان، چې خپله شتمني په کمېدو ویني، نو په خپلو منځونو کې سره نښلي. کلیوال زلمیان لکه ړانده ورپسې منډې وهي او یو د بل په وینو ځانونه لمبوي ....

...او لاروی پوه شو، چې : ریښتینی اتل ورک دی او د غلو له لوري د ښامار د وژلو دعوه هسې دروغجنه افسانه ده، چې دوی د خپلو ګټو، غریزو او جیبونو د ډکولو لپاره جوړه کړې ده او بس!

# دوڅلوېښتم منزل

# د سیالۍ د زخم څرې

له دوو داسې کلیو څخه تېرېدل، چې یو د بل تربرونه وو. د یوه ورور اولاده په یوه او د بل زوزات په بل کې اوسېدل. د دواړو کلیو خلک په سخته تربورګلوۍ او سیالۍ سره اخته وو. شین کلي په خپله هدیره کې یو زیارت درلوده، چې د خړ کلي خلک هم ورته راتلل، د شنه کلي خلکو به د خړکلي تربرونو ته پېغور ورکاوه چې:

- وشرمېږئ ! خپل شهید نه لرئ ! راځئ او زموږ د شهید زیارت کوئ .

د خړ کلي اوسېدونکي له دې پېغوره پازاب وو .

یوه شپه، د خړ کلي یو ځوان د غلا لپاره، د خپل یوه کلیوال کورته ور واوښت. د کور خاوند پرې راویښ شو او غل یې په ټوپک وویشت .

سبا ته د کلي خلک راټول شول او د غله د خښولو پرمهال یې وویل :

- همدی زموږ شهید دی او باید زیارت پرې جوړ کړو، تر دې روسته به خپل زیارت ته ځو او د شنه کلي له احتیاج او پېغوره به خلاص شو .

په خړ کلي کې یوه هوښیار سپینږیري خپلو کلیوالو ته وویل :

- دا کار مه کوئ ! که مو پر دغه غله زیارت جوړ کړ، بیا به مو تربرونه نوی پېغور درکوي:

- شهید مو نه درلوده، چې ایله پیدا مو کړ، هغه هم غل وخوت .

لاروي خپل ببرسري لارښود ته وویل : له دې رازه مې خبر کړه !

لارښود کړس کړس وخندل، په ملا کوږ ورږ شو :

- چې سیالي او تربورګلوي په مړیو او زیارتونو پالي، د ژوندیو خلکو له مړښت او د کورونو له ودانۍ یې خلاص وګڼه !

ایله تر دې خبرې روسته، د لاروي پام د کلي کنډرو کورونو او د کلیوالو نهرو نسونو ته ورواوښت.

# دريڅلويښتم منزل

# چېرته مړيو ته هېواد شته؟

د يوه عجيب هېواد پولې ته ورسېدل، دې ته يې د هديرو هېواد ويل. دلته کلي او ښارونه نه وو، ټول خلک په هديرو کې اوسېدل او د خپلو نيکونو قبرونه او هډونه يې ساتل. د ژونديو رنګونه هم د مړيو په څېر وو، سپېره مخونه اوکوړاغې کوړاغې سترګې. ماشومان يې بربنډ د قبرونو ترمنځ په لوبو اخته وو، هر چا د څو قبرونو ترڅنګ يوه د لوخو او اغزيو جونګړه جوړه کړې وه او همغلته يې د خپلو نيکونو او خپلوانو قبرونه ساتل .

لاروی يو هديره ساتونکی وپوښت :

- قبرونه له چا ساتئ ؟

هغه په حيرانتيا ځواب ورکړ :

- له خپلو دوښمنانو څخه، دلته هر قوم غواړي د بل قوم قبرونه ونړوي او د خپلو نيکونو قبرونه جوړ کړي. په هديرو کې ځينې قبرونه خوار او سپېره وو، خوځينې نور يې ښکلي، پسوللي، له دنګو منارو او ګومبدو سره، هديره ساتونکي وويل:

- ښکلي قبرونه د هغو خلکو دي، چې پلويان يې د نورو قبرونو د ساتونکيو کورونه لوټي او ژوندي وژني، دوی خپله ټوله شتمني په قبرونو لګوي.

هديره ساتونکي لرې څو غونډيو ته ګوته ونيوله :

- هاغه سمسورې غونډۍ د دې وطن د وسله والو زورواکو دي، هغه يې لا په ژوند د خپلو قبرونو لپاره په زوره نيولې دي، د دوی ټول قوم اوس هاغه غونډۍ ساتي او پر قبرونو يې پيرې کوي.

لاروی حیران شو، خپل ببرسری لاربښود یې وپوښت، چې د دې هېواد راز ورته ووایي .

لاربښود له خندا نه تاوراتاو شو، په بډوډو یې لاسونه کېښول :

- خبر شه ! چې د دې هېواد اوسېدونکیو د ژوند چینه ورکه کړې ده، له هماغې ورځې څخه راپه دېخوا دوی په داسې ناروغۍ اخته شوي، چې راتلونکې یې هېره ده. د دې هېواد د اوسېدونکیو له حافظې څخه د ( نن) او ( سبا) ټکي او مانا توړل شوي او په دې نومونو څه نه پېژني. د دوی لپاره هرڅه ( پرون ) دي، پرون د دوی ویاړ، ژوند او د ژوند هدف دی. ځکه خو مړه نیکونه او پخواني خلک چې د ( پرون ) استازي دي، په دوی حکومت کوي .

او لاروی پوه شو، چې دا خلک به ایله هغه وخت له دې ناروغۍ څخه ورغیږي، چې د ژوند چینه بیا مومي.

# څلورڅلوېښتم منزل

# دلته څه دي؟ بې له بدو

له یوه ښار څخه په بېړه ووتل، بېرسري لارښود خپل لاروي ته وویل :

- دلته مه تم کېږه، دا د ( غلواکانو) ښار دی، تر دې مخکې چې د ماښام ستوری راوخیژي، باید د بیابان لاره ونیسو، ځکه په بیابان کې شپه د هغه ښار تر شپې ښه او خوندي ده، چې خلک غله په کورونو کې ساتي .

د لاروي خوله، له حیرانتیا خلاصه پاتې وه، چې بېرسري یې د څېرې په کرښو کې پوښتنه ولوسته او وارله واره یې ځواب ورکړ :

- هو، په دې ښار کې څو قومونه اوسي، هر قوم خپل لوچکان، غله، بدماشان، وژونکي او ځناورخویه بېرسري په خپلو سیمو کې ساتلي، لمانځنه یې کوي، پر اوږو یې ګرځوي او تر ټولو ښه خواړه ورکوي، چې مړه شي ټول قوم راټول شي او په ډېر پرتم یې په یوه لویه غونډۍ کې خښ کړي، واټونه یې په نومونو کړي او خپل اتلان یې ګڼي .

لاروي په بېړه وپوښت :

- دې کار ته یې اړتیا څه ده؟

بېرسري لارښود ځواب ورکړ :

- هر قوم له بل سره په دې کې سیالي او رقابت لري. په دې قومونو کې بله سیالي نه شته، د قومونو د عزت او شرف نښه دا ده، چې ډېر، نامتو او ګواښمن ( خطرناکه) غله او بدماشان ولري. هر غل یا د غلو ډله خپل قوم لوټي، عزت یې داړي او رنګارنګ ظلمونه پرې کوي، خو قوم یې د نورو قومونو له ضده لاهم اتل بولي او نه غواړي، چې سیوری یې له سره کم شي .

په هرقوم کې چې هوښیار ځوانان پیدا شي او قوم د غلو له ګواښه خبر کړي، پوهنې، زده کړو، کار او د غنمو کرلو ته يې وهڅوي، ریښتینولۍ او پرمختګ وستايي او د خلکو د ویښتیا هڅه وکړي، د غلو شریکبانه يې کافر او زندیق بولي، بې غیرته يې ګڼي او ډارن ورته وايي .

ځکه خو له هغه ښاره وتل بویه، چې سیالي او د شرف نښه یې د وینه زبېښونکیو غلو زیاتوالی وي .

لاروی لا حیران و، چې د بیابان پر شګو يې ګام کېښود، د دمې ساه يې کش کړه او په مخامخ اسمانځنډه يې د ماښام ستوری ولیده.

# پینځه‌څلوېښتم منزل

# چې دې ګټه په کې نه وي

له یوې تنګې درې څخه تېرېدل، د درې په منځ کې لوړ او لوی ډبرین دیوال جوړ شوی و، چې د درې بله خوا نه ورڅخه ښکارېده، وړاندې ولاړل، ها خوا د اوبو یو بند و، چې اوبه یې کوزې خواته بندې کړې وې .

د بند او ډبرین دیوال په جوړولو ډېره خواري شوې وه، خو لاروی یې په ګټه پوه نه شو، خپل ببرسری لارښود یې وپوښت :

- دا لوی دیوال او د اوبو د غه بېځایه بند ولې دلته جوړ شوي دي؟

لارښود بیا وخندل، ښه چې ستړی شو، ځواب یې ورکړ :

- دره توده او وچه وه، له کوزې خوا به باد مخ پورته لګېده او له پورته څخه یو نری سیند مخښکته بهېده، پورتنیو دره والو په کوزنیو خلکو اوبه بندې کړې، بند یې جوړ کړاو پرته له دې چې د ډنډ اوبو ته اړتیا ولري، بس له بخیلۍ څخه یې اوبه په کوزنیو وچې کړې. کوزنیو هم د باد مخه په دیوال ډب کړه، لوی دیوال یې جوړ کړ، چې په پاسنیو باد ونه لګیږي .

اوس پاسني دره وال، له ګرمۍ کړیږي او کله چې اوبه ډېرې شي، نو ډنډ د دوی تر کورونو پورې ور پورته شي، ماشومان او څاروي ورڅخه ډوب کړي او کورونه او زمکې ترې یوسي. کوزني دره وال بیا په یوه څاڅکي اوبو پسې مري، کروندې یې وچې دي او کورنه یې د راتاوېدونکیو توپاني بادونو له لاسه ویجاړ پراته دي .

همدومره خواري، چې په دغه بېځایه دیوال او بند اېستل شوې ده، که د دې پرځای کوزنیو بند جوړ کړی وای او پورتنیو دره والو بادي ژرندې جوړې کړې وای اوس به دواړه ولسونه خوشاله، ارامه، ماړه او ودان وای .

لاروی ایله پوه شو، چې سمه وداني ګټوره هغه ده. که له ( ودانۍ ) سره عقل او لورېینه مل نه وي، تر ټولو لویه وراني پېښولای شي. هغه وداني چې د بل وراني له ځانه سره لري، د ځانورانونې پیل دی.

# شپږڅلوېښتم منزل

# د ځنګله قانون

په ځنګله کې باد په شغهار تېرېده، ځانګې به باد ته په څګېروي کړې وړې شوې. پر یوه څانګه بوم ناست و، سترګې یې په شپه کې هم ځلیدې، بوم ناځاپه غږ ویوست:

- اووووو کوک کوک کوک !!!

او لاروی له دې ویرووونکي غږ سره ولړزېد .

ببر سري لارښود چې د خپل لاروي ویره ولیدله کړس کړس په خندا شو، لاروي ته یې وویل :

- مه ویرېږه ! په ځنګل کې څلوربول او څیرونکي ژوي اوسیږي، پر څانګو مرغان ویده دي. باد او ونې یو له بل سره مینه کوي .

دلته یوازې ولړه ده، چې له کبله یې زورور کمزوري څیري او خوري. پوه شه! چې ویده ځناور په ولړه نه وي خبر. نو اوس موږ ته هېڅ ګواښ نه پېښوي. یوازې بوم ویښ دی او موږ ته ښه راغلاست وايي. هغه چې ویښ دی، موږ دی او هغه چې وږي دي، ویده دي. په داسې ځای کې چې وږي ویده وي او ماړه ویښ، پردیو ته ګواښ پېښېدلای نه‌شي .

لاروی ډاډه شو او د ویښو مړو او ویدو وږیو په اړه ژور فکر ډوب کړ، داسې ډوب چې هغه کنګل او ولړې ځپلی مار یې هم ونه لیده، چې د ده تر پښو لاندې پروت و.

# اووه څلوېښتم منزل

# چې پاچا يې هم سوالګر وي

له بيابانه تېرېدل، له لرې څخه لوی کاروان راښکاره شو، چې دوی ته مخامخ راروان وو، ببرسری لارښود او لاروی يې کاروان ته تم شول.  د کاروان مشر د وياړونو د هېواد سپين ږيری پاچا و، چې څه خدم وحشم ورپسې روان ول. پاچا زهير، ستومانه او خپه ښکارېده، خو سترګې يې وېښې او د کلکې ارادې او ژمنې نښې يې په څېره کې وې.  په وجود خوار پاچا ببرسري لارښود ته سلام وکړ، ورته ويې ويل :

- که ترې ياست، له موږ سره په کاروان کې اوبه شته .

ببرسري وخندل :

-ولس دې ببوزلی او خوار دی، خو ته لوی زړه لرې، سر دې سلامت!  لکه چې بيا د خپل ولس د ولږې لپاره په خيرات او مرستې پسې راوتلی يې؟

پاچا چې مخامخ په يوه لرې ځای کې سترګې خښې کړې وې، ځواب ورکړ :

-د خپل وطن په اوبو پريمانه زمکې شنې کولای شم، د خپل هېواد له کانونو او شتمنيو څخه خبر يم، خو خلک مې نه پرېږدي.  خلکو په خپلو زمکو کې د خپلو نيکونو په نومونو د وياړونو څلي درولي دي، تمامه ورځ د خپلو مړو نيکونو د څليو عبادت کوي او د خپلو نيکونو په نوم يو له بل سره په خونړيو جګړو اوښتي دي، زما ولس په تاريخ کې جنګيږي.  د خاورو څلي لمانځي او د ختو په مقدساتو

باندې وينې بهوي.  دوی کرکېلې، اوبه لګولو، توليد او کار ته وزګار نهدي ، زما خلک له مانه ډوډۍ په تياره غواړي، ځکه دوی جګړه کوي، دوی راته وايي :

- مونږ په يوه مقدسه جګړه اخته يو.  ستا کار همدا دی، چې مونږ ته ډوډۍ پيدا کړې .

لاروی حيران شو، چې دا نو عجيب ولس دی، له خپلو ټولو تاريخي وياړونو سره سره کار نه کوي او خپل سپينږيری پاچا په سوال او خيراتي ډوډۍ پسې لرې زمکو ته استوي .

کاشکې دا ولس پوهېدلای، چې په نوروملتونو کې څوک، د دوی تاريخي وياړونه، نه پېژني.  نور ولسونه يې د نيکونو د وياړ ختېن ځلي نه ويني.  نور ولسونه يوازې د دوی هغه لاسونه ليدلای شي، چې د ډوډۍ سوال ته اوږده دي.

# اته‌څلوېښتم منزل

# څه دې زده کړل له تاریخه؟

د پاچایانو پر هدیره تېرېدل، په دې هدیره کې یې وژل شوي پاچایان په یوه کتار او په خپل مرګ مړه شوي پاچایان په بل کتار کې خښ کړي وو.  د هر پاچا پر شناخته یې د هغه د ژوند وروستی پیغام لیکلی و.  وژل شویو پاچایانو د خپل دوښمن په اړه یو څه ویلي وو او په خپل مرګ مړه شویو د خپلې کورنۍ یا میراث سپارښتنه کړې وه .

ببرسری لاربښود د یوه پاچا شناختې ته ودرېده، ویې لوسته، بیا یې ولوسته او کټ کټ یې وخندل، لاروی حیران شو او په ځیر یې د دغه پاچا شناخته بیا ولوستله:

- زما لپاره د تاریخ تر ټولو لوی درس دا و :

ځان پیاوړی کړئ، چې هیڅوک مو په هېواد بلوسلو او یرغل ته زړه ښه نه‌کړای‌شي! ترهغو چې په کور دننه کمزوري یاست او خپلو کې شخړې کوئ، یو پردی به په دروازه درننوځي او بل به کړکۍ.

لاروي خپل ببرسری لاربښود وپوښت :

- د دې شناختې د پیغام توپیر له نورو سره څه دی؟

لاربښود بیا وخندل او ځواب یې ورکړ :

- ښه ځیر شه، د وژل شویو پاچایانو د قبرونو شمېر تر هغو ډېر دی، چې په خپل مرګ مړه شوي دي، د دې هېواد د واکمنو ټول عمر د واک پرسر په

شخړو کې تېرشوی دی، یو بل یې سره وژلي او ژوبل کړي دي، بس چې کمزوري شوي، بیا بهرنیان راغلي او پرېمانه مرګ ژوبله یې کړې ده .

په دوی کې تر ټولو هوښیار پاچا همدا دی، چې له تاریخه یې اخیستلی درس په خپله شناخته لیکلی دی .

لاروی چې ځیرشو، په حیرانتیا یې ولیدل، چې د وژل شویو پاچایانو د قبرونو کتار ډېراوږد دی، دومره اوږد چې اخر سر یې نه ښکارېده.

# نهه‌څلوېښتم منزل

# له بې‌آبو اوبه مه‌غواړه لارويه!

یوې سمسورې درې ته ورسېدل، لوړ غرونه او شنه ځنګلونه، په منځ کې یې مست سیند بهېده.  د درې خلکو په پټه د ځنګلونو لرګي وهل او په غلا یې ګاونډې هېواد ته د پلورلو لپاره وړل.  لاروي  یو کلیوال وپوښت :

- دا ځنګلونه د چا دي؟

کلیوال ورته وویل :

- زموږ خپل ځنګلونه دي؟

لاروی بیا پوښتنه وکړه:

- نو ولې یې ونې په غلا وهئ ؟

کلیوال ورته وویل :

- شرمیږو، خو څه وکړو؟ که دا لرګي ونه پلورو له ولږې مرو .

- نو له سیند څخه اوبه ولې نه غلا کوئ؟

کلیوال د لاروي لیونتوب ته حیران شو، لږ یې وموسل او په حیرانتیا یې وویل :

- د سیند اوبه ولې غلا کړو؟ سیند خو چې څومره اوبه وغواړو راکوي یې .

لاروي وویل :

- نو ولې يې نه ترې غواړئ، چې له لوړې مو وژغوري؟

کليوال وويل :

- دا زموږ کار نه‌دی .

ببرسري لاربشود خپل لاروی پراوږه وټپاوه او ورته وېې خندل :

- له هغوڅخه، چې له ځانه غلا کوي، اوبه مه غواړه، هغوی همداسې (بې‌ابه) شه دي.

# پنځوسم منزل

# دلته هرڅه پرخپل ځای دي

له ښاره چې ووتل، د شنو پټیو او ورشوګانو ترمنځ لاره یې ونیوله، په لاره کې یو ښکلی کلی په مخه ورغی، کلیوالو کرکېله کوله، ځای ځای یې په شنو ورشو کې په رمو او پېورو غواګانو سترګې خوږې شوې. شنه غنم د هوا څپو ته داسې ورو ورو اوښتل را اوښتل لکه د اتڼ په پیل کې چې زلمي اتنچیان څنې غورځوي. کورونه پر کوشنیو غونډیو آباد وو، د غرمې د تنرونو لوګیو دا ښووله چې کورنیو غلمینه ډوډۍ پخوله .

ببرسري لاربښود وموسل، ودرېد او خپل لاروي ته یې وویل :

- دا کلی د هوښیارو خلکو هستوګنځای دی، هرڅه پر خپل ځای دي، دوی په شنو پټیوکې خټین او ډبرین کورونه نه دي ودان کړي، دوی د کروړ زمکه پېژني څکه په نس ماړه او په تن پټ دي. وګوره !

هېڅ برجوره لویه کلا نه شته ، ټول کورنه د اړتیا تر بریده پراخ جوړ شوي، خو نه لوړې پخڅې لري او نه هم داسې برجونه، چې له تیرکشونو څخه یې څوک وګواښل شي، له دې نه ښکاري، چې د دې کلي اوسیدونکي دوښمني او تربورګلوي نه پېژني. په لښتیو کې اوبه رواني دي، لارې له ډبرو او خنډونو پاکې دي، پلونه او ګودرونه جوړ دي او د کلي ژرنده او جومات اخېړ شوي دي، داسې ښکاري، چې دا خلک لاهم اشر کوي او خپلې ګډې شتمنۍ په خپله ساتي .

لاروی یو کلیوال د کلي د ودانۍ او هوسایینې له رازه وپوښت، کلیوال ځواب ورکړ :

- بل راز نه شته، یوازې هرڅه پرخپل ځای دي :

خان مشري کوي، خو ټوپک او کوتک نه لري، ملا یوازې په جومات کې وي عبادت کوي او خلک سمې لارې ته رابولي، ملا او خان یو د بل په کارونو کې ګوتې نه وهي. د کلي خلیپه یوازې سرونه جوړوي، د ودونو او خیراتونو پخلی کوي او په خوښیو کې ډول وهي، د ده له سیاست سره کار نه شته. هو ریښتیا یوه بل خبره دا ده، چې په کلي کې یوه مشره مورا ده، هغه لوستې او هوښیاره ښځه ده، د کلي ټولو ښځو ته یې سبق ویلی دی، د کلي ټول نارینه د لوستیو ښځو په لمنو کې رالوی شوي دي، هوښیار، زړه سواندي او مهربانه دي، هیڅوک په غلو او داړه مارو پسې نه ځي، زموږ د کلي خلک غله خپل اتلان نه ګڼي .

ببرسري، چې دا هرڅه واورېدل وېې خندل، ښه ببدریغه یې وخندل او بیا یې د کلیوال له لاسه د یخو اوبو کوزړۍ واخیستله، دی ترې و او اوبه خوړې.

# يوپنځوسم منزل

# دا دونيا زموږه نه‌ده؟!

کنډرکلي ته ورسېدل، يوه کليوال ورته وويل :

- د دې کلي خلک د يوه داسې پير لارويان دي، چې چا يې مخ ليدلی نه‌دی. د کليوالو پير په يوه کنډواله کې ناست دی او تور ټادر پرې راخور دی. پير تر ټادر لاندې خلکو ته وعظونه کوي. د کليوال پير طريقه په ورانۍ ولاړه ده، دغه پير خپل کليوال لارويان له ودانۍ ځخه ويروي او په کنډوالو کې يې ژوند ته هڅوي. پير وايي :

- ودانۍ ورانې کړئ او خپلې کنډوالې وساتئ، برکت په خاورو کې دی، پرزمکه ويده شئ ! نيمه سپوره وخورئ او په ودانۍ پسې مه ګرځئ ! دا دونيا د کفارو وداني ده، زموږ نه‌ده!

په تور ټادر کې پټ پير، خلک له کار او کرنې ويروي او د پاکو رڼو اوبو ښښل ناروا ګڼي. خلک له خندا ځخه منع کوي او د ماشومانو لوبې يې خوښې نه دي .

ځو کليوالو يوځل د خپلو ماشومانو لپاره د زده کړې يوه ښکلې سپينه خونه جوړه کړه، خو تر تور ټادر لاندې پټ پير پرې خبر شو او خپلو مريدانو ته يې حکم وکړ، چې سپينه شوې خونه رنګه کړي. سبا چې ماشومان سبق ته راغلل، که ګوري، چې له سپينې خونې تور لوګي پاځيږي او رنګه بنګه سوزي ....

ببرسري لارښود، د کليوالو په سلوک وخندل، ښه په کرس يې وخندل اوخپل لاروي ته يې وويل :

- په توره پرده کې پټ پیر به تر هغو پېشوا او مرشد وي، چې خلک په کندوالو کې ژوند کوي، وداني د دغه دروغجن پیر- مریدي پای ته رسوي، نوله دې کلي څخه باید په منډه ووځو، په داسې کلي کې پاتېدل نه ښايي، چې پر ورانې ( اعتقاد) لري.

# دوپنځوسم منزل

# د سپېڅلیو خونړیو ښار ته راغلو

لمرلوېده (د مقدسو ګنهګارانو) ښار ته ورننوتل، لاروی هرڅه ته ځیر و، ښار تیاره، کوڅې لړلې او ښاریان خوار و ډنګر ښکارېدل، د ښار فضا غمجنه وه، تر کورونو هدېرې لوېې وې، هر چا خپل ځیزونه له بل څخه ساتل او ماشومانو هر نارینه ته په وحشت کتل. ښځې خېرنې او ترهېدلې وې اوخلکو کورونو ته غټ غټ کولپونه اچول .

لاروی لومړنی ښاري، چې د ده له څنګه تېرېده، ودراوه او پوښتنه یې ترې وکړه :

- ولې دې ته (د مقدسو ګنهګارانو) ښار وایي؟

ښاري په وېره وېره ځواب ورکړ :

- د دې ښار مشران وژونکي او غله دي، د ښار ښې زمکې او ښه کورونه د دوی دي او دا نور ټول ښاریان د دوی مریيان دي .

وژونکي او غله خپل ټول کړه وړه مقدس ګڼي او ښاریان یې په دې قانع کړي، چې هر هغه څه چې دوی کوي، ښه کوي او همدا د دین امر دی. د دوی هر عمل ثواب دی او دوی مقدس وګړي دي. ښاریان چې خپل هرڅه یې د همدې مشرانو د کړنو له کبله له لاسه ورکړي دي، لا هم همدا مشران مقدس ګڼي او باور پرې کوي. د دوی وژنې، غلاوې او نارواوې هېروي او شپه و ورځ د دوی لپاره دعا ګانې کوي .

له نورو ښاریانو سره د دوی توپیر همدا دی، چې دوی خپله هره ګناه مقدسه ثابتولای شي .

ببرسري لاربښود کړس کړس وخندل او د خپل لاروي پر اوږه یې لاس کېښود :

- په یاد ولره! هغه ښاریان، چې وژونکي او غله مقدس راهبان ګڼي، هغوی به تر ابده د ګناه له ویرې مرییان پاتې شي .

بل‌خوا، هغوی چې خپل جنایتونه د مقدسو کړنو په نامه پرخلکو تپلای شي، تر ابده به باداران وي .

او لاروی یوې پټې ویرې ولړزاوه...

# دريپنځوسم منزل

# له دوښمنو سلا غواړې؟

له يوې وچې او جل‌وهلې دښتې تېرېدل، ناڅاپه د تاريخ په هديره ورپېښ شول. په دښته کې د خاورو يوه لويه ډېرۍ وه او پر سر يې زړې جنډې رپېدې. قبرونه نه‌ومعلوم، داسې ښکارېدل، لکه پر يو لوی قبر چې ورپېښ شوي وي. د ډېرۍ ترڅنګ يوه وچه ونه ولاړه وه او د ونې ډډ ته يوه لويه دړه ايښې وه، لاروی د هديرې ډبرليک ته ورغی او داې په کې ولوستل :

- »دلته يو لوی قوم خښ دی، يو غيرتي قوم، چې زرګونه کاله تاريخ يې درلوده، يو مېړنی او اتل قوم، د زمريو په څېر زړور او د شاهين په څېر لوړهمته قوم... يو وخت يوه ګاونډي قوم دلته ورته يوه لويه کنده و ايستله، د غيرتي قوم څو وګړي ور ولوېدل او بيا د قوم نور وګړي د تربورګلوۍ او خپلمنځي بديو په ټېل کې ورټېل وهل شول، لويه کنده ګاونډيانو لا پسې پراخه کړه او غيرتي قوم خپلو کې سره داسې ښکېل شو، چې يو بل يې ورټېل وهل. کلونه روسته ټول قوم په کنده کې و. د قوم څو هوښيارانوخپلې جامې يوه له بلې سره وتړلې او له ټولو جامو څخه يې يوه زينه جوړه کړه، چې له کندې څخه قوم پرې راوباسي، ګاونډی راغی او له پاسه يې ورغږ کړ :

- له جامو څخه زينه جوړول لوی کوپر( کفر) او ستره ګناه ده، ځکه که جامې وباسئ، مومنان به بربنډ او لغړ شي.

پوه شئ ! چې لغړتيا لويه بې حيايي او ګناه ده. بيا بل ګاونډی راغی او دوی ته يې ګوګړ وروغورځول، فتوا يې ورکړه او ځينو غيرتيانو له جامو څخه جوړه شوې زينه د ثواب په نيت وسوزوله ...

ګاونډیو چې د زینې لوګې ولیدل، ښځو او نرو د کندې ترغاړې له خوښۍ بربنډ ونڅېدل .

بل ځل ګاونډیانو په کنده کې د غیرتي قوم غیرت راوپاراوه او دوی یو د بل د غوښو خوراک ته وهڅول. د ګاونډیو فتوا وه او په کنده کې راګیر قوم یو د بل د غوښو خوراک پیل کړ...  تر دې چې ټول همدلته پوپنا شول او ګاونډیو قومونو د تل لپاره خاورې پرې ورواړولې او خښ یې کړل»

لاروی وارخطا شو او د خپل ببرسري لارښود لمن یې ونیوله. چې:

- دا څه دي؟

لارښود کټ کټ وخندل او غږ یې په دښته کې تاوراتاو شو :

- هغه ولسونه، چې د دوښمن په دروغجنې ملګرتیا تېروځي او د خپلې تباهۍ فتوا ورڅخه غواړي، همداسې به د تاریخ تر ډېریو لاندې ورکیږي.

# څلورپنځوسم منزل

## یو سړی لکه د ستورو روان سیند

ببرسري لاربښود خپل لاروی ودراوه او پرېږپېنه‌ښوده، چې د خونړي ښار خواته وړاندې ورشي. د خونړي ښار د هسکو دیوالونو له شا د تورو او جګړو چکاچاک راته، د ښار له ځینو برخو به ناڅاپه لنبې او تور لوګي پورته شول. تورو نه د ماشوم سینه کتله او نه د ښځو ټټر بس پورته کېدې او ښاریان یې وژل...

لاروی ودرېده، له ښاره پورته شوو لنبو یې په سترګو کې رڼا وبرېښوله، له خپل ببرسري لاربښود څخه یې پوښتنه وکړه :

- زما لاربښوده!

دلته څه کیسه تېره شوې ده او څه روان دي؟

لاربښود دا ځل کړس کړس ونه خندل، یوازې موسک شو :

- د خونړي ښار خلک په یوه توره ناپوهي او جهل کې ډوب وو، لوی خدای پر دوی یو هوښیار او نوراني روحاني مشر ولوراوه، روحاني راغی خلک یې د جهل له تیارو راوایستل، ښاریانو ته یې سوله، مینه او عاطفه وروبښل... یو وخت ناڅاپه روحاني له ښاره ورک شو، ښاریانو ګومان وکړ، چې روحاني مړ شوی دی. ښاریانو د هغه لاربښوونې، پندونه او دعاګانې د دین په څېر ومنلې او د هغه د لارې په پاللو کې یې تعصب پیل کړ. بیا روسته دوه درې ډلې شول، هرې ډلې ځانونه د روحاني ریښتیني پیروان او مومنین ګڼل او بله ډله یې د روحاني له سمو لاربښوونو څخه ببلارې او کافران ګڼل، د تکفیر ټاپې زورورې شوې او بالاخره په شخړو واوښتې. اوس پېړۍ واوښتې او دوی د مینې، عاطفې او سولې د روحاني په نامه یو بل سره وژني او د کفر و ایمان تلې یې په لاسونو کې دي .

لاروی نور هم له ښاره د پورته کېدونکیو لنبو ځلا ته ځیر شو، ببرسري لارښود دا ځلې یوه ترخه خندا وکړه :

- خواشیني خو دا ده، چې څو کاله روسته د میني مبلغ روحاني بېرته ښار ته راستون شو، هیچا ونه پېژانده، ده خلکو ته وویل :

- تاسو زما لاره پرېښې ده، ما تاسو ته سوله او مینه راوړې وه، تاسو ولې د کفر و ایمان په نامه یو بل وژنئ؟

خلکو په لارښود پورې وخندل، د هغه لاره یې په وینو سره کړه او د ده په سوله ییز ژوند پسې یې د تورو، حماسو او وژنو دروغجنې افسانې وتړلې. روحاني ناهیلی له ښاره ووت او د تل لپاره ورک شو .

ښاریان بېرته سره ونښتل او دا دی تر نن پورې د روحاني د ریښتینې پلوۍ په نامه سره وژني .

له ښاره پورته کېدونکو لنبو دا ځل د لاروي پر مخ هغه رڼه اوښکه وځلوله، چې د ده له ځلانده سترګو څخه رارغړېدلې وه .

# پينځه‌پنځوسم منزل

# کتيبې دي د ويلو،

# دا ډېرې ولې پرښتئ؟

د زيارت سيمې ته ورسېدل. ښځېنه و نرينه په يوه زړه ودانۍ کې راټول شوي وو. په ودانۍ کې دننه په يوه لرګين بکس باندې په سلګونو سرې او شنې ټوټې پوښل شوې وې، بکس نه ښکارېده، په زري او رنګارنګ ټوکرو کې پټ و. زيارت کوونکي خوار او رنځور ول، د ټولو ګېډې د ملا په تيرونو نښتې وې، زېړ زبېښلي وو او ايله په لاره تلل .

لاروي له يوه زيارت کوونکي وپوښتل :

- دا خلک ولې خوار و نهر دي او دا زيارت څه نوميږي، په بکس کې څه دی؟

سړي ځواب ورکړ :

- د دې سيمې خلک کاختۍ ( قحطي) وهلي وو، هېڅه يې د خوړلو لپاره نه لرل، ولږې او وبا هره ورځ ماشومان او بوډاګان وژل او ځوانان يې له پښو غورځول ...

يوه ورځ يو نوراني سړی راغی، په لاسونو کې يې څو ډېرليکونه ( کتيبې) وو. سړي وږيو او نهرو خلکو ته وويل :

- په دې ډېرليکونو کې ستاسو د ژغورنې لارښود ليکل شوی. د ډېرليکونو په لارښود عمل وکړئ او ځانونه له ولږې وناروغۍ وژغورئ !...

نوراني سرې ډبرليکونه د همدې زيارت په تش ځای کې په يوه ډبره کېښودل او پخپله ورک شو ....

په وړيو او نهرو خلکو کې اوازه شوه، چې هرڅوک په ډبرليکونو لاس وموښي، يا يې ښکل کړي نو په ولړه نه پوهيږي، ناروغي يې جوړيږي او داسې مړيږي، چې خوړو ته يې زړه نه کيږي ...

بس ډبرليکونه په لوی کمر ايښي وو او خلک ډله ډله راتلل او ښکلول يې. ورو ورو يې پرې زيارت جوړ کړ او له هغې زمانې تر نن پورې زيارت کوونکي راځي، د تبرک لپاره زيارت ته څېرمه واښه او د ونو پاڼې خوري په ډبرليکونو شونډې او سترګې موښي او بېرته ځي ....

لاروی خپل لارښود ته سترګې ورواړولې ، بېرسري لارښود چې د خپل لاروي په سترګو کې پوښتنې ولوستې، نو کټ کټ په خندا شو، داسې يې وخندل، چې زيارت کوونکي يې حيران کړل، بيا يې وويل :

- دې خلکو هيڅکله، ان يوځل هم ډبرليکونه ونه لوستل، له ولړې د خلاصون په لارښود پوه نه شول، خو په پټو سترګو يې د پير لمانځنه پيل کړه ...

نو پوه شه! دا خلک ځکه واښه او پاڼې خوري، چې د ولړې لارښود يې ونه لوست، ځان يې پرې پوه نه کړ، بلکې له هغه يې زيارت جوړ کړ.

# شپږپنځوسم منزل

# په خوب پرېوتل او ډوب شول

په ښار کې ماتم و. څو ورځې وړاندې سیلاو راغلی و او ډېر ښاریان یې وړي وو، ښارېې نړولی او ودانۍ یې غورځولې وې. یوه غمجن ښاري چې سیلاو یې کورنۍ ورڅخه وړې وه، لاروي ته وویل :

- پاچا ته مو وویل، چې د اوبو بند جوړ کړي، خو پاچا زموږ خبره ونه منله، اخر سیلاو تباهي وکړه، پاچا خو په ماڼۍ کې بېغمه ناست دی سیلاو موږ تباه کړو ....

لاروي خپل ببرسري لاربښود ته مخ وروااړاوه او پاچا یې په کرکه یاد کړ .

ببرسري لاربښود وخندل او په کړس کړس خندا یې ښاري ته وویل :

- ستاسو ستونزه دا ده، چې د سیلاو له ګواښه خبر وئ، خو لا هم پاچا ته په تمه وئ، پاچا په دې پوهېده، چې سیلاو خلک وړي، نه د پاچا خاندان .

ښاري وپوښتل:

- یه لاربښوده! نو موږ باید څه کړي وای؟

ببرسري لاربښود دا ځل مخامخ د ښاري سترګو ته وکتل او په توند لهجه یې ځواب ورکړ :

- همدا تا باید پیل کړی وای، هر ښاري باید رامخکې شوی وای، تاسو باید سره یوځای شوي وای او په ګډه مو بند تړلی وای، همدا تا باید ښاریان راټول کړي وای، چې بند وتړي او که تا دا همت کړی وای نن به ریښتینی پاچا ته وې، نه په شاهي کلا کې هغه ناست سړی.

# اووه‌پنځوسم منزل

# لیونتوب ته هم مزدک شته

د جنوني مزدک سیمې ته ورسېدل. مزدک زوړ و او اوس ځوک له ویرې نه ورتلل. ببرسری لاربښود او د هغه لاروی مزدک ته وروختل، چې څه ګوري؛ پر دیوالونو یې د جګړې شیې انځور شوې دي. په انځورونو کې یوې ډلې د بلې پرسینو نیزې خښې کړې وې او هاخوا دې بلې ډلې له خپلو سیالانو څخه سرونه غوڅول .

لاروي د ببرسري لاربښود لمن ونیوله، چې د مزدک راز ورته ووایي .

ببرسري لاربښود د مزدک برسر کې تورې تیرې ته سترګې ځیر کړې وې او ناڅاپه یې کړس کړس وخندل، د لاربښود خندا د مزدک په تشې او تیارې فضا کې داسې انګازې وکړې، چې لاروی وډار شو، ناڅاپه لاربښود مخ راواړاوه او دخپل لاروی په سترګو کې یې سترګې ورخښې کړې :

- دغه مزدک عجیب طلسم درلوده، چې ځوک به په ښي لاس پرې راتاو شو، هغه به یې دومره ګروهمن (معتقد) کړ، چې د مزدک په مینه کې به یې توره له تېکې راوکښله، خو که زیارت کوونکی به په کیڼ لاس ترې راتاو شو، نو دومره به یې د مزدک په وړاندې کرکه او کفر زیات شو، چې نیزه به یې راپورته کړه او د مزدک پر ګروهمنو به یې ورهی کړل .

په جنوني مزدک ګروهمنو او ناګروهمنو لسیزې لسیزې یو بل سره ووژل، خو هیڅ هوښیار پیدا نه شو، چې د مزدک په برسر کې هغه توره ډبره وپلټي، چې د

دې طلسم راز په کې وموندلای شي.  جنوني مزدک د زرګونو انسانانو وينې وبهولې او چارپېره کلي تش شول .

اوس ليوني بادونه په تشو کنډوالو کې تاوېږي راتاوېږي او په هغو انسانانو پسې سندرې وايي، چې د مزدک د بې بريده مينې يا دوښمنۍ په ليونتوب کې د يوبل د تورو او نيزو خوراک شوي دي.

# اته‌پنځوسم منزل

# توره سمڅه کې ښامار دی

لاروي، ناڅاپه د خپل ببرسري لارښود لمن ټینګه کړه او د هغه حکیم په اړه یې ورڅخه وپوښتل، چې ویلي وو :

- « د انسان په اروا کې یوه ژوره او بېپایه توره سمڅه ده، غریزې، عقدې او شاته وهل شوې غوښتنې په دې سمڅه کې د وړو وړو چینجیو په څېر یو بل خوري، زورور او غټ چینجي واړه او کمزوري هغه تر کومې تېروي او لا پسې چاغیږي او غټیږي، ورو ورو د چینجیو شمېر کمیږي، خو ژوندي پاتې شوي چینجیان په غټو غټو مارانو بدلیږي... په پای کې یو لوی مار چې تر ټولو زورور دی وروستي ژوندي پاتې شوي ماران خوري او په خپله په یوه لوی ښامار بدلیږي، همدغه ځانځاني ښامار دی، چې یو وخت له تورې سمڅې څخه راوځي او د وجود ښار ته مخه کوي ...»

ببرسري لارښود ورو وموسل، فرزانه حکیم ورپه یاد شو او د خپل لاروي ناڅاپي پوښتنې حیران کړ، یوازې یې دومره ځواب ورکړ :

- موږ او تاسو د هغو خلکو ښار ته ور روان یو، چې د همدغو چینجیو په څېر یو بل سره خوري، خو د ستر حکیم له تمثیل سره د دوی توپیر دا دی، چې دوی نه خلاصیږي، ځکه د هر خوړل شوي چینجي په بدل کې درې نور زیږي او رالوېږي ...

دا چینجي به تر قیامته همداسې یو بل خوري او هیڅکله به د وجود ښار ته راونه وځي. دوی د خپلو باورونو په سمڅو کې بندیان دي، دا چینجي له سمڅې بهر

رڼا څخه ویریږي، دوی له رڼا څخه کرکه لري. دا چینجي نه غواړي پوه شي، چې له سمڅې بهر بله نړۍ هم شته، یوه روښانه او ستره نړۍ، چې یو د بل له خوړلو پرته هم په کې ژوند کېدلای شي. دې خلکو ټوله هستي د خپلو باورونو تر کوشنۍ سمڅې پورې راتنګه کړې ده. د دوی سرشت او طبیعت له همدې درې حقیقتونو څخه جوړ دی :

- په تیاره سمڅه کې ژوند،
- یو د بل خوړل
- او له رڼا څخه کرکه .

لاروی ولړزیده او زړه نا زړه د نوي منزل په خوا وروخوځېد .

# نهه‌پنځوسم منزل

# هغه ځانګه،

# چې وه ماته

# درویزه یې د رڼا کړه

د نیمې وچې ونې مزدک ته ورسېدل، د یوې شنې غونډۍ پرسر یوه ونه ولاړه وه، څه برخه شنه وه او ښکلې پاڼې یې درلودلې، خو یوه لویه برخه یې وچه وه او له ځانګو څخه یې د اور وړې وړې سپرغۍ پورته کېدې، د وچې برخې له ځانګو څخه تور لوګي اسمان ته پورته کېده. پر مزدک راټول شوي زیارت کوونکي ګرد له ونې څخه تاوېدل، چې هغه شنه برخه یې وګوري، خو ونه هم له دوی سره ګرده تاوېده او خپله شنه برخه یې د دوی له سترګو پټوله، زیارت کوونکي ستړي ستومانه وو، خو یوازې یې د ونې هغه وچه اورورینه او په لوګیو توره برخه لیدلای شوه .

لاروی هک حیران شو، له خپل لارښود څخه یې د دې عجیبې ونې راز وپوښت .

ببرسري لارښود وخندل، داسې چې په سترګو کې یې اوښکې وځلېدې :

- ډېر کلونه پخوا په دې کلي کې ناپوهي او جهالت و او خلک په شخړو او ظلم کې ډوب وو، یو نوراني سړی راغی او دوی ته یې د ژغورلو لار وښووله. نوراني سړي د ظلم او شخړو هوا بدله کړه او کلیوال یې مینې، رحم او عاطفې ته راوبلل او د بشپړې سولې تر راتلو روسته غیب شو. خلکو ویل :

- نوراني سړی همدلته د همدې غونډۍ پر سر کلیوالو ته خپلې وروستۍ خبرې وکړې، هغوی یې مینې او عاطفې ته راوبلل او بیا غیب شو. پر هغه ځای،

چې دی د وروستي ځل لپاره لیدل شوی و، دغه ونه راشنه شوه، چې ښکلې پاڼې یې درلودلې او لمر ته به تکه شنه ځلېدله.  خلک به د ونې زیارت ته راتلل او د نوراني سړي کیسې به یې کولې.  ورو ورو یو څو کسان راپیدا شول او ځانونه یې د نوراني سړي شاګردان وبلل، دوی نورو کلیو ته هم ولاړل، چې د نوراني سړي پیغامونه خپاره کړي، خو دوی د مینې او عاطفې پیغامونه له ځانونو سره نه درلودل، بلکې دوی د نوراني سړي په استازولۍ له ځانونو سره تورې او نیزې وړلې او د خواوشا کلیو خلک یې د پیغامونو د خپراوي په نوم وژل او لوټول.  د نوراني سړي شاګردان شتمن کېدل او واکمني یې پراخېده، د دوی له داسې کړنو سره د ونې یوه یوه څانګه ژېړېده، وچېده او د پاڼو پر ځای د اور لنبې پرې زرغونېدې. کلونه روسته د نوراني سړي شاګردان په خپلو منځونو کې سره ونښتل او پر شتمنیو او واکمنۍ یې جګړې پیل کړې، کلیوال یې سره وویشل او بدمرغي پیل شوه. د نوراني سړي د مینې او عاطفې پیغامونه هېر شول او ځای یې کرکې او جګړو ونیوه .

د ونې لویه برخه څانګې د اور په نغریو بدلې شوې او له هماغې ورځې روسته دا ونه خپله کوشنۍ شنه برخه د زیارت کوونکیو له سترګو پټوي .

لاروی لا هم حیران و، خو د ډېرو لوګیو تر شا یې د ونې یوازې څو شنې پاڼې لیدلای شوې....

# شپږتم منزل

# دلته مه پوښته پوښتنې

# دلته نه شته ځوابونه

د ځوانانو په ښار کې ګرځېدل، چې په ګونګه مدرسه ورپېښ شول. دې ښار ته يې ځکه د ځوانانو ښار وايه، چې مشرانو او سپينږيرو يې يو بل سره وژلي او خلاص کړي وو. د مشرانو د خپلمنځي وژنو په کلونو کې د هغوی کوشني يتيمان پاتې شول، چې په تېرو څو کلونو کې اوس را زلمي شوي وو. دوی په دې نه پوهېدل، چې پلرونو يې ولې او د کوم ارزښت لپاره يو بل سره وژلي وو، خو د دومره پوښتنو په منځ کې حيران او سرګردانه لاروي خپل ببرسری لارښود وپوښت، چې د ګونګې مدرسې په راز يې خبر کړي .

لارښود چې وخندل، نو د مدرسې له دروازې سره د ونې له څانګو څو وچې پاڼې په لاره راپرېوتلې، مستانه ببرسري ځواب ورکړ :

- دې ته ځکه ګونګه مدرسه وايي، چې د) ولې؟(،) څنګه؟( ،) چا؟ ) او ( دځه لپاره؟) پوښتنې په کې منع دي. هېڅ زده کړيال نهشي کړای د نړۍ، پېښو، تاريخ او پوهنو په اړه د ( ولې؟) پوښتنه وکړي .

د ( ولې؟) پوښتنه جرم او ګناه ده، چا چې وويل : ولې....؟ نو وژل کيږي .

لاروی بيا وپوښتل:

- نو د ولې؟ په وړاندې ولې قدغن لګېدلی دی؟

لارښود بیا کټ کټ وخندل او ځواب یې ورکړ؟

- د دې ښار مشران دوه برخې شوي وو، یوې برخې به پوښتنې کولې، چې:

- ولې خلک ناپوهه، خوار، وږي او ناخبره دي؟

دوهمې ډلې چې د خلکو له ویښتیا، پوهې او خبریدو ویریدل او په دې کې یې خپل واک وځواک ته ګواښ احساساوه، له پوښتونکیو سره دوښمني پیل کړه او شخړه ونښته، جګړه د ( ولې؟) په سر پېښه شوه او یو نسل ټول تباه شو .

ځوان نسل، چې د ( ولې؟) په سر د جګړې د بلهاریانو یتیمان دي، له دې ډاره چې بیا ونه وژل شي، نور د ( ولې؟) پوښتنه نهشي کړای .

زده کوونکي په ښوونځي کې لولي :

- (ډوډۍ، اوبه، هوا)، خو که چا وپوښتل، چې ډوډۍ له کومه کیږي؟ اوبه ولې شته؟ او هوا څه ده؟ نو د دې پوښتنو لپاره خپل ژوند له ګواښ سره مخامخولای شي. د همدې لپاره په دې مدرسه کې یوازې ښوونکي خبرې کوي او زده کوونکي باید ګونګه روژه ونیسي، یوازې د ښوونکیو خولو ته وګوري او بس .

لاروی، چې له پوښتنو څخه ویریدلی و، بل ځل یې پوښتنه ونه کړه، چې:

- ولې؟

# یوشپیتم منزل

# داسې خلک،

# چې رڼې اوبه څښل په کې ګناه ده!

د لیوني کان ښار ته ورسېدل . دا ښار د یوې لوېې غونډۍ په سر ودان و، ښاریان بېوزله او نهر خلک ول، لاروي واورېدل، چې تر هغې غونډۍ لاندې ، چې ښار پرې جوړ و، د سرو زرو یو لوی کان پروت دی. د ښار یوې څنډې ته له ګڼو چینو څخه د پاکو او رڼو اوبو لویه ویاله رابهېده، خو د ښار خلکو د څاه ګانو چینجنې او خړې اوبه څښلې او د سپینو چینو له رڼو اوبو سره یې کار نه‌درلوده، د چینو اوبه په لویه ویاله کې تر غونډۍ ښکته ګاونډي ښار ته وربهېدې .

لاروی دې طلسم ته حیران شو، چې د وږیو، تږیو او نهرو ښاریانو ژوند د سرو زرو په کان ولې دومره خوار دی؟ او د چینو په داسې پرېمانه رڼو اوبو کې ولې د څاه ګانو خوسا او خړې اوبه څښي .

لاروی له خپل لارښود څخه د دې طلسم راز وپوښت .

لارښود د چینو په اوبو سینه سړه کړه او بیا یې په کټ کټ وخندل، د لارښود له خندا څخه د ښار په کنډوالو کې انګازې وشوې:

- د دې ښار خلک د ګاونډي ښار د څو کوډګرو زاهدانو له خوا طلسم شوي دي. کیسه دا ده، چې د ګاونډي ښار زاهدانو. چې د لیوني کان ښاریان کلکه عقیده پرې لري. په دې ښار کې اوازه ګډه کړې، چې د سرو زرو کان او د رڼو اوبو چینې دواړه پیریان او شیطانان لري. نو که د ښار خلک د کان راایستلو هڅه یا د

چينو له اوبو څخه  څکه وکړي، ټول ښاريان به د شيطانانو په ګناهونو کې ډوب شي او مخامخ به دوزخونو ته ولېږل شي.  په اوني کې يوځل د ګاونډيو زاهدانو استازي راځي او د ليوني کان د ښار په کوڅو کې د پيريانو او شيطانانو افسانې په لوړ غږ تکراروي او ښاريان ويروي .

د رڼو چينو اوبه پاکې او پوره له دې ښاره تيرېږي او د ګاونډي ښار خلک يې څښي او کروندو ته يې ورسموي. همدا راز د ګاونډ ښاريان په تمه دي، چې د ليوني کان د ښار خلک له ولږې، ناپوهۍ او ناروغيو څخه ومري يا دومره کمزوري شي، چې د کان راايستلو وس بيخي وبايلي، هله به بيا د ګاونډيو ښارونو خلک د سرو زرو کان د خپلو ښارونو لپاره راوباسي .

لاروی هک حيران ودربده، د ليوني کان د ښاريانو ساده ګۍ او د ګاونډي ښار د زاهدانو هوښيارۍ ته يې ګوته په غاښ وچيچله  .

# دوه‌شپیتم منزل

# کومې نښې دې ساتلې د لېوانو؟

د یوه لوړ غره په لمن کې یو ښار پروت و، چې د زړو کنډوالو پر بنسټونو یې نوې ودانۍ روغول شوې وې. د ښار په دروازه کې داسې هټۍ وې، چې په کې د لېوانو پوټکي، لکۍ او داسې څېرې ( نقابونه ) خرڅېدل، چې کله به چا په مخ کېښودل نو د لیوانو په څېر ښکارېدل. لاروی حیران شو، چې په دې ښار کې ولې خلک له لېوانو سره دومره مینه لري؟ له خپل ببرسري لارښود څخه یې وپوښتلک

- د دې ښار اوسېدونکي له لېوانو سره څه اړیکه لري؟

ببرسري یوه قهرېدلې موسکا وکړه وېې ویل :

- دغه ښار ته له څېرمه درې څخه کلونه وړاندې څه خلک راغلل، چې د لېوانو نقابونه یې په مخونو لګولي وو، ځینو یې شاته لکۍ هم تړلې وې، دوی دغه ښار لوټ او ویجاړ کړ او خلک یې وداړل. ښاریان د لوی زغم خاوند خلک ول، صبر یې وکړ او ورو ورو یې ښار بېرته جوړ کړ. د لېوانو له سیمې راغلي خلک یې هم په خپل ښار کې وزغمل او په کراره یې د ښاري کېدو په لارو او رودو وپوهول .

خو د لېوانو مینه والو د کال یوه ورځ د ځان لپاره ځانګړې کړه، چې په هغه ورځ د ښار د ویجاړولو او تباهۍ خاطره په شان و شوکت ولمانځي. په دې ورځ څه شمېر خلک د لېوانو نقابونه اغوندي او په ځانونو پورې لکۍ تړي، د ښار کوڅو ته راوځي او ښاریان ځوروي . ښاریان د کال په دغه ورځ په کورونو کې پاتې کیږي او چې ډېره اړتیا پېښه نه وي، له کورونو نه راوځي. ښاریان د خپلو کورنو له کړکیو

د دغې ورځې د ښکلې ننداره کوي او د ښار د ويجاړيو او تباهۍ د زمانې ترخې تجربې راپه يادوي .

لاروي د هڅيو پر دروازو د لېوانو پستو لکيو ته ځېر شو، چې ورځ يې د باد بهير ته خوځېدې، خو دنقابونو په خولو کې د تېرو غاښونو له څوکو ووېرېده او په خپل لارښود پسې ، چې نور د ښار له دروازې څخه وتلو ته نږدې شوی و، په ځغاسته له ښاره ووت .

# دري‌شپېتم منزل

# ګونګوسې دي، اوازې دي

# د چا غوښې يې په خولې دي

(غيبت‌اباد) ته چې ورسېدل، نو لاروی حيران ودرېد، ښار رڼګ او ګڼوډ و. کوڅې له خځلو ډکې وې او د ونو پرپاڼو ګرد ناست و. ښاريان هر کونج کې دوه دوه يا څوڅو سره ناست ول او ټولو خبرې کولې. لاروی چې ښه ځير شو، څه ګوري، چې ټول د ښار د سياستوالو په اړه خبرې کوي او هر يو په بده يادوي. خبرې ګرمې وې، هر يوه د ښاري واکمنو په اړه په دومره جزياتو او دقت خبرې کولې، چې لاروی يې د معلوماتو ژورتيا او پراخوالي ته حيران شو .

لاروي خپل ببرسري لاربښود ته مخ واړاوه او د تل په څېر يې وپوښت :

- د دې ښار او ښاريانو له رازه مې خبر کړه .

ببرسري لاربښود دا ځل د زړه له تله وخندل، داسې چې سپېرې څنې يې ورپرډېدې او له سترګو يې د اوښکو راڼه څاڅکي راورغړېدل :

- دا (غيبت اباد) دی، ټول د خپل ښار په واکمنو او سياستوالو کې غړيږي، دوی په دې پوهيږي، چې کوم سياستوال څو مېرمنې او بچي لري، په دې هم خبر دي، چې د کوم يوه سابه خوښيږي او د کوم يې د اوزې د غوښې کباب. ښاريان خبر دي، چې د کوم سياستوال مېرمن ښکلې ده او کوم يو يې په کور کې له مېرمنې پکو او پاړاب دی؟ د غيبت اباد خلک خبر دي، چې کوم سياستوال غل او دروغجن دی، کوم يې ظالم او وژونکی دی او کوم يو يې خاکسار او بې کبره ....

خو د دې ښاريانو لويه ستونزه دا ده، چې په ښو او بدو ټولو سياستوالو پسې خبرې کوي. د عمر ټوله برخه يې د همدې واکمنو په تول وترازو، ځنډلو، غندلو، ستاينو او دګلو تېر شو. بله ستونزه دا ده، چې که څو زره ښاريان وي، نو د سياست او سياستوالو په هکله نظرونه هم د همدوی په شمېر دي، ځکه خو د يوه شخص، پېښې، سياست او حللارې په اړه لس کسان سره يوه خوله او يو نظر نه شي موندلای.

سياستوال پوهيږي، چې ښاريان دوی ته زيان نه‌شي رسولای، ځکه ټول ايله په غيبتونو بوخت دي او د ظلم، غلا، ناروا او تيري مخه نيولای نه‌شي، دا خلک د عمل خلک نه‌دي. دا ښاريان خپلې کوڅې، کورونه او لارې نه پاکوي، ځکه په تمه دي، چې بدورګي سياستوال د دوی له بدو غيبتونو څخه وشرمېږي او راشي د دوی ښار ورته پاک کړي. نه خو ښاريان په غيبتونو ستړي شول او نه هم واکمن وشرمېدل، کيسه همداسې روانه ده...

لاروی په دې منځ کې وپوښتل :

- زما لارښوده کوربان دې شم، د دې طلسم د ماتېدو راز څه دی؟

لارښود بيا وخندل او ببرې څنې يې وخوځولې :

- هرکله که لس يا سل ښاريان په يوه خوله شول، په يوه فکر سره راټول شول او د حللاره يې وموندله ، نو دا طلسم ماتيږي. تر څو چې څو ښاريان په يوه لاره ګډ تلل سره ونه ازمويي دا کيسه به همداسې روانه وي. د خندا بله خبره خو دا ده، چې ښاريان له خپلو واکمنو تمه لري، چې دوی سره راټول او په يوه لاره روان کړي، هغه څه چې هيڅکله به پېښ نه‌شي .

لاروی دا وخت تر يوې ونې لاندې دوو ښاريانو ته ځيرشو، چې د کوم واکمن پر غندنه يا ستاينه يې يو بل له مرۍ سره نيولي او دواړه ببلو ببلوخلکو ته ښکنځلې کوي ....

او دا لومړی ځل و، چې لاروي هم دې ننداره ته کړس کړس وخندل .

# څلورشپېتم منزل

## چېرته چې «بازي» ده، په دې «ځي» ده!

 ببرسرى لاربنود او د هغه مخلص لاروى د خپل سفر په لاره څلورشپېتم ښار ته ورسېدل. د ښار د رنګې  دروازې په سر د دوو زمريو څېرې جوړې وې، چې يو بل يې له ښځونو رانيولي او جنګ کوي، همدا چې په دروازه ورننوتل، نو د دروازې پاسبانان يې وليدل، چې د زرکانو قفسونه يې پرانيستي دي او زرکان جنګوي، د زرکانو مشوکې او ډډې په وينو سرې وې. د ښار په لوى ميدان کې ګڼ خلک راټول شوي وو، لاروي ګومان وکړ، چې د ښار پاچا به خبرې کوي او خلک به يې اورېدلو ته راټول وي، په تلوسه ورغى، خلکو نارې وهلې :

. وې‌يې نيسه !

. هله پلاره ! له ستوني ونيسه !

. خړى يې ګټي ! شرط دى !

. نه برګى ګټي ...

لاروي د خلکو د کړۍ ترمنځ دوه غټ سپي وليدل، چې يو په بل يې د وينو ليښتي رابهولي دي ... لاروى خواشينى له ګڼې ګونې راووت او په خپل لاربنود پسې يې منډې کړې. ببرسري لاربنود په کرکه د خلکو بلې کړۍ ته وکتل، چې چرګان يې جنګول او هاخوا ګڼ نور خلک راټول ول، چې د مرغانو په جنګولو شرطونه وتړي...

يو ښاري په ببره روان و، لاروي ورمنډه کړه چې د ښار راز  ورڅخه وپوښتي، ښاري مخ ترې واړاوه او دومره يې ورته وويل :

-        وروره ته وزګارېږې، زه بېړه لرم، چې ماښام ته سازيان پيدا کړم .

لاروی خوشاله شو، چې دا يو لږ ترلږه د هنر مينه وال ښاري دی، ګوندې د جنګوونکيو د ښار د طلسم راز ورښکاره وي، نو له روان ښاري يې وپوښتل :

-        کوم واده لرې، چې په ساز پسې ځې ؟

ښاري بدې بدې ورته وکتل :

-        نه ماښام د ( بچه بازۍ) مجلس دی، ما په خپل ( هلک) شرط تړلی، ورځم چې د خپل هلک په غوښتنه برابر سازيان ومومم....

د لاروي تر پښو لاندې زمکه وتښتېده او سر پرې وګرځېد...

دا څه ډول ښار ته راغلی يم، چې هرڅه ( بازي ) او هرڅه ( جنګي ) دي، له مرغ جنګي و سګ جنګي نه نيولې تر (بودنه بازي ) او ( بچه بازي ) پورې؟

وارخطا او ساه نيولی خپل ببرسري مرشدلارښود ته ورغی د هغه په لمن يې لاس پورې کړ، چې :

-        زما لارښوده ! دا څه اورم او دا څه وينم؟

لارښود دا ځل هېڅ ونه ويل، نه يې خندل ، ان چې لاروي ته يې لا ونه کتل، يوازې يې د خپلو ژورو سترګو په اشاره د ښار يوه څنډه وروښووله .

لاروي د خپل ببرسري لارښود نظر پسې واخيست، د هغه د اشارې لوري ته يې وکتل :

هلته د واټ ترڅنګ يو تړلی کتاب‌پلورنځی و، لاروی تړلي کتابپلورنځي ته ورنږدې شو، وره ته د کلونو زوړ کولپ پروت و، چې د غنو په تارونو کې يې رنګ نه ښکارېده، د کتابونو د هڅۍ هيندارې ماتې وې او په دوړو پټ څو کتابونه پراته

ول. داسې ښکارېدل، چې له ماتو هیندارو څخه څوک د کتابونو دغلا هڅه نه کوي. د هغې د یوې هیندارې شاته په یوه زاړه کاغذ لیکل شوي وو :

« زما ښاریان د کتاب اخیستلو پیسې نه لري، خو د جنګي سپیو او نڅېدونکیو هلکانو په سر دومره پیسې شیندي، چې د څلوروګاونډیو ښارونو کتابونه هم پرې اخیستل کېدای شي. زه . د دې ښار بوډا کتاب پلورونکی . د خپل حکیم استاد دلیدو په پار څېرمه ښار ته ځم، چې ترې وپوښتم :

- زما د ښار خلک بېوزلي دي، که احمقان ؟ »

# پینځه‌شپیتم منزل

# موسيقي؛ لکه رڼه چینه روانه...

په کلي وبا ګډه وه . ډله ډله کلیوال مړه کېدل، په هرکور کې دوه درې کسان د وبا له لاسه رنځېدل. د ماشومانو بېله هدیره جوړه شوې وه، د وړو وړو قبرونو کتار هره ورځ اوږدېده . کلیوال د خپلو مړیو خښولو ستومانه کړل. ته وا، په ویاله کې د اوبو په ځای زهر بهېدل او هرچا به چې د ویالې اوبه وڅښلې وبا به وواهه .

له کلي څخه لرې، د غره په یوه څنډه کې، یوه رڼه او پاکه چینه بهېده، خو د کلیوالو ورته پام نه و، چې اوبه یې د کلي خواته راسمې کړي او کلیوال د ککړې ویالې له اوبو څخه خلاص کړي.

یوه ورځ ناچاره کلیوال د مزدک مشر راهب ته ورغلل، دعا یې ورڅخه وغوښته او له وبا څخه یې د خلاصون چاره ترې وپوښتله. راهب په ډېر غرور له څادر څخه خپله څېره راښکاره کړه او کلیوالو ته یې وویل :

- درې ورځې مراقبه کوم، چې چاره مې وموندله، نو روسته به یې دروښیم .

په درېیمه ورځ بیا کلیوال راهب ته ورغلل، په دې ورځ بېرسرې لاړښود او د هغه لاروی هم د خلکو په وروستي کتار کې ولاړ ول، چې وګوري راهب څه چاره ښيي؟

راهب د مراقبې له صومعې څخه راووت په سر راکوډې شوی څادر یې لږ پورته کړ او خلکو ته یې وویل :

- تاسو د سندرو په غضب ککړ شوي یاست. په کلي کې وګرځئ! هر ځای مو چې د ښځمنو چمبه (دایره) وموندله ماته یې کړئ !

د خلیپه ګانو ډولونه وڅیرئ او پرې وخیژئ! شپیلۍ د شیطان تولۍ ده له ټولو شپنو څخه شپېلۍ راټولې کړئ او په اور کې یې وسیزئ !

ټولې هغه مرغۍ چې ښکلی غږ لري ووژنۍ او له کلي یې وشړئ !

هغه پېغلې چې په ودونو کې ټپې وايي ګونګۍ کړئ! رانجه ورکړئ، چې غږونه یې ټپ شي ...

د لاروي رنګ والوت ځیر ځیر یې خپل لاربښود ته وکتل، چې زما لاربښوده دا څه اورم ؟

بېرسري پیر د خپل اوږده کوڅاو لستوڼی خولې ته نیولی و او خندل یې، ورو یې لاروی ته وویل :

- د ککړې ویالې اوبه له ټولو هېرې دي او په غره کې د رڼې چینې پاکې اوبه د هیچا نه دي په یاد، خو راهب له سندرو ځوریږي. وبا په ډولونو او چمبو کې نه ، په ککړو اوبو کې پټه ده ...

دا مهال د غره د رڼې چینې له څنګه د کوم شپانه د خوږې شپېلۍ غږ راغی، راهب په کرکه وروکتل، څادر یې بېرته په مخ راخپور کړ او د صومعې په توره دروازه کې ورک شو .

ناڅاپه، د شپېلۍ خواږه غږکلیوالو ته رڼه چینه ورپه یاد کړه .

شپږشپېتم منزل

بېرحمۍ د عقیدې لمن کړه څېرې

د طلسم شوي پاچا ښار ته ورسېدل، خلکو زوړ پاچا په یوه مانۍ کې کېنولی و او هره ورځ یې د خپلو دسترخوانونو ډوډۍ ورسره ویشله، نوي پاچا یې هم د مشرۍ

او سپينې ږيرې په خاطر عزت کاوه. خو زوړ پاچا به د شپې له ماڼۍ راووت، د وږو وږکيو له څرمنو څخه جوړه خولۍ به يې په لاس کې ونيوله او په هديرو کې به د وژونکيو او بدماشانو په قبرونو ګرځېده، هر قبرته به يې دعا وکړه، جنډې به يې پرې سمې کړې او په ځينو قبرونو به يې اوبه وشيندلې. تر شونډو لاندې به يې نوي پاچا ته ښېراوې وکړې او بېرته به خپلې ماڼۍ ته ورستون شو .

لاروي چې دا حال وليده، نو په حيرانتيا يې خپل ببرسری پير وپوښت:

- زما لارښوده دا څه کيسه ده ؟

ببرسري لارښود ښه د زړه له تله وخندل، داسې چې په سپېره مخ کې يې وينه وګرځېده او رنګ يې سور شو :

- کيسه داسې ده، چې زوړ پاچا له ويرې او يا خدای خبره له ښه نيته د خپل ښار پخواني وژونکي او ډاکوان ونازول او هرڅه يې وروبښل، خلکو ته به يې هم نصيحت کاوه، چې له دوی سره ښېګڼه کوئ، خدای مهربانه دی ورو ورو به ښه شي او غلاغدی، وژنې او تيري به پرېږدي. له دوی سره ګوزاره د ښار په ګټه ده .

زوړ پاچا د بدوګيوغلو په پاللو کې دومره زياتی وکړ، چې دا يې عادت وګرځېد او روسته روسته يې په خپلو کړو باور پيدا کړ، باور يې په عقيده بدل شو او د مړو شويو بدماشانو زيارت يې د عبادت يوه برخه شو. له هماغې زمانې تر ننه، زوړ پاچا د کوشنيو ورکيو له نازکو پوستکيو جوړه خولۍ په لاس، د غلو او تيريګرو په قبرونو ګرځي، دعا ګانې ورته کوي او له ارواوو يې مرسته غواړي. زوړ پاچا نوي واکمن ته په غوسه دی، چې د ده پيران يې ونه پالل، ځکه نو ځينې مړه شول او ځينې يې هم د خلکو له غوسې څخه له ښاره ووتل .

لاروی حيران شو، چې د زاړه طلسم شوي پاچا ستومانې اروا ته وخاندي که وژاړي؟

# اووه شپېتم منزل

# د اروا له سترګو هم اوښکې راڅاڅي

د « لکړې وادۍ»  ته ورسېدل .

د ببرسري لارښود سپېرې څڼې باد خوځولې، لاروی ورپسې و، چې لارښود يې ژوره ساه راوايستله ، د هغه سترګې پټې وې ، په څېره کې يې لومړی د خوښۍ او بيا د يوه ژور خپګان او غم کرښې ښکاره شوې. لاروي د خپل لارښود لمن ونيوله او ويې پوښت :

- زما لارښوده !

له هېڅ ښار يا کلي سره دې داسې ژور روحي تړاو نه و ښوولی.  پوه مې کړه، چې دا کومه وادي ده او ولې يې د لکړې وادي بولې؟

لارښود سترګې پرانيستې، په غمجن غږ يې ورته وويل :

- پېړۍ پېړۍ پخوا دلته يو روښانه، زړور او مهربان مشر اوسېده، چې زوزاتو يې ( بابا) ګاڼه. بابا د دې وادۍ د اوسېدونکيو نيکه و، چې د دوی لپاره يې دغه وادي ودانه کړې او په ميراث پرېښې وه .

ويل کيږي، کله چې بابا مړ کېده، نو خپله لکړه يې خپل يوه هوښيار زوی ته ورکړه او خپلو بچو ته يې وويل :

- دا زما لکړه به ستاسو لارښوونه کوي، له هرچا سره مو چې زما لکړه وليده، د هغه ملګري اوسئ او دخپلې وادۍ له دوښمنانو سره د همغه په مشرۍ جګړه وکړئ، چې واک مو خپل وي .

بابا مړ شو، اوس یې د دې وادۍ پریوه لوړه غونډۍ قبر جوړ دی،  یوه پېړۍ روسته د بابا لکړه ورکه شوه، خو چا یې غل ونه مونده. د هغه اولادونه په جګړو او قربانۍ ورکولو کې مشهور ول، ځکه نو د ګاونډ څلورو ښارونو په خپله ګټه د دوی د جنګولو هوس درلوده. د ګاونډیو ښارونو هوښیارو پاچایانو د بابا د لکړې په څېر لکړې جوړې کړې او د لکړې د وادي ځوانانو ته به یې په کال کې یوځل ورښوولې، چې:

- دا ده، ستاسو د بابا لکړه له موږ سره ده او موږ په حقه یو، راځئ له موږ سره ودریږئ!

په وادي کې د بابا زوزات په څلورو برخو وویشل شول او د ګاونډیو ښارونو د پاچایانو لښکرونه یې جوړ کړل. دوی وړیا او د غیرت په نامه جنګېدل، ډېرځله د ګاونډ پاچایانو په زمکو، زرو او مینځو جګړې کولې او وژل کېدل به په کې د لکړې د وادي ځوانان. دا کیسه تراوسه لا روانه ده او هر ګاونډی پاچا د وادي د زلمیو لښکرونه جنګوي. دلته په وادي کې یې میندې، خویندې، مېرمنې یا واړه کوشنیان ورته په تمه وي، خو د ژوندیو جنګیالیو په ځای یې جنازې یا مات وګوډ بدنونه راستانه‌شي. په دې وادي کې تر کلیو هدیرې لوېې دي او په هره کورنۍ کې د وړیو او نهرو کورنیو سترګې په لار دي، چې له کوم ګاونډه به یې د عزیز جنازه راستنیږي ...

زه چې دلته راورسېدم، نو د بابا له خوا مې په اروا غیبي غږ وشو، بابا ژړل او پر خپلو بېخبره غیرتیانو یې ساړه اهونه ایستل. زه د بابا د اروا لیدلو ته خوشاله شوم، خو روسته مې یې د ژړا په اورېدو ځان د خپګان په سمندر لاهو ولېده .

لاروي د پراخې وادۍ په منځ کې کنډر کورونه، پراخې هدیرې او شاړې کروندې لیدلې، چې خاوندانو یې د بابا د لکړې په نامه د پردیو جګړو په ډګرونو کې یو د بل وینې بهولې .

# اته شپیتم منزل

# موږ د وږیو له ټبره؟

د یوه ساړه ژمي په ګردجن سباوون کې ، بېرسرى قلندرلاربښود مخکې او مجذوب لاروى ورپسې یوه بې‌نومه هېواد ته ورسېدل. هېواد ځکه بې‌نومه و، چې اوسېدونکي یې په یوه نامه نه سره جوړېدل.

د هېواد په یوه څنډه کې پخوا د شنو اوبو لوى ډنډ و ، د دغه ډنډ په شاو خوا پرتو خلکو ټینګار کاوه، چې:

- هېواد دې یې ( ډنډاباد) ونومول شي .

په بل کونج کې لوړ غرونه ول، چې په سر یې ځنګلونه باد ته کاږه واږه کېدل، د ځنګلونو خلکو ویل:

- هېواد باید (ځنګلستان) ونومیږي .

په هېواد کې یوه برخه خلک دې ته غره ول، چې د هېواد خورا پخواني اوسېدونکي دي او د غنمو کروندې لري، ځکه یې خوښه دا وه، چې بې‌نومه هېواد ته د ( غنمرنګو هېواد) نوم ورکړي. شپنو او چوپانانو ویل :

- دوى به هېڅلکه دغه هېواد له (شپون ورشو) پرته په بل نامه ونه نوموي .

لاروى د بې‌نومه هېواد په اړه همدومره پوهېده، خو کله چې د ژمي په ترخه سهار ورننوتل نو دا هېواد یې لکه سړه هدیره داسې بې‌روحه او بې‌خونده وموند. د خپل بېرسري لاربښود لمن یې ونیوله او د هغه ترمخ یې زنګون کېښود:

- زما مبارکه لاربښوده ! راته ووایه، چې په دغه هېواد څه ټکه لوېدلې ده .

لاربښود وخندل، ببرې ځنې يې د واورو او کنګل يخې سيلۍ ته ونځېدې او لاروی ته يې وويل :

- د بېنومه هېواد د خلکو ترمنځ د نوم اېښوولو لانجه اوږده شوه او خبره دوښمنۍ ته ووتله، تر دې چې دوی ډله ډله، تورې او ډبې په لاس کې، په يوبل پسې راووتل. د ځنګلونو اوسېدونکي راغلل او د اوبو د شين ډنډ يو ديوال يې ونړاوه، چې اوبه د ګاونډي هېواد خواته وبهيږي او ډنډ وچ شي، بيا به نو د ډنډ اوسېدونکي د خپل ډنډ نوم په دوی نه تپي. د ډنډ شاوخوا هېوادوال له لويو ارو او تبرونو سره په ځنګلونو ور توپې شول او د ځنګلونو ونې يې وربېلې، چې له ځنګله سره يوځای د ځنګله نوم هم خاورې ايرې شي. شپنو او چوپانانو د غنمرنګو درمندونه وسېزل او غنمرنګو د شپنو او چوپانانو په رمو پسې د قصابانو چړې ګرځولې، تر دې چې ټولو خپلې شتمنۍ وبايللې، خو بېنومه هېواد د نامه خاوند نه شو .

لاربښود لاکيسه کوله، چې په لومړۍ کندواله کې لس . شل وچ ډنګر ببرسري په مخه ورغلل، د دوی ګېډې د ملا په تيرونو پورې نښتې وې، لينګې يې لړزېدل او سترګې يې کوړاغې کوړاغې راوتلې وې. دوه. دربېيو يې د جوارو وچې توکې شپېلولې. دوی چې لاربښود او حيران شوی لاروی وليدل ورته رامنډې يې کړې، ودې شي که کومه مړۍ ډوډۍ ورڅخه بود کړي .

لاروي په حيرانۍ له دوی څخه وپوښتل :

- تاسو څوک ياست؟

د ډنډ که د ځنګلونو، غنمرنګي که شپانه ؟

وچو ډنګرو لاروي ته په وحشت وکتل، او ايله يې دومره ځګيروي له خولې ووتل :

. موږ وږي يو !

# نهه‌شپیتم منزل

# دا هماغه لیونی دی

# په ریښتیا ریښتیا خبرو

ببرسري لارښود د لوړو غرونود کلي په درشل کې، ناڅاپه خپل لاروي ته مخ ورواړاوه او ویې پوښت :

- تا کله د لیوني بابا زیارت نوم اورېدلی دی؟

لاروي ژر ځواب ورکړ :

- کوربان شم زما لارښوده ، نه مې دی اورېدلی .

ببرسري لارښود وخندل :

- همدې کلي ته چې ورځو، د ویالې کیڼې غاړې ته د یوې غونډۍ په سر د لیوني بابا زیارت دی، همدا چې له مزاره یې درې ځلې راتاو شو نو بیا به یې کیسه درته وکړم .

لارښود وړاندې او لاروی روسته درې ځلې له یوه اوږده مزاره راتاوشول، د قبر پر شناخته لیکل شوي ول :

- « دلته هغه څوک خښ دی، چې خپلو کلیوالو ته یې د ورپاټې باورونو او انګېرنو په وړاندې د عقلاني چلن سپارښتنې کولې، له همدې کبله په خلکو کې په لیوني بابا مشهور شو ...»

لاروی تر زیارت روسته، د خپل لارښود لمن ونیوله او د شناختې لیک د رمز و راز پوښتنه یې وکړه .

لارښود د زیارت دننه کړس کړس وخندل، د زیارت په چت کې یوې شین وزرې کوترې ځاله کړې وه او د لارښود له خندا سره له زیارته ووتله، لارښودخپل لاروی ته وویل :

- په دې کلي کې باور داسې و، چې کروندې د مزدک او په مزدک کې د ناست راهب په برکت شنې کیږي او حاصلات کوي، ځکه نو کلیوالو دوه باورونه اودوه  دودونه درلودل .

- لومړی :

د حاصلاتو یوه لویه برخه یې هرکال مزدک ته په زکات کې ورکوله او ایله دومره یې ځانته پرېښوده، چې له لوږې مړه نهشي .

- دویم :

بل دود دا و، چې هرې کورنۍ به خپل مشر نارینه اولاد، هر کال د مزدک په دروازه کې قرباني کاوه، چې راهب یې وینه وڅښي او د قرباني د قبلېدو دعا ورته وکړي. که به چا نارینه اولاد نه درلوده، نو خپله پېغله لور به یې د مزدک راهب ته ور مینځه کړه.

یو کال ناڅاپه په کلي کې دغه لیونی بابا راپیدا شو او خلکو ته یې وویل :

- راهب، مزدک، کروندې او حاصلات هرڅه ستاسو د بچیانو د نېکمرغه ژوند او خوشالۍ لپاره دي، نه دا چې کروندې او ستاسو زامن یا لوڼې د راهب و مزدک لپاره.  عقل وایي، چې دا رابطه سرچپه ده. خپل اولادونه د راهب د خوښۍ لپاره مه حلالوئ، بلکې له کروندو او عقیدو څخه د خپلو کورنیو د خوښۍ او هوسایینې لپاره ګټه پورته کړئ .

د لیوني بابا خبرو خلکو ته ټکان ورکړ، پر خپلو ایمانونو وډار شول، په مزدک زلزله راغله، راهب د خپلو مینځو ترمنځ بربنډ ناست و، همداسې بربنډ راووت او پر کلیوالو یې غږ وکړ، ستاسو عقیده په خطر کې دی، دغه بېحیا لیونی له خپل کلي وشړئ. لیونی بابا ناڅاپه ورک شو، کلیوالو د راهب بربنډ بدن ته پام ونه کړ، خو د هغه په وینا لیونی بابا ریښتیا ورته بېحیا ښکاره شو .

ځینوکلیوالو کلونه کلونه د لیوني بابا پرخبره فکر کاوه، چې راهب، مزدک او کروندې د دوی د ښه ژوند لپاره دي او که د دوی اولادونه او حاصلات د مزدک او راهب لپاره؟؟؟

یوه ورځ لیونی بابا مړ پیدا شو، هیڅوک ونه پوهېدل، چې ولې مړ شوی؟ خو د کلي څو ځوانانو، چې د هغه په خبرو یې باور دلوده، د لیوني بابا مړی د شین وزرو کوترو په همدغې غونډۍ کې خښ کړ. له هغې ورځې راروسته دې زیارت ته د لیوني بابا زیارت وایي .

د لاروي له سترګې یو څاڅکی اوښکه را ورغړېده او شین وزرې کوتره بېرته خپلې ځالې ته ستنه شوه .

# اویایم منزل

# د انسان جوله کې پټ ښاماران پربښتي!

ماښام و او ستوري یو یو په افق راهسکېدل، چې د خونړي ښامار د پربښتونکیو (عبادت کوونکیو) ښار ته ور ورسېدل .

ښار غمجن و او له ماښام سره سم چوپتیا او ویره خوره شوې وه. په کوڅو کې د ښامار د مزدک څو راهبان لرو بر کېدل، له تېکو وتلې تورې یې راایستلې وې او د ویښو ښاریانو لټون یې کاوه. ښاریانو په خپلو کوډلو کې له ویرې څراغونه نه بلول، مه شه چې راهبانو ته ویښ ښکاره شي .

ببرسری لارښود له راهبانو ونه ویریده او د ښار په چوپو کوڅو کې یې د کړس کړس خندا غږ تاوراتاو شو، ښه په لوړ غږ یې خپل لاروی ته وویل :

- د دې ښار له کیسې دې خبر کړم؟

لاروی لاس په نامه کړ، په ملا کړوپ شو او ویې ویل:

- احسان به وکړې، زما لارښوده !

ببرسري لارښود وویل :

- پېړۍ پېړۍ پخوا، په دې ښار کې یو کوډګر اوسېده، چې د انسانانو وینه به یې څښله او د دې لپاره چې وږی پاتې نه‌شي، نو په ښاریانو به یې کوډې کولې. د کوډګر کوډې داسې وې، چې یوه ښاري ته به بل ښاري کافر ښکارېده او بس هر چا به د یوه کافر ښاري د وژلو او ثواب ګټلوهڅه کوله. ښاریان به چې ووژل شول، نو د کوډګر مریيانو به یې جسدونه په شا کړل او کوډګر به یې وینې

وخښلې. داسې ګونګوسي ول، چې د کوډګر مريیانوهم  په لاره کې په پټه  د وژل شویو ښاريانو له وینو څخه یو نیم ګوټ کاوه .

یوه ورځ ناڅاپه په اسمان کې برېښنا شوه او له لویدیځه یوه سپینه رڼا راغله. روسته څه شور جوړ شو او ویرووونکي غړونه واورېدل شول، هغه شپه خورا درنه او ویرووونکې وه. سبا ورځ خلکو واورېدل، چې بېګاه یو ښامار راغی او کوډګر یې له ستوني تېر کړ. ښامار د ښار خلکو ته پیغام پرېښود، چې هېڅوک کافر نهدی او په دې نامه باید څوک ونه وژل شي. خلک له ښاماره وویرېدل او بیا یې یو بل سره ونه وژل . که یو ښاري بل ته کافر هم ښکارېده، خو توره یې نه پرې پورته کوله او د څه مودې لپاره سوله ټینګه شوه، خلکو به په خپل مرګ مړه شوي ښاریان په عزت خښول او چا یې وینه نه څښله .

څو کاله سوله وه، خو یومهال څو کسان بیا راټول شول او د ژغورونکي ښامار  د پرښتنې ( عبادت) مزدک یې جوړ کړاو خلک یې د ښامار بنده ګۍ ته راوبلل. د مزدک راهبانو ویل :

- ښامار ستاسو ژغورونکی دی او له تاسو څخه قرباني غواړي.

 راهبانو د ښامار سولهییز پیغام پټ کړ او یو دروغجن پیغام یې .  د ښامار په استازولۍ  تبلیغاوه، چې ګواکې له خلکو یې قرباني غوښتله .

د تکفیر وژونکي عادت بیا سر راپورته کړ او خلکو به هر ورځ څو ښاریان لاسترلي تر مزدکه راوستل او هلته به یې تورې پرې سرې کړې، د مزدک راهبانو به مړي ، چې تازه وینه به ترې راروانه وه .  ننه ایستل او هلته به یې په پټه وینې ورځخه وخښلې. دا راهبان د پخواني کوډګر مریان ول، چې د وینو په څښلو عادت شوي وو. ښارایانو به هر هغه ښاري کافر او د وژلو وړ ګانه چې په تیاره کې به ویښ و، کتاب به یې لوست او له حقیقته به خبر ول. ویښو ښاريانو د مزدک راهبان پېژندل او وپوهېدل، چې دوی خونخواره دي، د ښامار سولهییز پیغام یې غلا کړی

او له ځانه يې د ښامار په نامه يو خونړی دين جوړ کړی دی، ځکه خو د نورو ښاريانو په فکر ويښ وګړي کافران او د مزدک په درشل کې د حلالولو وړ ول .

د ببر سري لارښود په سترګو کې کوم څه وځلېدل او په خندا يې خپل لاروی ته وويل :

- له هغې زمانې څخه تر ننه، دا کيسه روانه ده. ويښ ښاريان د خپلو عزيزانو له خوا قرباني کيږي او د مزدک راهبان يې وينه څښي .

لاروي وپوښتل :

- ايا راهبان ملامت دي؟

ببرسري لارښود بيا وخندل او ويې ويل :

- نه، ملامت ښاريان دي، ځکه سوله‌ييز دين يې خوښ نه‌دی او ګومان کوي، چې له وينو بهولو پرته د دوی عقيده بشپړه نه‌ده .

- پوه شه! ترهغو به راهبان وينې څښي، چې ښاريان په وينو بهولو عقيده ولري .

# یو اویایم منزل

# روښانتیا د ور کیلي ده

# د نېکمرغه انګړ خوا ته

ببرسری لارښود مخکې او شوریده لاروی يې ترشا، يوه کوشني کلي ته ورسېدل. کلی سمسور و او په ونو کې مرغۍ چغېدې، رڼې ويالې بهېدې او په چينو کې سړو اوبو ستومانه لارويو ته د سينې سړولو ستونه کول. د غره لمن په ورشو ګانو شنه وه. په پټيو کې کرګر په لو و لور بوخت ول. د اوبو ژرنده ټکېده او خلک خوشاله ول. غواګانو شيدې کولې او بزو درې . څلور مرغومې راوړل. په باغونو کې د مڼو او انګورو پريماني وه .

ښايسته مېرمنو خپلو زيارکښو مېړونو ته د غرمې ډوډۍ زمکو ته وروړه او د ويالې څنډې ته يوه پېغله خپل مين ته په تمه وه .

ماشومانو ويره نه پېژندله اوپه شنه ورشو کې په لوبو بوخت وو ...

لاروي ته دا د نېکمرغۍ کلی ښکاره شو، له پاکې هوا يې ژوره ساه راوکښله او له خپل ببرسري لارښود څخه يې د کلي د نېکمرغي راز وپوښت. لارښود ښه په زوره وخندل، د سترګو په کونجونو کې يې خوشالۍ ځل وکړ او خپل لاروی ته يې وويل :

- لسيزې پخوا دا کلی داسې نېکمرغه نه و. په هاغه بره غونډۍ يو مزدک و، چې په کې يو لوی قهرجن بُت ولاړ و. خلکو به دغه بُت پرښته (عبادت يې کاوه). هغه وخت په کلي کې وچکالي وه او د ځارويو ناروغي ګډه وه. خواړه کم ول او خلکو به په غله دانه له يوبل سره شخړې کولې او هر مالت د بل دوښمن و.

د پسرلي يوه ورځ وه، چې يو روښانه سړی راغی. کليوال يې د مزدک ترڅنګ راټول کړل او ويې پوښتل:

- په مزدک کې ولاړ بُت د چا دی؟

کليوالو وويل :

- دا زموږ ستر نيکه دی، چې موږ ټول ترې رازيږېدلي يو، موږ له هغه پيدا يو ځکه يې پرښتو .

روښانه سړي بيا وپوښتل:

- ايا ستاسو نيکه خدای و؟

دوی ورته وويل :

- نه بنيادم و .

روښانه سړي بيا وويل :

- نو تاسو څوک ياست ؟

کليوال :

- موږانسانان يو .

روښانه سړي وويل :

- نو د ژونديو انسانانو د پالنې او هوساينې پرځای ولې د مړو شويو بنيادمانو ډبرې پرښتئ؟

بنيادمان د عبادت وړ نه دي، بلکې بايد د ښه ژوند هڅه يې وشي. تاسو د خپل دين او عقيدې منطق سرچپه کړی دی. ژوندي انسانان نه ښايي د مړو ارزښتونو لپاره قرباني ورکړي، بلکې ارزښتونه او ان دين د دې لپاره دی، چې انسان نېکمرغه

کړي. د پرښتې اصلي ارزښت په تاسو کې پټ دی. خپل زړونه، خپله عاطفه او مینه ولمانځئ. یو بل ته د ښه ژوند لاره هواره کړئ، خپل چم ګاونډ نېکمرغه کړئ، انسان له بدمرغۍ راوباسئ، ترټولو غوره پرښتنه ( عبادت) همدا دی .

کلیوال ، لکه له خوبه چې نوي راپاڅېدلي وي، د روښانه سړي خبرو ته ځیرشول. هغه ریښتیا ویل، خو کلیوال په دې نه پوهېدل، چې د خپلو کلیوالو انسانانو د هوسایني لپاره څه وکړي؟

دا راز یې له روښانه سړي وپوښت .

هغه وویل :

- د ډبرین بُت دا مزدک ړنګ کړئ او په خپلو زمکو اوبه راولئ، له طبیعت څخه د ځان مړولوقلنګ واخلئ، چاپېریال سمسور کړئ او ژوي وروزئ. ستاسو د کلي زمکه، غر، چینې، ورشوګانې او هوا تر دې سړې او تورې ډبرې د خیررسولو ډېر وس لري .

ژوندي انسانان وپالئ! چې تر خپلې طبیعي مړینې پورې نېکمرغه ژوند ولري. ترمړینې روسته به د هغوی لمانځل نه هغو او نه تاسو ته ګټه وکړي .

کلیوالو د روښانه سړي خبره ومنله، ړندې شوې ویالې یې ورغولې، چینې یې پاکې کړې، د ځنګله د ونو وهل یې بند کړل، ورشوګانې یې وروزلې او د غواګانو، رمو ساتل یې پیل کړل .

له هغې ورځې ترننه، مزدک ړنګ او کلی ودان دی. د کلیوالو باور دا دی، چې هره هڅه باید د ژوندي کلیوال انسان د هوسایني لپاره وي؛ همدغه باور د دې کلي د نېکمرغۍ راز دی .

# دوه‌اویایم منزل

# عقلستان او غیرتستان

د زړو تورو هېواد ته ورسېدل .

دا هېواد د عقلستان مستعمره و. کلونه کېدل، چې عقلستان ښکېل کړی و. عجیب هېواد و، ځینې مټور ځوانان او خیرن څېور سړي لګیا ول او زړې زنګ‌وهلې تورې یې په تیږو موښلې، چې پاکې یې کړي .

هېوادوالو  به د ورځې له خوا د عقلستان خیراتي سره ډوډۍ راټولوله ، بیګاه ته به د زړو تورو خیرنو څېورو دغه  ډوډۍ ترې وخوړله او د دوی ماشومان او ښځې به یې په زړو پڅو تورو حلال کړل، وینې به یې ترې وڅښلې او بېرته به غرونو ته وختل، چې زړې تورې په تیږو وموښي .

لاروی له دې وحشته ورېږدېد، د خپل بېرسري لارښود لمن یې ټینګه کړه، پرحلالو شویو ماشومانو او ښځو یې  ژړا راغله او په غریونیولي غږ یې خپل لارښود وپوښت، چې دا څه دي؟

لارښود وخندل، د خندا غږ یې ترهغو غرونو ولاړ، چې هلته خیرنو څېورو خپلې زړې تورې په ډبرو موښلې. لارښود وویل :

-          پېړۍ پېړۍ پخوا پخپله عقلستان هم دلته و. د دې کلیوالو نیکونو د خپلو تورو په زور،  عقلستان له خپل هېواده وشاړه، خو له دروازې وتلی عقلستان د عقل په زور له کړکۍ بېرته راننوت او د دې هېواد یو شمېر وږیو او محتاجو خلکو ته یې سره ډوډۍ وویشله .

یو شمېر نارینه وګرېو ته، چې سره ډوډۍ ونه رسېده، نو د نیکونو زړې . زنګ‌وهلې تورې یې راوویستلې او غرونو ته وختل، چې ګواکې مور. هم د خپلو نیکونو په څېر

له عقلستان سره جګړه کوو، خو دوی هیڅکله د عقلستان په وړاندې مخامخ ونه جنګېدل، بس له هماغه وخته تر نن پورې لګیا دي او زړې زنګوهلې تورې په ډېرو موښې، تورې چې لږ پاکې شي، خیرن څښور کلیو او ښارونو ته راکوز شي، خپلې تورې په ماشومانو او ښځو وازمایي، د خلکو سره ډوډۍ ترې په زوره واخلي، د ماشومانو او ښځو وینې وڅښي او بېرته غرونو ته پورته شي .

عقلستان له دوی سره کار نه لري، خلکو ته وايي موږ تاسو ته ډوډۍ درکوو، د خیرنو څښورو په وړاندې خپله راپاڅئ. خو هرهغه هېوادوال، چې د څښورو دپوهولو هڅه وکړي، نو څښور یې د عقلستان پلویان بولي او په خپلو زړو زنګوهلو تورو یې حلالوي .

د زړو تورو د هېواد هوښیار ځوانان، خیرنو څښورو ته وايي :

- د عقلستان وسله ( عقل) دی او له دوی سره له ( عقله ) پرته جګړه نه کیږي، خو څښور دوی هم د عقلستان مریيان ګڼي او په هوښیارو ځوانانو خپلې زړې زنګوهلې تورې ازمایي .

ځینې خلک وايي، چې دا خیرن څښور له عقلستان سره پټه ملګرتیا لري او د دواړو خبره یوه ده. عقلستان د زړو تورو د هېواد خلک له دغو څښورو ویروي او د همدې ویرې ترسیوري یې دا هېواد ښکېل ساتلی دی. بس د دې هېواد کیسه په همدې کړۍ کې راځرخي او ټول پردۍ سرې ډوډۍ ته ناست دي. د هېوادوالو سره ډوډۍ وچه ده، خو خیرن څښور یې د ماشومانو اوښځو په وینو لمدوي او خوري یې ...

لاروي تر دې هاخوا، د خپل بېرسري لاربښود خبرې نه شوې اورېدلی. ویرې او حیرانتیا داسې ډوب کړی و، چې په ژوره چوپتیا کې یې له مخامخ غره څخه، پر ډېرو د زړو. زنګوهلیو تورو د مښودلو غږ له ورایه اورېده .

# دريېاوياېم منزل

# که دوښمن دې هم انسان دی،

# نو جګړه د څه لپاره؟

په يوه سمسوره لاره مخ په لمرخاته روان ول.  د لارې دواړو خواوو ته رڼې اوبه بهېدلې او د پراخو شنو کروندو په پولو د ګلونو بوټو عطرونه شيندل .

د لارې په سر د يوه دنګ سرتيري انځور هسک شوی و، د سرتيري لاس په غاړه کې پروت او سر يې په ټوټه ټړل شوی و. لاروی د سرتيري انځور ته ودرېد، ښه شېبه يې ورته وکتل، د سرتيري ځېرې او ستومانه انځور پرې اغېز وکړ، د څو شېبو لپاره يې سفر هېر شو.  لارښود روښان چې خپل لاروی داسې وليده، نو لږ تم شو، وړاندې ورغی او د لاروي په اوږه يې لاس کېښود :

-           دا دسولې سرتيری دی.

لاروی حيران شو :

-           څه !  دسولې سرتيری؟ زما لارښوده ، د دې کيسه خو راته وکړه .

لارښود بيا موسکی شو :

-           کلونه پخوا د دې لوېې سيمې خلکو په خپلو کې جګړه کوله، پرديو د دوی ترمنځ د کوډو توره کرښه راکاږلې وه، هريوه لوري فکر کاوه، د شيطان له لښکر سره جګړه کوي .

د جګړې په بهير کې يوه ورځ  همدا سرتيری د خپل دوښمن په سيمه کې ټپي او بې‌وسلې يوازې پاتې شو. له دې ويرې، چې وسلوال دوښمنان يې ونه وژني، د يوه

کور دروازه یې وټکوله. کوربنو ناڅاپه د دروازې شاته، د دوښمن یو ټپي سرتیری ولیده او په کور کې یې پناه ورکړه . سرتیری د خپلو کوربنو چلن حیران کړ، هغوی یې په ټپونو پټۍ کېښودې، ډوډۍ او اوبه یې ورکړل او ده ته یې موسکا وبښله. سرتیری چې لږ ښه شو، نو راووت. مخامخ خپلو خلکو او لښکرو ته ورستون شو، په مات لاس او تړلي سر یې د خپلو خلکو، مشرانو او جګړه مارو د هر کور دروازه وټکوله، شپه او ورځ یې همدا چیغې ووهلې :

- یه خلکو!

هغوی، چې تاسو ته دوښمن ښکاري، همداستاسو په څېر انسانان دي. هغوی شیطانان نه دي، ما د هغوی په کور کې ژوند وکړ. ما هلته یوه مور ولیدله، چې د خپل وژل شوي سرتیري زوی په مرګ یې اوښکې تویولې. ما هلته کوشنۍ ماشومان ولیدل، چې هره ورځ یې د خپل تللي پلار راتللو ته لاره څارله. یوې ځوانې کونډې له ما پوښتنه وکړه :

- زما مېړه مو څنګه ووژه ؟ ایا په وروستیو شېبو کې یې زما نوم یادکړ؟ د هغه په غاړه کې زما انځور ځوړند و، پوه نه شوۍ، چې هغه انځور څه شو؟

ما د دوښمن په کور کې یو سپینږیری پلار ولیده، چې په خپل ورک زوی پسې یې له ډېرې ژړا سترګې سپینې شوې وې او اوس یې څه نه لیدل. سپینږیري ویل:

- زه لاهم خپل زوی په خوب کې وینم .

ما هلته یوه لیونۍ شوې خورولیدله، هغې لا هم د خپل وژل شوي ورور لپاره دسمال خامک کاوه .

یه خلکو !

- ستاسو دوښمنان هم هماغه خدای پرېښتي ( عبادت یې کوي) ، چې تاسو ورته سجده کوئ، په همدې ژبه خبرې کوي، چې زه له تاسو سره غږیږم، هماغه ډوډۍ خوري چې موږ یې خورو .

ستاسو دوښمنان هم نه پوهیږي، چې ولې جنګیږي؟ ستاسو دوښمنانو ته هم موږ د شیطان لښکر ښکاریږو، حال داچې موږ ځانونه د خدای لښکر ګڼو. نه موږ دلیل لرو او نه هغوی چې ولې یو بل وژنو؟

یه خلکو،

یه خلکو!....

دغه سرتیري ډېرې دروازې وټکولې، هرچا ته یې خپله کیسه وکړه، هرچا ته یې وژړل. یو وخت یې ولیدل، چې د ده په خلکو کې هم د غوښې زړونه په ټوپونو دي. د ده له کیسو سره میندو وژړل، ګواکې خپل ورک بچي ور یاد شول. د ده کیسو ته سپینږیرو پلرونو غوږ ونیوه، ماشومان پرې راټول شول او پېغلو خویندو خپل خامکي دسمالونه په نښه ورکړل .

د دې سرتیري خبرو عجیب اغېز درلوده، پوځمشران یې په فکر کې ډوب کړل او هریوه له ځانه وپوښتل :

موږ ولې جنګیږو؟

سرتیري خپل دردونه او زخمونه هېر کړي ول، له سر څخه یې وینې بهېدې او لاس یې پړسېدلی و، خو دی لا هم په لمدو سترګو کور په کور ګرځېده او خپله کیسه یې کوله....

له ورځو یوه ورځ د سرتیري سترېو اغېز وکړ، سرتیری بریالی شو، دواړو خواوو سوله وکړه او د ټپي سرتیري سترګې په سوله کې پټې شوې. دواړو لوریو د خپل ګډ قهرمان جنازه په یوه هسکه غونډۍ خښه او د دې سمسورې لارې په سر یې د هغه یادګاري انځور هسک کړ .

له هغه روسته کروندې شنې شوې، بوټو ګلان وکړل او په ویالو کې رڼې اوبه روانې شوې .

اوس د دې سيمې خلک باور لري، چې د سولې د ټپي سرتيري ستومانه اروا هره ورځ په دغې لارې تيريږي او خلکو ته وايي :

- « تر دې مخکې چې جګړه پيل کړئ، اول فکر وکړئ، چې ستاسو ارزښتونه، غوښتنې او موخې د انسانانو په وينه بهېدنه ارزي که نه ؟ »

# ځلوراویایم منزل

# راهبان د شیطان ورونه

ببرسری لاربښود او د هغه نیازمن لاروی نن د هوښیار پاچا مېلمانه ول. لاروی خوشاله و، خو لاربښود په چورتونو کې ډوب ښکارېده، نن ببرسري لاربښود خپل لاروی له پوښتنو منع کړی و، تر دې مخکې چې د هوښیار پاچا دربار ته ننوځي، نو لاربښود خپل لاروي ته وویل :

- هېڅ مه پوښته، یوازې واوره چې زه له هوښیار پاچا څخه څه پوښتم، د هغه له ځوابونو به په هرڅه پوه شې .

لاروی په تمه و، چې لاربښود به یې له هوښیار پاچا څه پوښتي .

چې مجلس پیل شو، نو ببرسري لاربښود پاچا ته وویل :

- ستاسو او د ګاونډي ښار ترمنځ یو شریک مزدک ( معبد) دی، ستاسو او د ګاونډي ښار راهبان په شریکه په مزدک کې دېره دي، بیا نوولې هلته په عقیده جنګ روان دی، خو دلته د دین جګړه نه شته؟

څنګه ګاونډی ښار بدمرغه او بېوزلی دی، خو تاسو هوسا، ماړه او په سوله کې ؟

پاچا وخندل او ځواب یې ورکړ :

- هو مزدک مو شریک او په کې ولاړ بُت مو ګډ دی، خو ګاونډي ښار شیطان له خپل ښاره شړلی او موږ منلی. شیطان اوس زما په دربار کې زما وزیر دی او زموږ ټوله نېکمرغي، هوساینه او سوله د همدې شیطان له برکته ده .

لارښود بیا وپوښتل :

- نو تاسو ته شیطان څه مشوره درکوي، چې داسې نېکمرغه یاست ؟

پاچا بیا کرس کرس وخندل او کیسه یې وکړه :

- د شیطان اوله مشوره دا وه، چې د ګاونډي ښار راهبان باید راخپل کړو، د خپلو راهبانو شاګردان یې کړو او ویې روزو، بیا یې باید په خپلو ګټو کې راشریکان کړو، همداسې مو وکړل.

د ګاونډي ښار راهبان مو په تنخوا، خوندورو خوړو، ښکلو ښځو او سرو و سپینو ونازول او د دوی په مرسته مو د ګاونډیو ترمنځ جګړې پیل کړې. اوس نو کلونه کیږي، چې د ګاونډي ښار خلک د مزدک لپاره خپل بچي د قربانۍ په نیت حلالوي، پخپله ډوډۍ نه خوري، خو مزدک ته سره او سپین راوړي، پخپله تږي دي، خو په ښار کې روان سیند یې مزدک ته نذر کړی دی، د خپل ښار ټوله شتمني یې لوټ کړې او د مزدک خزانه یې پرې دکه کړې ده .

خو موږ د شیطان په لارښوونه او د ګاونډي ښار د راهبانو په مرسته، ځانونه تر دوی ښه مومنان ګڼو، د سیند اوبه د مزدک ترڅنګه وړیا موږ ته رابهیږي او موږ یې په خپلو کروندو کې لګوو، هغه سره و سپین زر چې د ګاونډي وږي ښاریان یې مزدک ته راوړي، نو موږ یې د ګاونډي ښار د راهبانو په مرسته . چې اوس زموږ مریيان دي . خپلې خزانې ته راوړو او خپل ښار پرې جوړو، خپل لښکر پرې پیاوړی کوو او ځانته پرې خپل ماشومان او زلمیان روزو. مزدک ته د دوی له خوا نذر شوي خواړه او شربتونه وړیا راوړو او خپلو سرتیرو ته یې ورکوو، یوڅه برخه د دوی پلورل شویو راهبانو ته هم په کې ورکوو .

شیطان او د دواړو ښارونو راهبان په ګډه، شپه و ورځ لګیا دي، چې د ګاونډي ښار خلک هوښیاریدلو ته پرې نه ږدي، دوی ته شپه و ورځ د مزدک او په مزدک

کې د اېښوول شوي بُت احکام بيانوو او د دوی ټول فکر و ذکر و عمل او غيرت مو تر مزدک او بُت پورې راکوشني کړي دي. له دوی څخه خپل ښار، اوبه، هوا، زمکه، ځوانان او شتمني هېر ساتو . موږ دوی ته د مزدک او بُت ريښتيني استازي يو او تر دوی ښه مومنان ګڼل کيږو .

په دوی باندې زموږ د پياوړتيا راز همدا دی، چې موږ  د مزدک، بُت او شيطان درې واړو اختيار له ځان سره ساتلی دی او د ګاونډي ښار په خلکو کې مو د عقيدې جګړه توده ساتلې ده...

لاروي چې د هوښيار پاچا دا خبرې واورېدې، نو د ګاونډيو ښاريانو په ناپوهۍ او مظلوميت وردردېده او د خپل ببرسري لارښود لمن يې ونيوله :

- زما لارښوده !

له هغه ځايه مې لرې بوځه، چې پاچا او خلکو يې د خپل اقتدار لپاره مزدک، بُت او شيطان په ګډه استخدام کړي دي.  زما له دې ځايه ويره کيږي .

# پینځه‌اویایم منزل
# که قرباني نه وای،
# جلاد به نه و...

لاروي خپل ببرسري لارښود ته وویل :

-           ماته د هغه وطن کیسه وکړه، چې د خلکو د ایمانونو د ساتنې دعوېدارو په خلکو لوبې کولې، خو خلکو د ایمان د زوال له ویرې هغوی لاهم په خپلو اوږو سپاره ګرځول .

لارښود خپلې اوښلنې سترګې پټې کړې او لاروي لومړی ځل د خپل لارښود ژړا ولیده .

لارښود څه نه ویل، خو لاروي د ایمان‌ساتونکیو جلادانو ګونګ غږونه اورېدل، چې ښاریانو ته وايي:

-           د خپلو ګټو لپاره وجنګېدو او تاسو مو په زرګونو ووژلئ، ستاسو ښار مو ړنګ کړ او ستاسو خویندې میندې مو بې ستره کړې، خوتاسو موږ ته هېڅ ونه ویل، ځکه تاسو په خپلو ایمانونو ډارېدلئ .

بیا مو د خپلو ګټو لپاره تاسو سره وجنګولئ، لاهم تاسو موږ په خپلو اوږو سپاره وساتلو .

دا ځل د خپلو ګټو لپاره سره ملګري شوي یو، چې تاسو به څه ووایاست که نه؟

-           ولسه !

موږ څه وکړو چې تاسو راته یو څه ووایاست؟

لاربښود وژړل او ویې ژړل، د سلګیو تر منځ یې بس همدومره وویل :

- هې ارمان، چې دې ولس له خپلو جلادانو پوښتلي وای، چې:

- پروني جنګونه مو په څه؟ او ننۍ انډیوالي مو د څه لپاره ده؟

هغه ولس، چې د خپلو جلادانو د اختلاف او اتفاق لامل د خدای حکم ګڼي، بې ایمانه له دونیا ځي.

# شپږاویایم منزل

# ژوند ښکلی دی

ببرسری لارښود د چینې ترغاړې کېناست. لاروی لا ولاړ و. لارښود اشاره وکړه، چې کیني. لاروی لاهمداسې ولاړ و، چې لارښود پر سرې چینې ټېټر سوړ کړ او لرې ځنګلونو ته ځیر شو .

دواړه له پراخو ځنلګونو څخه راوتلي ول او د غره په ډډه یې لمرخاته لوري ته مزل کاوه .

لاروی پوښتنه وکړه :

- زما لارښوده!

په ځنګله کې مو مزل کاوه، په یاد مې دي، کله چې باد د یوې ونې ځوانه څانګه په خرپ ماته کړه، ودې ویل :

- «ځینې انسانان اشرف المخلوقات دي، خو ټول نه. »

- بل ځلې مو د غره په لمن کې پړانګ ولیده، چې هوسۍ یې له غاړې نیولې ده او کشوي یې، نو بیا مو همدا جمله تکرار کړه :

- «ځینې انسانان اشرف المخلوقات دي، خو ټول نه. »

- په دې ځایونوکې مو ولې داسې وویل؟ زما لارښوده د دې راز څه دی؟

لارښود لاهم لرې ځنګلونو ته کتل. څېره یې موسکۍ وه :

- په ځوانه څانګه وردردېدم، پرښتنه (عبادت) یې کوله .

لاروی هېښ شو، څه؟ !

- زما لاربښوده !

ایا بوټي هم څښتن پربښتي ؟

د لاربښود موسکا د هغه پر شونډو لاپسې خوره شوه :

- هو څښتن پربښتي، خو هیڅوک پرې نه پوهیږي، ځکه بوټي (ریا) نه پېژني او د خدای په پربښتنه نه سیاست کوي او نه هم سودا .

هو!

لاربښود هغه بنیادمان، چې خدای لمانځنه د سیاست و سودا لپاره کوي، اشرف المخلوقات نه ګڼي .

ژر یې وپوښتل :

- زما لاربښوده ، نو د پړانګ و هوسۍ کیسه څه وه؟

لاربښود موسکا راټوله کړه، غمجن شو :

- ځناور تر بوټو بد دي، ځکه بوټي یو بل ته زیان نه رسوي، خو ځناور (ژوند) وژني. یا نور ځناور ښکاروي او یا هم ژوندي واښه خوري .

خو ځناور، ان داړونکي هغه هم تر ګڼو بنیادمانو غوره دي .

لاروی ساه نیولی شو :

- هغه څنګه ؟

ببرسري سترګې ورواړولې :

- پړانګ هوسۍ ښکار کړې وه او خپلو بچو ته یې کشوله، خو دروغ یې نه ویل. پړانګ او بچیانو یې خواره غوښتل، وږي ول. ځکه یې هوسۍ ښکار کړې وه.

پړانګ داسې نه ویل، چې هوسۍ یې د څښتن د خوښۍ لپاره ښکار کړې، پړانګ نه ویل، چې د هوسیو ښکار د خدای امر دی .

هغه ریښتیا ویل، چې وږی دی، ځکه یې هوسۍ ښکار کړې ده.

- نو پوه شه، چې بوټي (ژوند) ته ترټولو ګټور دي، ځکه خو پرڅښتن هم نازولي باله شي. موږ انسانان او ژوي چې مړه شو، خاورې شو، نو دڅښتن په حکمت له خاورو سره یوځای د بوټو خوراک شوو...

لاروی په ژورو سوچونو کې ډوب و، د لاربښود روستۍ خبرې یې سمې نه اورېدلې، لکه د لاربښود روستۍ خبرې چې باد وړې وي ...

لاروی پوه شو: هغوی چې د نورو بنیادمانو په وژلو ځان مړوي یا واک ورخپلوي او بیا دا انسانوژنه د څښتن امر بولي، تر داړونکیو ځناورو ډېر بد دي...

هو !

«ځینې انسانان اشرف المخلوقات دي، خو ټول نه. »

اشرف المخلوقات هغوی دي، چې (ژوند) یې خوښ دی او ژوند ته ګټه رسوي .

# اووه‌اویایم منزل

# راروان دي

# تور ماران دي

# څه يې سپين دي

# د ګاونډ له مغارو نه

د مارانو مقدسه مغاره

کليوال سره ويشل شوي ول؛ د سپينو ډله، د تورو ډله، د لنډو ډله او د اوږدو ډله .

کله، چې ببرسرى لاربښود وړاندې او پريشانه لاروى ورپسې، دغه کلي ته ورسېدل، نو لاروى حيران شو. څه ګوري، چې هره ډله کليوال يو بل ته نېغ دي او په سپينو، تورو، لنډو او اوږدو يې سره جنګ دى .

لاروي خپل ببرسرى لاربښود وپوښت :

- زما لاربښوده !

څه تور دي او څه سپين؟ کوم لنډ دي او کوم اوږده؟ د دوى شخړه په څه ده؟

لاربښود له خندا شين شو، سترګو يې اوښکې وکړې او لاروي ته يې نکل پيل کړ :

- لسيزې وړاندې په دغه کلي کې يو ښامار واکمن و، چې هره ورځ به يې د دې کلي خلک تر کومې تېرول. هغه وخت د کلي يوه ځوان اتل خلک سره راټول

کړل او ښامار يې پسې واخيست. زخمي ښامار لمرخاته لوري ته په يوه توره سوړه ننوت او هلته ورک شو .

يو وخت  د کلي څو تنه ږيرور راهبان، چې ځوان اتل يې کافر ګڼه، لمرخاته خوا سوړې ته ننوتل او له هغې خوا يې په لمنو کې د سروزرو سکې راوويستلې .

په کليوالو کې ګنګوسه شوه، چې دا سوړه مقدسه ده. ځکه راهبانو د ( دين مغاره ) ګڼلې ده. راهبانو دا اوازه هم ګډه کړې وه، چې د خلکو ايمان په خطر کې دی، دين په خطر کې دی. ځوان اتل خلک کافران کړي دي، هرڅوک دې خامخا د دين ساتنې او ايمان تازه کولو لپاره، د مقدسې مغارې زيارت وکړي  .

له هغې ورځې را په دې خوا دغه مغاره مقدسه ده .

له هغې زمانې  تر ننه ، هره ورځ له مغارې څخه ماران راوځي، څه تور وي، څه سپين، څه اوږده او څه لنډي. ماران راشي، خلک وچيچي، ماشومان او ښځې ووژني او بېرته لمرخاته سوړې ته ستانه شي. مګر کليوال هيڅ نه‌شي ورته ويلای. ځکه د مقدسې مغارې ماران هم  مقدس بلل کيږي .

د خلکو شخړه په دې نه ده، چې د مارانو او سوړې چاره وکړي، شخړه په دې ده، چې سپين ماران ښه دي، تور بد. بله ډله وايي، چې نه لنډ ماران ښه دي او اوږده کرغېړن .

د کليوالو هره ډله دخپلې خوښې ماران لمانځي او له بلې ډلې سره يې دوښمني په همدې ده. په سپينو او تورو مارانو يو ډول ليکې دي. له يوې سوړې راوځي، يو ډول زهر لري . اوږده او لنډ ماران دواړه کليوال هلاکوي .

مګر راهبان اوس هم سوړې ته ننوځي او له هاخوا زرينې سکې راوړي او بيا خلک سره جنګوي، چې تور ماران تر سپينو ډېر مقدس دي يا لنډ ماران تر اوږدو زيات د دين او ايمان ساتنه کوي .

کليوال هره ورځ له تورې مغارې چيچل کيږي، خو دوی لګيا دي، چې سپين ملامت دي که تور؟

لنډ ايمان ته ګټور دي که اوږده؟...

لاروي چې له لرې تورې مغارې ته کتل، د کليوالو په جهالت يې هم وژړل او هم يې وخندل .

لاربښود، چې اوږدې څنې يې باد ته خوځېدې، لاهم موسک و .

# اته‌اویام منزل

# ډبرلیک کې کرښه کرښه

# د دې خلکو برخلیک دی

د کنډوالو منځ کې روان ول. ببرسري لارښود چټک ګامونه اخیستل او لاروي ورپسې منډې وهلې.

پر لار یې سپېره کلیوال له کولنګونو او ببلونو سره په مخ ورتلل، ځینو یې لارې ورانولې، ځینو یې مزدکونه ویجاړول، د روښانه ښوونکیو ټولګي یې لوټل، پلونه یې په ملا ماتول او څه نور کلیوال لګیا ول یو د بل کورونه یې کنډواله کول ...

لاروی حیران شو، خپل ببرسری لارښود یې له لمنې راونیوه او په سیلولې ساه یې وپوښت :

- زما لارښوده ! دا څه کیسه ده؟

لارښود و موسل، د یوې پټې خندا څپو یې اوږې وخوځولې او لاروی ته یې وویل :

- دوی د خپل تقدیر ډبرلیک لټوي .

لاروی لا پسې حیران شو :

- ...نو، د لارو په ړنګولو، د کورونو په لوټلو او د کلي په ویجاړولو؟

لارښود ورته لرې یوه ګڼه ګوڼه وروښووله :

- هو! دوی لا نه پوهیږي .

د دوی د تقدیرډبرلیک هلته دی، همدا اوس به یې پیدا کړي. ببره وکړه، چې ویې ګورو .

دواړو ځانونه ګڼې ګوڼې ته ورورسول .

څه ګوري، چې کليوالو څو پوړه زمکه کيندلې ده او څه کسان يې لګيا دي، په روستي پوړ کې خاورې په لاسونو يوې خوا بلې خواته  کوي .

ببرسري لاربښود، چې سترګې يې ځلېدې، غږ وکړ :

-          ستاسو د تقدير ډبرليک همدلته دی !

ټولو لاربښود ته  وکتل .

دا مهال، په روستي پوړ  کې بوختو کليوالو تر خاورو لاندې د يوې توږل شوې تورې ډبرې څنډه وليدله...

کليوالو په څه خواريو ډبرليک له کيندل شوې کندې څخه راويوست، خاورې يې ترې وڅنډلې. ناڅاپه يوه ليکه په کې راښکاره شوه، چې هيڅ کليوال لوستلی نه شوه .

پر توره ډبره په کوم نااشنا ليک څه کښل شوي وو.

ټولو بيا ببرسري لاربښود ته سترګې ورواړولې .

لاربښود موسک شو، وېې خندل او سترګې يې وځلېدې :

-          دلته يې ستاسو د برخليک مانا ليکلې ده، ستاسو ټول تقدير يوه کرښه ده :

« هغه رڼاوې، چې تيارې يې په ګېډو کې دي !»

د لاروي خوله له حيرانۍ پرانيستې پاتې وه، کليوال هم پوه نه شول، چې د ډبرليک کرښه څه وايي؟

د لاربښود په لمن يې منګولې ټينګې کړې، چې  :

- یه  د سترڅښتن دوسته! دا نو څه مانا؟

لاربښود ورته وویل :

- تاسو ښکېل وئ، د خپلواکۍ لپاره مو پاڅون وکړ. پاڅونوال مو خپله د پردیو مریيان شول او ستاسو خپلواکي یې وپلورله. تر بدو په بدترو یې وپلورله.

دا یوه رڼا چې تیاره یې په ګېډه کې وه .

- تاسو وږي وئ، وزګار وئ، زوروړو زبېښلئ. یوه ډله مو راپاڅېدله، بېوزله او خواریکښو ته یې د کار او ښه ژوند شعارونه پر سر ونیول، خو داسې ونه شول. دوی هم خواریکښ د قهر او اور په لنبو کې لوخړه کړل، دا یې بله رڼا وه، چې تیاره یې په ګېډه کې راوړه .

- پردیو ووېرولئ، چې غله راغلي او ستاسو ګروهه او ایمان درڅخه  لوټي. ځینې راپاڅېدل او تاسو ته یې وویل :

- چې موږ ستاسو ایمانونه ژغورو !

خو ژر دوی هم وپلورلئ او په زرګونو زرګونو یې ووژلئ، لوټ یې کړئ، تالا یې کړئ، ویجاړ یې کړئ. ستاسو ایمانونه یې ونه ژغورل او خپل ایمانونه یې هم وپلورل. نو دا یې بله رڼا، چې تاسو یې په تمه وئ .

- بل ځلې د سپین ایمان دعواګر راغلل، چې ګواکې تاسوبه د لومړیو ایمان پلورونکیو له شر و فساده وژغوري، خو داسې ونه شول دوی هم لوټ او تالان پیل کړ، وژل یې ډېر کړل او د وژلو نوې لارې یې وازموېيلې. دوی ستاسو کړکۍ، دروازې او د تاریخ نښې هم لوټ او ویجاړې کړې. ایمانونه ونه‌ژغورل شول او یوې بلې رڼا هم په ګېډه کې تیاره راوړله .

- ښه  ډېرچې ووژل شوئ، کلي مو کنډواله شول، نو څه نوي خلک راغلل چې موږ دا کلي بېرته رغوو. له پردیو یې د سرو سپینو خیرات وغوښت، خو

پر خیرات سره وران شول او داسې سره ونښتل لکه د ګور چینجي... داسې، یوې بلې رڼا هم تیاره وزیږوله...

همدا ده ستاسو د تقدیر په ډبرلیک کې د لیکل شوې کربښې مانا .

کلیوالو په اوښلنو سترګو ببر سري لاربښود ته وکتل. ګواکې په سترګو کې یې پوښتل، چې:

- نو څه وکړو؟

د لاربښود له شونډو خندا ولاړه، په څېره کې یې غوسه ښکاره شوه، سترګې یې لاپسې وځلېدې او ورته وې ویل :

- دا تور ډبرلیک مات کړئ !

دا ډبرلیک ستاسو دوښمنانو لیکلی دی. را ټول شئ او په ګډه یې مات کړئ!

ولاړ شئ، له خپل غره نه د سپین مرمر یوه ځلنده ډبره راوړئ او پر خپله ژبه او خپل لیکدود پرې ولیکئ :

« پر دې ټولو تیارو به

مور پخپله رڼا راولو،

رڼا راولو !!!»

# نهه‌اویایم منزل

# « هغه باد چې کابل‌خېز دی

# په ما واړه عنبر بیز دی»

د مهو خوړ وړم لګېده.

ببرسری مخکې او ستومانه لاروی یې ترشا د بابا لیدو ته په چټکو ګامو ور روان ول. خوشال بابا درې نیم سوه کاله مزل کړی و، چې د خوړو مهوعطر بیا وڅښي.

د مهو د یوه ترې باغ په کوڅه کې ببرسري لاربنود او بابا سره مخامخ شول، لاروی په ادب لرې ودرېد او د حال و قال د دواړو سترو پوهمنو میینانو خبرو ته غوړ غوړ شو :

ببرسري لاربنود وموسل او د بابا په ځیرو، ژورو او ځلنده سترګو کې یې خپلې ترې او تلوسمنې سترګې خښې کړې او غلي یې وپوښتل :

- بابا څنګه دي؟ بدل شوي که نه؟

د خوشال څېره ناڅاپه ونښېځل شوه، د ببرسري په لیدو راخوره موسکا یې ناڅاپه ونغړله او هسې یې له خولې ووتل :

- نه ! هماغسې .

لاربنود لا خندل او په حیرانتیا یې وپوښت :

- څنګه هماغسې؟

خوشال وویل :

- هماغسې، بې ارادې، بې اتفاقه، ضدي، ناپوه، پرديو ته په تمه ناست، وږي او بې عاطفې .

- پوهيږې لاربشوده؟

زما درد دا نه‌دی، چې د خلکو لپاره مې پردي په پرديو مېنو کې بدې او خونړۍ پرېکړې کوي .

زما د زړه درد دا دی، چې زما ولس لا هم دا نه دي زده کړي، چې پخپله راپاڅي، سره يو شي، اراده وکړي او ځانته واک و ځواک، وطن و برخليک وټاکي .

لا مې هم د ولس ګيله دا ده، چې پردي پرې رحم نه کوي، پردي يې په غم کې نه دي، پردي ورسره ريښتيني نه دي ...

زما ناهيلي دا ده، چې دا خلک لا هم پوه نه شول، چې پردي پردي دي !

د ببرسري لاربشود د خندا لوړ غږ د مېو د باغ په کوڅه کې تاوراتاو شو :

- بابا !

بيا له خپلې تورې سره راشه او ادب يې کړه !

خوشال په ناهيلۍ ورته وويل :

- ويښ خلک به ادب کړې، له ويدو سره څه کوې؟

تورې ته اړتيا نه شته، دوی هر يو لګيا دي، خپل بچي پخپله حلالوي، خپلې ښځې وژني، خپلو کې لکه د ګور چينجي يو بل خوري. نه زما بېرته راتلو ته اړتيا شته او نه مې تورې ته .

زمانه نوې شوې، په مېنو کې عطر نه دي پاتې، باغونه تري دي، خو مغول هماغه دی، لاهور هماغه دی او فرنګ هماغه !

دوی په تمه دي، چې مغول او فرنګ به په لاهور کې داخل پر دوی رحم وکړي .

- زما لارښوده !

راته ویلی شې، چې څومره نور باید ووژل شي؟ ایله که دا زده کړي، چې ترهغو دوی پر ځان رحم ونه کړي، نو مغول و فرنګ و لاهور خو پرېږده، ان خدای به هم رحم پرې ونه کړي؟

او ناڅاپه بابا په سلګو شو، د ببرسري لارښود په غاړه کې یې لاسونه واچول :

- ووایه لارښوده !

ووایه ! څومره ؟ څومره باید نور ووژل شي؟

لاروي ته هم ژړا ورغله، لاروي د مڼو عطر ښکل، خو په دې نه پوهېده، چې خوشال بابا ولې د مڼو عطر ښکلی نه شول ؟

ولې یې ویل، چې :

- په مڼو کې عطر پاتې نه‌دي ؟ !

# اتیایم منزل

# د قربانیو پښې غاړې

# تیروي د جلاد تورې

ببرسری لاربښود د (قربانیانو) له ښاره چوپ تېر شو. هغه پخوانۍ موسکا یې نه وه، چټک ګامونه یې نه اخیستل، ځوړند سر، لوېدلې اوږې او له مرموزې چوپتیا ډکه څېره روان و .

لاروی یې ورپسې و او دخپل لاربښود مرموزې چوپتیا ته خواشینی و .

د لاروي زړه راډک شو او ناڅاپه یې خپل لاربښود وپوښت :

- زما لاربښوده !

ولې چوپ یې؟

لاربښود لا هم چوپ و او کله چې د قربانیانو له ښاره ووت، لاروي ته یې وویل :

- زما چوپتیا له ویرې نه، بلکې له ناهیلۍ ده .

زه په دغه ښاره کې ناهیلی شوم .

دې نه یم ناهیلی کړی، چې د جلادانو په زړه کې ولې رحم نه شته؟ ناهیلي مې د قربانیانو د تسلیمۍ لپاره ده، تا ولیدل چې د ښار ټول خلک د قربانۍ په کتارونو کې ولاړ دي او دې ته په تمه دي، چې کله به یې د سلاخۍ وار رارسیږي؟ جلادان هم لګیادي او له دوی یې سرونه رېبي.

تا ولیدل، چې قربانیان بیخي ډېر او جلادان لږ ول، که قربانیان یوازې بنګېدلي هم وای، جلادان یې کڼول او یوازې یې که د (نه منم !) غږونه پورته کړي وای، نو د جلادانو له غوږونو او سږمو به یې ماغزه را بهولي وای.

خو پوهېږې دوی ولې اعتراض نه کاوه؟

لاروی په تنده ځواب ورکړ :

- یا لاربښود بزرګه ! راته ووایه، د قربانیانو د اطاعت راز څه دی؟

بېرسري لاربښود داسې پټه موسکا وکړه، چې دا ځل لاروی هم ونه لیدلای شوه، لاربښود وویل :

- قربانیان د جلادانو له تورو، چړو او ساتورونو نه ویرېږي، بلکې دوی له خپل ناسم باور څخه ویرېږي .

جلادانو د قربانیانو باورونه ترې اخیستي. په قربانیانو یې دا منلې، چې جلادان د خدای استازي دي او هغه څه چې کوي، د خدای غوښتنه ده ...

په دې ښار کې خلک په جلادانو او قربانیانو وېشل شوي دي، ژغورندوی نه شته .

که ژغورندوی را پیدا او قربانیان قانع کړلای شي، چې جلادان یوازې جلادان دي بس. دوی نه خو د خدای استازي دي او نه یې هم کړنې د خدای غوښتنه ده ! نو په ښار کې د وینو روانې ویالې وچېدلای شي .

پوه شه، چې د دې ښار برخلیک، غمیزه او تاریخ د دغه باور په بدلون پورې تړلي دي!

# یواتیایم منزل

# تور طاعون ، تورطاعون

د لاروی زبون وهل شوی و.  ببرسری لاربښود يې هم په خود نه ښکارېده، هېڅ يې نه موسل .

لاروي يې لمن ښکل کړه او په ژړغوني غږ يې وپوښت :

- یا لاربښوده ،

د هغه ښار کیسه راته وکړه، چې په تور طاعون اخته شو.

د لاربښود په سترګو کې یوازې تور و سپین ول، رنګونه يې لیدلای نه شول ،

ببرسري لاربښود ته  دونیا توره و سپینه ښکارېده... خندلای يې نه شول:

- پوه شه، چې تور طاعون هیچا نه پېژانده، خو ټول پرې پوهېدل.

- ماړه پرې نه اخته کېدل خو وږي يې وژل. تور طاعون د وږیو ښاریانو دوښمن و .

- ماړه لږ ول، یوازې د ګوتو په شمېر، خو وږي زیات ول، لکه ټول چې وږي شوي ول .

د ښار واکمن ماړه ول، دوی پر تورطاعون نه اخته کېدل، خو خلکو ته يې تورطاعون لېږداوه .

لاروی په اوښلنو سترګو وپوښتل :

- یه د لاربښوونکیو لاربښوده!

نو د ښار ژغورندوی چېرته و؟

لاربښود لږ موسک شو، لرې یې کتل، خو لا هم نړۍ توره و سپینه وه...

- د ښار ژغورندوی ډېرې چیغې وکړې، چې خلک راویښ کړي او د تور طاعون له راتللو یې خبر کړي، خو خلک نه ویښېدل، نه سره یو کېدل او نه راوتل ..

خلکو ویل :

- ماره واکمن باید مور و ژغوري، دا د هغوی مسئولیت دی .

- هرڅه باید واکمن وکړي ...

- واکمن

- ماره واکمن...

ژغورندوی چیغې وهلې :

- ماره واکمن پخپله تور طاعون لېږدوي، په تاسو کې همدوی تور طاعون خپروي...

راویښ شئ او یوځه وکړئ،

خو خلکو بدایو واکمنو ته سترګې نیولې وې او تور طاعون چټک خپرېده...

ببرسري لاربښود په لرې بیدیا پورې سترګې ګنډلې وې، بیدیا توره او سپینه وه، رنګونه په کې نه ول...

لاربښود د خپل لاروي روستۍ پوښتنه ځواب نه کړه، چې :

- ایا ژغورندوی له ښاره ووت، که په تور طاعون اخته شو؟

دښته لا توره و سپینه وه...

هیڅه نه ښکارېدل.

هیڅه .

# دوه‌اتیایم منزل

# هغه ژرنده، چې لاځرخي په اوهامو

لاروی له لوړې غونډۍ د یوه لرغوني کلي د ژرندې کنډواله ولیدله او د خپل لاربښود لمن یې ښکل کړه،

- زما لاربښوده!

د هغې ژرندې کیسه راته وکړه، چې د اوبو پرځای د خلکو په اوازو ګرځېدله،

لاربښود وموسېده،

- عجیبه کیسه ده،

په هغه ورځ د سیمې خلک غوسه ول، چې د حاکم زوی هغه یوازینۍ چینه د خپلې مانۍ برخه ګرځولې وه چې د سیمې خلکو ترې اوبه څښلې. خښمېدلي خلک له لرګیو او ډبرو سره را ټول شوي وو او ویل یې: چې له تندې مرو ښه به دا وي چې د حاکم او د هغه د زوی په وراندې په پاڅون کې مړه شو، بچیان خو به مو له تندې نه مري .

حاکم خپل هوښیار اردلی وپوښت :

- چاره څه ده؟

اردلی څو شیبې روسته خلکو ته د حاکم له فرمان سره راووت، په فرمان کې راغلي وو:

- هغه شپه چې ژرنده ګرځي په ژرنده کې و، د ګاونډۍ سیمې کوم لـوَنډ په پټه راغلی او د هغه له ښځې سره یې یارانه کړې ده، اوس د ژرنده‌ګرځي زوی پیدا شوی، چې د پلار پر ځای د ګاونډ لونډ ته ډېر ورته دی .

تږیو قهرجنو خلکو چینه او اوبه هېرې کړې او له ډبرو سره د ژرندګرې کور ته روان شول. په لاره کې سره په شخړه واوښتل، ځکه نیمو ویل :

- اول به ګاونډۍ لونډ سنګساروو، بیا به د ژرندهګرې کور سیزو .

دویمې ډلې ویل :

- نه !

اول به د ژرندهګرې زېړېدلی ماشوم ګورو چې څېره یې چاته ورته ده؟ بیا به هماغه سړی وژنو ...

شخړه زیاته شوه او خلک په خپلو کې سره اړم شول. حاکم، د حاکم زوی، چینه، تنده او د تندې له امله مرګ و هرڅه یې هېر شول...

له هغې زمانې روسته دا ژرنده د خلکو په اوازو تاوېده، ځکه له چینې څخه اوبه نه راتللې...

ببرسرې لاربنود کیسه خلاصه کړه، خو لاروی د اردلې هوښیارۍ ته هکپک و، چې:

- اوبه چېرته او د ماشوم څېره چېرته؟

# دري‌اتیایم منزل

# د شیطان لمنه ډکه له خدایګوټو

ګردله وه. لاروی په خپل ببرسري لاربښود پسې چټک چټک ګامونه اخیستل، چې ترې ورک نه‌شي. ناڅاپه یې خپل لاربښود وپوښت :

- کوربان دې شم، قلندرکلي ته څومره مزل پاتې دی؟ او ولې یې قلندر بولي؟

ببرسری لاربښود په ګردله کې داسې روان و، لکه پښې یې چې پر زمکه نه وي او پر وریځو مزل کوي، خو لاروی یې د موسکا کربښې ولوستلې :

- تر همدې پیچومې چې ورواوړو، قلندر کلی راپیلیږي.

د قلندرکیسه دا ده، چې دلته دوه ګاونډي کلي ودان ول. یو یې خورا بډای و، جنګیالي خلک یې لرل، ښې زمکې او پریمانه اوبه یې وې، ورشو ګانې یې ښېرازې او غواوې یې پېورې وې، مګر خلک یې خورا ساده او ریښتیني ول. بل کلی، چې ګڼ و، زمکې یې لږ او غواوې و رمې یې خوارې وې، خو شیطان یې ملګری او خلک یې چلباز او دوکه مار ول. د دوکه مارانو په کلي کې د شیطان څو هوښیارو ملګرو یو صندوق جوړ کړ او په هغه کې یې په یوه ډبره ګډې وډې کربښې وکاږلې او د ریښتینو کلیوالو سیمې ته یې ورولېږله، چې دا د خدایانو پیغام دی او موږ به یې تاسو ته لولو :

- د خدایانو احکام دا دي، چې تاسو به زموږ مریيان یاست، پر خپلو زمکو به غله تاسو کرئ، خو حاصل به یې موږ خورو، غواوې به تاسو پیایئ خو شیدې یې زموږ دي. ویالې به ستاسو وي، خو ژرندې به زموږ پرې ګرځي. خدایانو تاسو مریيان پیدا کړي یاست .

د ریښتینو کلیوالو زبون ووهل شو، د خدایانو له ډاره یې د ګاونډ کلي مریيتوب پیل کړ، د غواګانو پې، رڼې روانې اوبه او د زمکو او باغونو حاصلات د چلبازو کلي ته ور روان شول... کلونه کلونه واوښتل، تر دې، چې د ریښتینو ساده ګانو په کلي کې یو قلندر راپیدا شو. هغه د ګډو وډو کرښو ډبره راوایستله او راغونډو شویو کلیوالو ته یې وویل :

- نن زه دغه ډبره درته لولم، دلته یې لیکلي :

باطل خدایان هغه دي، چې هوښیاران یې خبرې پخپله ګټه، خو د کمزوریو او ساده ګانو په تاوان تفسیر وي .

هوښیارانو دغه خدایان د شیطان په مرسته پخپله جوړ کړي دي .

- نو یه خلکو!

خپل ریښتینی خدای، پخپله وپېژنئ او د پېژندنې لپاره یې د نورو مریيتوب مه کوئ !

لاروی ناځاپه خپل لارښود له لمنې راونیوه، زما لارښوده !

- بیا څه وشول؟ آیا خلکو د قلندر دغه خبره ومنله؟

ببرسري لارښود کړس کړس وخندل او ویې ویل :

- نه، هماغه وخت نه .

خلک غوسه شول او قلندر یې د کفر په تور سنګسار کړ. خو کلونه کلونه یې خبرو د خلکو په غوږونو او ذهنونو کې انګازې کولې، ورو ورو خلکو د قلندر په خبرو فکر وکړ، پرې پوه شول او رڼا یې وپېژندله...

یوه ورځ داسې هم راغله چې کلیوالو د قلندر پر سنګسارځای باندې زیارت جوړ کړ او تر هغې ورځې روسته، د دې سیمې نوم قلندرکلی شو.

# ثلوراتيايم منزل

# د رڼا کتاب کې څه وو؟

د سوي معبد د زاړه ښار ديوالونه ړنګ ول.  د نورو کليو او ښارونو واکمنو به په غلا غلا د سوزېدلي معبد له ډېرۍ څخه ايرې او خاورې له ځانه سره خپلو کليو او ښارونو ته وړلې .

ببر سرى لارښود، سهار مهال، په بېړه د سوي معبد زاړه ښار ته روان شو. لاروي ورپسې په سوې ساه ګامونه اخيستل او د خپل لارښود و مراد د بېړې او چټک مزله په راز نه پوهېده .

ناڅاپه يې د خپل لارښود لمن راښکله، چې:

- زما لارښوده !

دومره بېړه ولې؟

د سوي معبد راز څه دى؟

او ولې د چم ګاونډ ښاريان له سوي معبد څخه خاورې او ايرې په غلا وړي؟

لارښود لږ پښه نيولى شو، لرې افق ته يې سترګې وګنډلې او بيا يې وخندل :

- همم! درې پوښتنې !

راځه!  مزل به کوو، ځکه د سوي معبد له ښاره بايد په ورځ کې ووځو، که هلته مو شپه راغله او ويده شو، بيا نو تر قيامت پورې راوېښېدل نه شته .

لاروى د خپلې لومړۍ پوښتنې ځواب واخيست، خو دا ځواب داسې و، لکه ترې ته چې مالګوبې ورکړې او تنده يې لا پسې زياته شي .

- کوربان دې شم، لارښوده !

نورې پوښتنې هم راپیدا شوې، هیله ده راځواب یې کړې .

لارښود وویل :

- پخوا په سوي معبد کې داسې راهبان اوسېدل، چې خلکو د خپل دین ساتندویان ګڼل. راهبانو چې د خلکو سادګی او ریښتینولي ولیده، نو خونړي او روي شول، د واک و ځواک تنده او حرص یې ورځ په ورځ زیاتېده. تر دې، چې د ښار خلک یې یرغمل کړل. له خلکو به یې خواره خوړل او لوښي و زامن به یې د خپلو هوسونو په ژرنده کې دل کول. د سوي معبد راهبانو خلک طلسم کړي ول. د خوبونو کیسې به یې ورته کولې او د خوبونو د کیسو په زور یې تل ویده ساتل. راهبانو د خپلې پاچایي زوال د خلکو په راویښېدو کې لیده، ځکه خو یې د خلکو له راویښېدو څخه ویره تل په زړه کې وه. بس دوی وو او د درواغجنو خوبونو کیسې وې، کله به په خوبونو کې ارواوې راتللې او د ارواوو د خبرو او څېړو نکلونو به ښاریان لا پسې ویده وساتل .

یو مهال څو تنو ځوانانو د یوې چینې تر غاړې د رڼا یو کتاب ومونده. عجیبه د رڼا کتاب و، چې خلاص به دې کړ ، پلوشې به ترې راووتې. د رڼا دغو پلوشو د معبد طلسم مات کړ. د طلسم د ماتېدو نښه دا وه، چې د چینې ځوانان به د خوبونو د کیسو په اورېدلو نه ویده کېدل .

ویښو پېغلو او ځوانانو یوه شپه، د رڼا کتاب له ځانه سره په پټه معبد ته یووړ. همدا چې د رڼا له کتاب سره یوځای معبد ته ورننوتل، نو معبد اور واخیست. لنبې بلې شوې، راهبانو چیغې کړې، هره خوا یې منډې کړلې. له کلیوالو یې مرسته وغوښته، خو کلیوال ویده ول او نه راویښېدل.

کلیوالو زړې ارواوې په خوب لیدلې او راویښېدن یې نه و .

شپه تر سبا معبد وسوزېد او د راهبانو طلسم مات شو. دوی چې له رڼا ډارېدل، سهار سهار ورک شول. له هغې ورځې را په دې خوا د سوي معبد خلک له ډاره نه ویده کیږي. د ورځې کومه سترګه خوب وکړي، خو ټوله شپه ویښ وي. دوی ډاریږي، چې که ویده شي، نو بیا به یې راویښېدل نه وي .

د چم ګاونډ هوښیار واکمن راځي او په غلا غلا د سوي معبد خاورې او ایرې له ځانه سره وړي. دوی هره ورځ دغه خاورې او ایرې د عبرت لپاره خپلو خلکو ته ورښیي او ویښ یې ساتي. هوښیار واکمن خلکو ته وايي :

- راهبان خپل ښار ته مه پرېږدئ، خبرې یې مه منئ. دوی دروغ وايي. خوبونه یې دروغ دي. دوی په ارواوو پسې هم دروغ وايي. دوی غواړي تاسو د ابد په خوب ویده وساتي او ستاسو وینې، ستاسو ډوډۍ، ستاسو پېغلې او زلمکیان ورخپل کړي. دوی ستاسو په ویده ساتلو کې خپل جنتونه لټوي .

- د سوي معبد دا خاورې وګورئ!

- د سوي معبد دا ایرې وګورئ!

- د راهبانو خوبونه او د دوی درواغ مه هېروئ !

ببر سري لارښود کټ کټ وخندل، لا پسې چټک شو. د لاروي ساه سوزېدلې وه، ایله یې په خپل لارښود پسې منډې وهلې .

دومره متره په کې نه وه، چې خپل لارښود وپوښتي :

- د سوي معبد د ښار خلک اوس په څه حال کې دي؟

# پینځه اتیایم منزل

# شیخ ولاړه!

# خدای دې خونه کړه ویجاړه

لاروی په دغه سهار د خپل ببرسري لاربښود اېرنۍ څڼې لیدلې، چې باد ته ناڅې، ببرسري مرشد کوم لرې افق ته سترګې ګنډلې وې او تر ژبې لاندې یې ویل :

- «شیخ ولاړ! » او بیا به یې وخندل...

لاروي ته دا په زړه پورې وه، وپوهېده، چې د (شیخ ولاړ ) دښتې ته ورځي، ده پخوا هم د (شیخ ولاړ) د وچې او سپېرې دښتې په اړه څه څه اورېدلي وو. پوهېده، چې هلته اوبه نه شته، شین بوټی نه شته، سیوری او خواړه هېڅ هم نه شته... خو بیا هم باید پرې تېر شي او مقصد ته تر دې دښتې له تېرېدو پرته بله لاره هم نه شته .

خو دا لومړی ځل و، چې د (شیخ ولاړ) د نوم په اړه وسوسه ورولوېده، نو له واره یې وپوښتل :

- زما لاربښوده ! کوربان دې شم، شیخ ولاړ څوک و؟

لاربښود په لرې افق کې ګنډلې سترګې لا پسې ځیر کړې، ښه په کړس کړس یې وخندل :

- (شیخ ولاړ) د شیخۍ په جامه کې یو غل و ...

راځه چې د سهار په یخنۍ کې له دښتې تېر شو ...

لاربښود وړاندې او مجذوب لاروی ورپسې، مزل پیل شو، خو لاروی خپل لاربښود بیا وپوښت :

- کوربان مو شم، شیخ ولاړ راوپېژنه...

لاربښود بیا وخندل :

- شیخ ولاړ د یوې ډلې زلمیانو مشر و، چې ده خپل شاګردان ګڼل، شاګردانو کتابونه له ځانه سره راوړي وو، خو د شیخ له کتابونو سره جوړه نه وه، ده خپل شاګردان د کتابونو په اولو مخونو کې درولي وو... ځکه دی (شیخ ولاړ) و. د ځوانانو د کتابونو پاڼې ژېړې شوې وې، خو دوی لا په هماغه لومړیو پاڼو کې ولاړ پاتې ول. (شیخ ولاړ) خپلو شاګردانو ته تورې او چړې ورکړې، د تورو او سپینو لنګوټیو په شملو یې مولونه ورووهل او ورته ویل به یې :

- ) هیڅوک مو ونه پېژني( !

ماته په خوب کې همداسې حکم شوی دی !

شیخ ولاړ او شاګردانو یې د وچې دښتې پر سینه د تېرې شوې لوېې لارې څنګ ته کندې وویستې او هماغلته پټ شول، بس چې کاروان به راورسېد، دوی به ودراوه! چړې او تورې به یې ورووېستې او که به د کاروان ساتونکیو شخړه کوله، نو دوی به ووژل، تر دې روسته به کاروان په ورځو ورځو، اونیو او ان میاشتو ولاړ و. که به چا وپوښتل: - څه دي؟

نو ورته وبه ویل شول :

- شیخ ولاړ ته په خوب کې حکم شوی، چې هرڅه دې ولاړ وي !

په دښته کې نه سیوری و، نه اوبه وې، نه شنه بوټي او نه ډوډۍ. نه د اوښانو، اسونو او خرو د تړلو یا سیوري ته درولو ځای.

شیخ به هره ورځ د کاروان د سړیو څېروته کتل، پر ښځو به یې د اوښانو، اسونو او خرو کتې وربار کړې، شیخ ولاړ نه غوښتل ښځې له کتو، ځلونو او زړوکو نه راووځي .

شیخ ولاړ او شاګردانو یې د نارینه وو د ایمان تول و ترازو کاوه،

د شیخ ولاړ یوه پوښتنه وه :

- «ایمان څه دی؟ »

بس شیخ ولاړ و او کاروان یې درولی و، له هر چا یې همدا پوښتل، چې: ایمان څه دی؟ که هر چا هر ځواب ورکاوه، ده نه منله، ویل:

- غلط !

سم ووایه، ایمان څه دی؟

تر هغو به دلته ولاړ یاست، چې سم ځواب پیدا نه کړئ!

شیخ له نارینه و ایمان پوښت او ښځې به تر کتو، ځلونو او زړوکو لاندې ناستې وې. ماشومانو ته د لوبو اجاز ه نه وه، شیخ ولاړ له لوبو کرکه درلوده، او ماشومانو ته یې ویل :

- ودرېږئ!

لوبې ایمان خرابوي! بس ودرېږئ! هرڅه دې ولاړ وي !

شیخ ولاړ ته په خوب کې حکم شوی دی .

شیخ او شاګردانو یې له کاروانیانو سره راوړې اوبه څښلې، خواړه یې ترې خوړل او د ښځمنو ګاڼې، د سوداګرو وریښمین ټوکر، قیمتي عطرونه او غمي یې ترې اخیستل او ورته ویل یې :

- دا ټول د ګناه څیزونه دي! ماته په خوب کې حکم شوی دی !

ایمان وپېژنئ!

ودرېږئ!

هرڅه باید ولاړ وي !

شیخ او شاګردان به یې هغه وخت له کاروانه ولاړل، چې نور به په کاروان کې د خوځېدو متره نه وه او همداسې په ولاړه به یو یو راپرېوتل او مړه به شول ...

شیخ ولاړ او شاګردان به یې ترې وخوځېدل، خو د کاروان مړژواندیو کاروانیانو ته به یې ویل :

- ودرېږئ! مه خوځېږئ !

شیخ ولاړ ته په خوب کې همداسې حکم شوی دی ...

شیخ او شاګردان یې ډاډه ول، چې بل کاروان به راشي او دوی به یې بیا ودروي، او یوه بله میله به پیل شي !

شیخ ولاړ هم یو کتاب درلود، خو هیچا لوستلی نه و، هیچا لیدلی نه و، د کتاب هسې آوازه وه... یوه شاګرد به یو څه ویل ، بل به بل څه ویل، خو هیڅوک نه پوهېدل، چې کتاب شته که نه؟ څه په کې لیکل شوي دي که نه ؟ ...

ببر سری لاربنود چوپ شو او نور څه یې ونه ویل .

لاروي هم نور څه ونه پوښتل، ځکه دی خبر و، چې د شیخ ولاړ په کتاب کې څه لیکل شوي و؟

لاروي یو مهال د (شیخ ولاړ) کتاب لیدلی و، چې یوازې یوه جمله په کې وه .

هو !

یوازې یوه جمله :

- « تر هغو چې کاروانیانو ته حرکت (کفر) ښکاري!  او بل چاته د خپل ایمان په اړه د پوښتنې اجازه ورکوي، کاروانونه  به همداسي ولاړ وي!»

# شپږاتیایم منزل

# «اې زما وطنه

# د لعلونو خزانې زما!»

ببرسری لاربښود «سنګسارډرې» ته په لار ودرېد او دوه ډبرې یې راپورته کړې، ورته ځیر شو او بیا یې یوه خپل لاروی ته ونیوله :

- هه! په سنګسار دره کې به دې په کار شي !

لاروی وریږدېده او خپل مرشد ته یې وویل :

- کوربان شم لاربښوده،

زه به هیڅکله د کوم انسان خوا ته ډبره ګوزار نه کړم، دا مې په کار نه ده .

لاربښود ښه په زوره وخندل، داسې چې له مخامخ غره نه یې د خندا غبږ راستون شو :

- ځکه خو دا ډبره واخله. دا د غره د کیڼې ډډې ډبره ده، د ښۍ ډډې ډبرې شرقي جوګي طلسم کړې دي. موږ به دغه ډبرې په جیبونو کې ساتو، چې د شرقي جوګي له طلسم څخه ځان وژغورو .

د لاروی تلوسه زیاته شوه :

- کوربان دې شم لاربښوده ؛ سنګسار دره، شرقي جوګي، د غره ښۍ ډډه، د ډبرو طلسم؟ دا هرڅه څه دي؟ او د سنګسار درې راز څنګه دی؟

لاربښود لا خندل:

- پېرۍ پخوا د غميو هغه سوداګر سنګسار درې ته راغلل، چې په غوايانو به سپاره ګرځېدل، يو بل يې د غوايي زامن بلل او سره سره بريتونه يې لرل. دوی په سنګسار دره کې غمي وموندل، لعلونه، ياقوت، سره او شنه او رنګ رنګ غمي. د غوايي زامنو دغه کلی د لعلونو خزانه ونوماوه او بېرته ستانه شول، چې نور غوايي له ځان سره راوړي او د غميو کانونه راوسپړي. اول يې دا معلومه کړه، چې د سنګسار کلي له ګاونډيو سره څه وکړي؟ د لعلونوخزانې مهم ګاونډي ژېړ ښامار، د يېړو کنګلتون او شرقي جوګي ول .

د غوايي زامن لا وتلي نه ول، چې د کنګلتون يېړې، شرقي جوګي او ژېړ ښامار د لعلونو د خزانې له راز څخه خبر شول او ټولو ورته سترګې سرې کړې .

ښامار سر راپورته کړ، له ځان سره يې وويل :

- خزانې د ښامارانو وي، دا خزانه اخر هم زما ده ، زه تر ټولو زوړ او تر ټولو لوی ګاونډی يم، په نس کې مې د اورونو دوزخونه غړانګې وهي، کنګلتون به ويلي کړم، د غوايي زامن به ونغړم او شرقي جوګي مې هسې هم د غاښ چينجی دی. ښامار سر کېښود او په تمه پاتې شو، خو هرڅه يې څارل...

د کنګلتون يېړو د خپلو غاښونو او منګولو تيره کول پيل کړل، چې د لعلونو خزانې ته راشي. د غوايي زامن خزانې ته په لار د شرقي جوګي مېلمانه شول او له هغه يې مرسته وغوښته. شرقي جوګي د خپل طلسم راز وروښود، چې:

- د لعلونو خزانه به د سنګسار په کلي بدلوي. د غوايي زامنو ورسره ومنله او په نورو غوايانو پسې ولاړل .

شرقي جوګي راوخوځېد اول يې ښامار ته ډاډ ورکړ، چې د کلي تر افيوني طلسم روسته به خزانه تاته درسپارم، خو ماته به خپله برخه راکوې .

بيا ورغی د کنګلتون يېړو ته او له هغوی سره يې هم يارانه جوړه کړه، ټولو د خزانې ګټلو چاره شرقي جوګي ته وسپارله .

شرقي جوګي د ارواوو له زاړه معبد څخه د افیونو طلسم را پیل کړ او سپین و تور لوګي یې د لعلونو خزانې سیمې ته راولېږل، طلسم داسې و، چې د لعلونو د خزانې کلیوال یې خوبولي کړل. خوبولو کلیوالو به هره ورځ یو کلیوال سنګساراوه .

لاروی په لنډه ساه وپوښتل :

- زما لاربښوده ! څنګه او ولې یې سنګساراوه؟...

لاربښود بیا وخندل :

- کلیوالو به هر سهار یو نارینه او یوه مېرمن له خپله کوره راایستل، په هغو به یې د بدلمنۍ تور پورې کاوه او د کلي د مزدک تر مخې به یې وتړل. بیا به کلیوال د شرقي جوګي هستوګنځای ته نږدې د غره له ښۍ ډډې څخه په لمنو کې ډبرې راپنډ کړې، کتار کتار به راغلل او تړل شوې ښځه و سړی به یې تر هغو په ډبرو ویشتل، چې په وینو کې لژند به تر ډبرو لاندې خښ شول. کلیوالو به کله کله د ښځې و نارینه ماشومان هم سنګسارول . بس همدا د کلیوالو ټول ژوند او د ټول ژوند مرام و. نه چا پټي کرل، نه په ویالو کې اوبه راتلې، نه چا درمندونه بادول او نه هم د لعلونو خزانې د چا په یاد وې. ټولو کلیوالو یو بل په کفر او بدلمنۍ تورنول، د شرقي جوګي له ډاګه یې لمنې لمنې ډبرې راوړلې او هره ورځ یې یوه – یوه کورنۍ سنګساروله ...

له هغې ورځې را په دېخوا د «لعلونو خزانه» «د سنګسار دره» شوه. د غوایي زامن، ژېړ ښامار او د کنګلتون یېرو د غمیو کانونو ته سترګې نیولې وې او شرقي جوګي د افیونو تورې و سپینې لوخړې را شړلې ...

د لاروي په وجود کې سړې سړې اوبه ورغړېدې، لاربښود ورکړې ډبره یې په خپل موټي کې کلکه ونیوله او په خپل ببرسري مرشد پسې یې ګامونه پورته کړل ...

د سنګسار دره نن هم د افیونو په لوخړو کې پټه وه، کلیوالو یوه کورنۍ تکفیر کړې وه او لمنې یې له ډبرو ډکې وې ...

# اووه‌اتیایم منزل

# د ژوندون د چینو ښار ته!

لاروی له خټین منګي څخه  د خپل لاربښود لپه په رڼو اوبو ورډکه کړه، ببرسري څو غوړپه وځښلې او نورې یې مخ ته وشیندلې، خپل لانده لاسونه یې پر ټنډه کش کړل، د سړو اوبو لندبل یې دمه ورجوړه کړله... لرې ځیر شو، چې د لاروي پوښتنې راهېښ کړ .

-          لاربښوده ! کوربان شم، د هغه ښار کیسه راته وکړه، چې له چینو یې د ژوند اوبه راوتلې، خو ښاریان یې له تندې  مړه کېدل...

لاربښود ته، چې  (د ژوند د چینو ښار) وریاد شو، نو کړس کړس ویېخندل او ویې ویل :

-          هو دا هغه ښار و، چې  تندې یې د ښاریانو عقلونه ورسیزلي وو ...

لاربښود بیا وخندل، د اغېزناکه بربښنده سترګو له کونجونو یې اوښکې راغلې. لاروی پوه نه شو، چې لاربښود له خندا اوښکې تویولې، که د ښاریانو د سوزېدلو عقلونو وریادېدلو اوښکې وروستلې وې؟

لاربښود کیسه وکړه :

-          کلونه وړاندې  په  ټوله سیمه کې اوبه ورکې شوې. شاوخوا کلي او ښارونه جل ووهل. اوبه تر زمکې لاندې ننوتلې. څومره چې خلکو څاه ګانې ژورولې، نو اوبه هماغومره په زمکه ننوتلې، یوازې په همدغه ښار کې چینې او څاه ګانې له اوبو ډکې وې، شپه او ورځ به د ژوند چینې بهېدې او پر زمکه یې د رڼو

اوبو ډکې ویالې تر لرې لرې ځایه رواني وې... د ګاونډیو کلیو او ښارونو خلک خبر شول، ان له لرې لرې سیمو هم تندې رااخیستو خلکو دغه کلي ته پام واړاوه. دا کلی عجیب بختور ورته ښکاره شو، په ټوله وچکالۍ کې دلته پرېمانه اوبه بهېدې. د ګاونډیو ښارونو او کلیو هوښیار ملکان په دې پوهېدل، چې د ژوند د اوبو د ښار خلک له پردیو کرکه لري او له دوی څخه په زوره هیڅوک اوبه وړلای نه‌شي...

لرې د ځلاګانو د ښار یوه هوښیار کوډګر یوه لار وسنجوله، د تربیو او جل وهلیو ښارونو او کلیو له هوښیارانو سره په ګډه یې خپلې کوډې پیل کړې .

یوه ورځ د ژوند د چینو ښار ته له لمرخاته لوري یو اخوند راغی، اوږده چپن او تر نامه پورې راځوړنده ږیره یې وه، څو ژیړ ژیړ کتابونه یې په تخرګ کې وو، اخوند د کلي په زاړه زیارت کې دېره شو او په خلکو کې یې د کراماتو او بزرګۍ اوازې خپرې شوې. اخوند به کله سپینه او کله توره ټوټه له سره تاو کړې وه او د زاړه زیارت تر څنګه له راوتلې چینې به یې هره ورځ اوبه څښلې ...

د ژوند د چینو ښاریان به چې ورغلل، نو اخوند به ورته همدا ویل :

- د چینو او څاګانو رڼې اوبه حرامې دي. په بله دونیا کې تاسو ته د کوترو د ډنډ اوبه په نصیب رسیږي، ځکه خو د دې دونیا اوبه مه څښئ، د دې دونیا اوبه د کفارو لپاره دي او د سړي ایمان پرې خرابیږي، ستاسو دا چینې او څاګانې ستاسو د امتحان لپاره بهیږي او که مو وڅښلې، نو کبیره ګناه به مو کړې وي او په بله دونیا کې به د کوترو له ډنډ څخه محروم شئ !

له دې ورځې روسته ځینو ښاریانو له اوبو څخه روژه ونیوله او د رڼو اوبو له چینو او څاګانو یې اوبه نه څښلې... ځینې خلک چې نور له تندې مړه کېدل، اخوند ته راغلل او ویې پوښت :

- کوربان مو شم اخوند صاحب، موږ له تندې مرو. اخوند ورته وویل: تورې راواخلئ، تورې !

هر هغه ښاري مو چې  لا هم له چینو اوڅاه ګانو څخه اوبه څښلې ویې وژنئ او ویې یې وځښئ. هغوی چې له رڼو چینو او څاه ګانو اوبه څښي، کافران دي، وژل یې فرض دي، بس وژنئ یې او ویې یې څښئ، ستاسو به تنده ماتیږي او په بله دونیا کې به د کوترو له ډنډ څخه ډېره برخه اوبه درکول کیږي ...

همداسې وشول، ښاریانو تورې راواخیستلې او خپلې ښځې، ماشومان او نارینه، چې له چینو او څاه ګانو یې اوبه څښلې وژل او په  خوند خوند به یې وینې څښلې، ښاریان خوښ و چې هم غزا کوي او هم یې تنده خړوبیږي .

بس ښاریان په دې بوخت شول او د شاو خوا کلیو او ښارونو خلکو تر زمکې لاندې اوږده اوږده سوري وروویستل، د ژوند د چینې له ښاره یې په دغو تونلونو کې د رڼو چینو او څاه ګانو اوبه تر خپلو کلیو او ښارونو پورې وروبهولې، له هغه راهیسې د ژوند د چینو ښاریان د خپلو چینو او څاه ګانو اوبه څښل کبیره ګناه ګڼي، په بله دونیا کې د کوترو له حوض څخه د ډېرو اوبو د څښلو په تمه ډېرې وینې بهوي، خو د دوی د ښار رڼې چینې او څاه ګانې تر زمکې لاندې روانو ویالو کې د چم ګاونډ لرې او نږدې کلیو او ښارونو ته وررسیږي .

هغه اخوند چې  کله توره او کله سپینه ټوټه له سره تاووي اود زاړه زیارت تر څنګ له روانې سرې چینې اوبه څښي، په ښاریانو د تبرک لپاره تیرې تورې ویشي او تږي ښاریان د کوترو د حوض په حرص کې نورې وینې غواړی...

# اته‌اتیایم منزل

# وچې وینې او رنه بهانده پوهه

لاروي د خپل لارښود په لاس کې یو زوړ کتاب ولیده، چې پر شا یې د صلیب نښه وه. لاروی حیران و او خپل لارښود یې وپوښت :

- کوربان دې شم زما لارښوده !

د مسیحیانو په دې زاړه کتاب کې دې څه ولیدل، چې درې - څلور ځله دې ورته وموسل؟

لارښود، چې په پټه خوله خندل او لاروی یې د اوږو له خوځېدو پوه شو چې خاندي، وویل :

- د لوړو او زړو کلیساګانو له ښارونو یې خبر کړم :

یو متفکر کشیش کلونه کلونه په صلیب د مسیح راځوړند انځور ته ځیر و او کتل یې، چې د هغه له مېخ شویو لاسونو څخه رابهېدلې وینې ځلیږي، خو کښته نه راڅاڅي...

یوه ورځ یې قلم راواخیست او ویې لیکل :

- «څو پېړۍ وشوې، چې موږ کشیشانو او د پاچا دربار لاسونه سره یو کړي او د مسیح د وینو په نامه د خلکو وینې زبېښو، موږ د مسیح د شکنجې په نامه خلک شکنجه کوو او پرې حکومت چلوو، یوه ورځ به دا خلک پوه شي، موږ به وشړي، سپک به مو کړي،

خو اې مسیح !

تا ته حیران او خپه یم. خلک به له تا څخه هم خپه وي، ملامت به دې کړي، - خاورې مې پر خوله . درواغجن به دې وګڼي... راکوز شه او دا څرګنده کړه، چې موږ درواغ وایو او ستا په نامه مو ډرامه روانه کړې ده او په حقیقت کې واک و ځواک غواړو ...»

دوه یا درې پېړۍ روسته، بل متفکر کشیش د کلیسا په کتابتون کې د یوه کتاب پر څنډه دغه لیکنه ولوسته، حیران شو، مخامخ یې د کلیسا پر محراب د مسیح انځور ته وکتل، ریښتیا هم وینې څلېدې، خو نه راڅڅېدلې...

دویم کشیش وویل :

- د کلیسا کتابونه زیات شوي دي، بهر د ښار د میدان هاغاړه، کلیسا ته مخامخ یو کتابتون جوړ کړئ، دا کتابونه هلته یوسئ، پرېږدئ، چې خلک یې ولولي او (پوه شي)، موږ کشیشان هسې هم نه غواړو چې (پوه شو!) .

تر دې روسته په هرښار کې، کلیسا ته مخامخ یو یو کتابتون جوړ شو، خلک به راتلل او کتابونه به یې لوستل او پوهېدل به ...

څو پېړۍ روسته یوه انځورګر په کتابتون کې د لومړني کشیش په یادښت ورپېښ شو، هغه یې ولوست، وموسېد او تر یادښت لاندې یې ولیکل :

-« ده ریښتیا لیکلي، ځکه د هېڅ کلیسا د هېڅ مسیح له هېڅ لاس څخه وینې نه رابهیږي، بلکې دا زموږ انځورګرانو کمال دی، سور رنګ مو داسې کارولی، چې هر (مؤمن) ته د مسیح وینې ښکاري او ورته ژاړي، له کشیش څخه د جنت کیلي په پیسو اخلي او د کلیسا واکمني ته غاړه ږدي. ما د کشیشانو په فرمایش لسګونه داسې انځورونه کاږلي دي. موږ ټول (مؤمنانو) ته درواغ وایو. څوک خبر دي، چې ریښتیا په مسیح څه پېښ شوي؟ دا هغه کیسه ده، چې کشیشانو د خپلې واکمنۍ لپاره جعل کړې ده.»

څو پېړۍ روسته کتابتونونه لوی شول، کتابونه زيات شول، ښارونه هم پراخېدل، انسانان تر کليسا ګانو کتابتونونو ته زيات تلل، کليسا ګانې يوازې د ښارونو د ډول او تاريخي ښکلا لپاره ولاړې وې، لکه موزيمونه. خلک کتابتونونو او پوهنتونونو ته ورمات ول...

يوه ورځ يو تاريخپوه فيلوسوف، د يوه لرغوني کتاب پرځنډه د لومړني کشيش او انځورګر پر يادښتونو ورپېښ شو، وېې موسل او ترې لاندې يې وليکل :

- « خلک څکه تر کليسا ګانو زيات کتابتونونو ته راځي، چې په کليسا کې د راځوړند انځور له لاسونو څخه رابهېدلې وينې وچې شوې دي، نه بهيږي، خلکو يې ماهيت پېژندلی دی، چې وينې نه، بلکې د انځورګر د مويک رنګ دی، خو په کتابونو کې لا پوهه بهيږي، هره ورځ جاري وي، نوې کيږي .

انسان ژوندی موجود دی، تر وچو وينو بهاندې او رواني پوهې ته ډېر تږی وي»

ببرسري لارښود لا خندل، خو لاروی په خپلو سوچونو کې ترې ورک شوی و...

# نهه‌اتیایم منزل

# مرتاضان په شنو ځنګلو کې

لاروی د قهارو مرتاضانو ځنګل ته په ننوتو ووېرېده، د ځنګل فضا داسې وه، لکه د هر بوټي شاته، چې یوه بلا پټه وي. خو لارښود ببغمه روان و. په څېره کې یې هېڅ‌راز بدلون نه ښکارېده. هماغسې موسکی و او د ځنګله د ونو ترمنځ نری لاره یې داسې وهله، تا به ویل ټول عمر پر همدې لارو تللی دی .

لاروی له ویرې او اضطرابه چټک شو، یو مهال یې کتل، چې د خپل لارښود لمن یې نیولې وه :

-کوربان دې شم، زما لارښوده !

د قهارو مرتاضانو د ځنګله له کیسې مې خبر کړه .

لارښود ناڅاپه وخندل، له څېرمه بوټو څخه کوشنۍ مرغۍ والوتې. لارښود خپل لاروی ته وویل :

-راځه! وبه یې ګورې .

دلته په ځنګله کې څو قبیلې اوسیږي، چې د ژېړو جامو او ژېړو کتابونو مرتاضان پرې واکمن دي. د قبیلو خلک نه پوهیږي، چې د قهارو مرتاضانو په ژېړو کتابونو کې ریښتیا څه لیکلي؟

دا کتابونه په پردیو ژبو دي، په قبیلو کې یې پرته له مرتاضانو بل څوک لوستلی نه‌شي. قهار مرتاضان کتابونه پرانیزي، ساعتونه ساعتونه یې اوږدې ږیرې ښوري او کوم څه وایي، خلک په ویره ورته ولاړ وي .

د ځنګله په خلکو کې اوازه ده، چې دا د کوډو کتابونه او ارواح یا پیریان یې ترفرمان لاندې دي، څوک وایي په کتابونو کې د مرتاضانو د پخوانیو مشرانو خبرې دي.

قهار مرتاضان د کوډو د ژېړو کتابونو په زور په قبيلو واک چلوي. د قبيلو د خلکو ښه خواړه، ښه کورونه، ښکلې ښځې او ښې ميوې د مرتاضانو دي. مرتاضانو د قبيلو خلکو ته ويلي :

-«موږ خدای رااستولي يو، چې پر تاسو حکومت وکړو.»

لاربښود تر لنډې چوپيا روسته وويل:

خو ماته د مرتاضانو د ماتې راز څرګند دی .

لاروی نور هم سيله‌ولی شو:

- زما لاربښوده کوربان دې شم، هغه راز څه دی؟

لاربښود بيا وخندل :

-کلونه کلونه پخوا يو پر اس سپور ځوان پيدا شو، هغه کوم وخت له ځنګله وتلی و، چېرته په کليو او ښارونو ګرځېدلی اونور خلک يې ليدلي وو. په دې پوهېده، چې په دونيا کې د ځنګله له قبايلو پرته نور انسانان هم اوسيږي. ځوان د نورو انسانانو ژبې زده کړې وې او په ډېرڅه پوهېده .

قهارو مرتاضانو دغه ځوان تکفير کړ او ځوان ځنګل پرېښود، خو د لوی چينار تر ونې لاندې يې يوه ليکلې دړه خښه کړه. زه او ته به نن وګورو، چې په دې دړه يې څه ليکلي؟

مازيګر و، له لرې لرې د قبايلو د تک راتګ غږ راته. ببر سري لاربښود او لاروی يې د زاړه او لوی چنار اړخ ته له ژورې کندې د اس والا ځوان ليکلې دړه راايستلې وه او لوستله، لاربښود لا موسک و خو د لاروی سترګې رډې رډې راوتلې وې :

پر دړه ليکلي وو :

-کلونه، لسيزې او پېړۍ پخوا يوه ډله وږي مرتاضان له خپلو کتابونو سره د قبايلو مېلمانه شول. قبايلو يې اوږدو برېرو، ژېړو جامو، په غاړو کې پرتو زنارونو او

تر تخرګونو لاندې ژېړو کتابونو ته وکتل او پر دوی یې د ښو خلکو ګومان وکړ، مېلمانه یې کړل. مرتاضانو بله ورځ قبایلو ته وویل :

-موږ ته ډوډۍ راکړئ، موږ به تاسو ته دوعا وکړو، زموږ په کتابونو کې راغلي، چې هرڅوک موږ ته ډوډۍ راکړي، خدای به ترې خوشاله شي.  خلکو د خدای د خوشالۍ لپاره مرتاضانو ته ډوډۍ ورکړه او پېړۍ واوښتې .

ورو ورو مرتاضان زړور شول او خلک یې له کتابونو وډار کړل، د خلکو ناخبرۍ ډار او له کتابونو څخه د مرتاضانو مبهمو ویناوو داسې ورځ راوسته، چې قهارو مرتاضانو د خدای د استازولۍ دعوه وکړه او قبایلو ته یې وویل :

-موږ خدای رااستولي یو، چې پر تاسو حکومت وکړو. که چا زموږ ونه منله، په حقیقت کې هغه د خدای نه مني او کافر دی. د کافر سزا مرګ ده او یا به له ځنګله څخه وځي. او داسې د قهارو مرتاضانو واکمني پیل شوه او ورو ورو یې قبایل خپل مریيان کړل ...

د مرتاضانو طلسم په دوو پوښتنو ماتیږي :

**اول:**

چې قبایل ورته ووایي، که تاسو د خدای په استازولۍ پرموږ واکمن یاست، نو موږ ته یې ثابته کړئ!  خدای نو څنګه خپله پاچايي ستاسو په مرسته چلوي؟

**دوه:**

پر موږ ستاسو له واکمنۍ خدای څه غواړي؟ چې نه په کې زموږ خیر شته او نه هم د ځنګله، نو خدای ولې تاسو ته پر موږ د واکمنۍ حکم کړی دی؟

مرتاضان د دې پوښتنو ځواب نه لري، په هماغه ورځ ځنګل پرېږدي او قبایل به ازاد شي .

که هغه وخت پخوانیو قبایلو مرتاضانو ته وړیا ډوډۍ ورکړې نه وای، نو نن به...

دړه نیمايي نوره ماته وه، لاروی پوه نه شو، چې اس والا ځوان نور څه لیکلي؟...

د بوټو شاته یې په لرې ورشو کې د مرتاضانو ژېړې جامې ولیدلې، ووېرېد او خپل ببرسري لاربښود ته ورنږدې شو، خو لاربښود لا هماغسې خندل او سترګو یې په خاورو کې د دړې دویمه نیمايي لټوله...

# نوي‌یم منزل

# د پیریانو طلسمونه

لاروي له خوبه سترګې وغړولې، د سهار روستی ستوری لا پرېوتلی نه و. خپل لاربښود یې په مراقبه ولید.

مراقبه وه که ژور تفکر؟

خو لاروی د نوي رابرېدونکي سهار نقره یې رڼا ته ولید، چې د لاربښود سترګې پټې دي او د مخ یوه پله یې خوځېږي ...

لاروی، داسې لکه له ځان سره چې غږېږي، وګونګېده :

- د لوېې خېلخانې سپین ږیری بابا مې په خوب لیده، هغه چې ټوله خېلخانه یې د پیریانو په طلسم اخته ده...

لاربښود سترګې خلاصې نه کړې، ویې موسل، بیا یې داسې وخندل، چې لاروي یې غږ نه اورېده، خو د خپل لاربښود د اوږو خوځېدل یې لیدل، چې خندا ښورول...

بېرسري لاربښود له مراقبې ورته وویل :

- د لوېې خېلخانې بابا به نن وګورې او پوه به شې، چې څنګه خپلې خېلخانې ته ځورېږي؟

مازیګر قضاو، چې بېرسری لاربښود او ورپسې لاروی یې د لوېې خېلخانې د بابا کوډلې ته ورننوتل .

-السلام علیکم !

-لارښوده ! سترګې مو روښانه چې راپېښ شوې! (سپین ږیري وویل)

لاروی یوې څنډې ته په ادب ودرېد .

سپین ږیري بابا له لارښود څخه لاروي ته سترګې ورواړولې :

- په خوب دې ولیدم؟

لاروی ورپړدېد ( - له ځان سره- دا څنګه خبر شو؟)

بابا دوام ورکړ :

- زما لویه خېلخانه ده، زامن او لورګانې، د زامنواو لورګانو زامن او لورګانې، د هغوی بیا او بیا او بیا زامن ولورګانې ...

خو ټول په پیریانو اخته دي .

لاروي مخامخ ورته وویل :

- دا څه ډول پیریان دي؟

بابا وویل :

- د پرنګ له ماښامونو راغلي دي. زما ټول بچي یې طلسم کړي، طلسم دا دی، چې ټوله خېلخانه مې ویده ده، په خوب کې ګرځي، په خوب کې خواړه خوري او په خوب کې بچي زیږوي، خو راویښیږي نه. په خوب کې یو بل ورته کافر ښکاري او په خوب کې یو بل وژني... زه چې د راویښېدو غږ پرې وکړم ، نو سترګې راواړوي او راته ووایي:

- غلی شه کافره !

خپله توره پورته کړي او زما په بدن یو بل زخم جوړ کړي. زما چې څومره خېلخانه لویه ده، هماغومره مې په بدن زخمونه ډېر دي ...

لاروی بیا وپوښتل :

- پیریانو څنګه ستا خپلخانه طلسم کړه؟

بابا وویل :

- پیریان راغلل او د شپې یې زموږ له مېنو څخه کتابونه غلا کړل، ډېوې یې ووژلې او په چینو کې یې اوبه زهرجنې کړې ...

ما یو کتاب پټ وساته، یوه ډیوه مې چېرته غلې کړه او یو منګی اوبه مې زېرمه کړې، هره شپه پټه ډیوه ولګوم کتاب  ورته ولولم، سبا ګورم چې منګی بېرته له اوبو ډک شي او په دې بڼه تل ځان ویښ ساتم، د پرنګ د ماښامونو پیریان دلته راتللای نه‌شي، خو بچې مې، خپلخانه مې هره ورځ د تورو او چړو یو نوی زخم رابښي ...

هره ورځ نارې ورته وهم :

- راویښ شئ !

دوی هر ځل راته وایي :

- غلی شه کافره !

بېرسري لارښود بابا ته وکتل او په خندا یې ورته وویل:

- دی (لاروی) غواړي پوه شي، چې ولې له دې ځایه نه ځې او خپله خپلخانه همداسې ویده نه پرېږدې؟

د بابا په سترګو کې د اوښکو څاڅکي راورونېدل :

- خپلخانه مې ده، بچې مې دي، څنګه یې پرېږدم؟ هره ورځ غږ پرې کوم، چې راویښ شئ، ګوندې کوم یو راویښ شي .

ما په تورو او چړو وهي، ماته کافر وايي، ما ځوروي، د يو بل پر وژلو مې هر وار وژني، خو څه وکړم؟ بيا هم راباندې ګران دي، بچي مې دي...

بابا ژړغونی شو، خو د لارښود کړس کړس خندا وخوځاوه، سترګې يې ورواړولې او په اوښلنو سترګو موسک شو...

ببر سري لارښود ورته وويل:

- د خپلخانې د راويښولو لاره به دروښيم او بيا به زه او زما ملګری (لاروی) درڅخه ځو .

د لويې خپلخانې د بابا سترګې وځلېدې او ببرسري لارښود ورته وويل :

- پټې ساتلې ډيوې ته له خپلو هغو وينو چې د بچيانو له چړو څخه دې پر بدن رابهيږي، نوې ډيوې روښانه کړه .

خبرشه! چې ستا د وينو په ځاځکيو ډيوه بليږي .

قلم د خپلو وينو په ځاځکو رنګ کړه او کرښه کرښه کتاب په وچو پاڼو وليکه او د ډيوې رڼا ته يې کېږده .

خپله لپه کې د خپل منګي څو ځاځکي اوبه وساته او همدا چې کوم بچی دې راغی، چې تا په چاړه ووهي، اول اوبه وروشينده، بيا ليکل شوې پاڼه د ډيوې رڼا ته وروښيه، چې ويې لولي. هماغه شېبه به دې بچی راويښ شي. تر راويښېدو روسته لومړۍ خبره دا ورته وکړه :

- د خپلو خويندو او ورونو په راويښولو کې مې ملګری شه او له تکفير څخه مه ويريږه !

بل قلم، بله ډيوه، بله پاڼه او د اوبو نور ځاځکي هغې / هغه ته ورکړه او بل ځلې دوه کسان راويښ کړئ ...

همداسې هر يو خپلې لوښې وزامن او بيا دهغوی لوښې و زامن او بيا، بيا، بيا ...

دا وخت د لويې خېلخانې بابا راپاڅېد، څرخ يې وخوړ او د لارښود وچويلی يې ښکل کړ :

- پوه شوم يا د لارښودو لارښوده!

پوه شوم

لاروی وډار شو :

- د بابا له زخمونو راروانې وينې لکه بهانده رڼا ډيوه ډيوه کېدې، د کتاب له کرښو هم پړکنده برښنا خورېده او د منګي اوبه لکه روانه چينه سپينې روانې وې ...

د بابا بچيان تورې او چړې په لاس راروان وو، لارښود او لاروی په ببړه راووتل ...

لارښود خپل لاروي ته وويل :

- شاته مه ګوره !

لاروي يوازې د بابا رپردېدلی غږ واورېد، چې ويل يې :

- راويښ شه !

دا ولوله !

دا وڅښه!

د خپلو خويندو او ورونو په راويښولو کې مې ملګری شه او له تکفير څخه مه ويرېږه!

او له تکفير څخه مه ډارېږه !

لاروي ډېر غوښتل شاته وګوري، چې څه پېښيږي؟

خو د خپل لارښود حکم يې مات نه کړ .

# يونويېم منزل

# پاڅه مات کړه!

# د تيارو تور طلسمونه

مجذوب او موسک لاربنود د لمرلويدو منظرې ته ځير ولاړ و. لاروی حيران شو، چې ډوبېدونکی لمر څنګه د ببرسري لاربنود سترګې نه برېښوي؟

خپل لاربنود يې وپوښت:

- ماښام راروان دی، ښه به نه وي، چې وخوځيږو؟

لاربنود وخندل، سترګې يې لاهم لمرپرېواته ته وې :

- هلته چې ځو، تل شپه وي .

موږ د تياروښار ته روان يو .

په مزله کې لاربنود لږ مخکې و. لاروی وپوښتل :

- د تيارو ښار ورځ نه لري؟

لاربنود داځل په لوړ غږ وخندل :

- نه، ځکه د تيارو د ښار خلک پر ورځ باور نه لري، رڼا ګناه بولي او لمر ته د لوی کفر په سترګه ګوري .

د لاربنود دې وينا لاروی هم حيران کړ او هم يې تلوسه زياته شوه، لاربنود يې وپوښت :

- د تیارو ښار په څه بلا اخته دی؟

لارښود په موسکا کیسه پیل کړه :

- د دې ښار خلک له پخوا زمانو څخه ړانه بده ګڼي، څراغ ورته د شیطان نښه ښکاري او له اور څخه کرکه لري .

پېړۍ وړاندې لمر خبر شو، چې د دغه ښار خلکو پر تیارې ایمان راوړی، نو ځان یې ترې پټ کړ. له هغې زمانې لمر پر ټوله نړۍ راخیژي، خو دلته خپله ړنا په څادر کې نغاړي، چې د تیارو د ښار وګړي د ګناه احساس ونه کړي .

د تیارو د ښار وګړي دوه برخې دي. نیمایي یې په بشپړه تیاره کې اوسي او اوږدمهالو تیارو ړانده کړي دي. دوی ته چې څوک وواېي: انسان سترګې لري او هرڅه لیدلای شي، نو دوی کړس کړس ورپورې خاندي او سترګور احمقان ګڼي، په سترګورو یې زړه سیزي، لوی ګنهکاران ورته ښکاري. دوی وایي :

- خدای بنیادمان ړانده او په تیارو کې ډوب پیدا کړي. له تیارو وتل لویه ګناه ده، لوی جرم دی !

د ښار نیمایي نور خلک سترګې لري، خو دوی هم هرڅه سم نه ویني. د ښار نیمایي سترګورو وګړیو په خپلوغاړو کې هینداري راځړولې دي. دوی هیڅه او هیچا ته مخامخ  نه ګوري، هرڅوک او هرڅه په خپلو هیندارو کې  ویني. د دوی هینداري د دوی د کرکې او مینې انځورونه ورښیي. د ښار بینا خلک په خپلو غاړو کې راځړېدلې هینداري یو بل ته ونیسي او ناڅاپه چیغه کړي :

- اوه !

ته خو له پلانۍ خېلخانې یې !

ستا ژبه خو پردۍ ده !

ستا وینه دوښمنه ده !

په دې کې تورې او چړې راوباسي او يو د بل وينې وبهوي .

د تيارو د ښار تېر ړانده وګړي ځان بختور ګڼي، ځکه په کرکجنو هيندارو کې يو د بل څېرې ليدلای نه‌شي او ړانده په خپلو کې يو د بل وينې نه بهوي .

هغوی چې سترګې لري، او يو د بل څېرې، ژبه، خېلخانه او زات و زوريات په خپلو هيندارو کې ويني په دوښمنيو اخته دي ، ځکه خو دلته د تلپاتې تيارو واکمني له دوارو هېره ده. دوی له خپل ښار بهر رڼا نه مني، دوی ته د لمر شتون يو لوی دروغ او د شيطان وسوسه ښکاري. دوی پر تيارو ايمان راوړی .

دا مهال لارښود او لاروی د تيارو ښار بريد ته ورسېدل، لاروی وېرېده، ژر يې وپوښتل :

- د تيارو طلسم څنګه ماتېدلای شي؟

لارښود کرس کړس وخندل :

- تر هرڅه وړاندې بايد د ښار سترګور په خپلو غاړو کې راځړېدلې هينداري ماتې کړي او يو بل ته مخامخ په خپلو سترګو وګوري. که دوی يو بل ته په انساني سترګو وکتل، طلسم ماتيږي. دوی به بيا د ښار دويمه نيمايي خلکو ته ووايي، چې :

-رڼا ګناه نه ده !

لمر شته!

څراغ د شيطان نښه نه ده !

او خدای انسان ته سترګې ورکړي، چې هرڅه ووينې، په هرڅه پوه شي او باور وکړي، چې له دې ښاره بهر لويه دونيا شته، چې لمر يې روښانوي .

که د دوی باورونو او ایمان ته رڼا راغله، په هغه ورځ به لمر خپلې وړانګې په دغه ښار خورې کړي .

لارښود او لاروی دا وخت د تیارو ښار ته ننوتلي وو .

لاروي په ډېره ویره، یوه خوا د تورو او چړو شور او د بدو ردو غوغا واورېده او بله خوا یوه ژوره ویرووونکې چوپتیا، چې د تیارو په یوه بېپایه سمندر کې ډوبه وه .

# دوه نوي‌یم منزل

# تر قفسونو بهر هم یوه دونیا شته

لمر لا راختلی نه و، چې ببرسري لاربښود خپله خامتا په اوږو راسمه کړه، د لمرخاته له خوا سپینې رڼا ته څیر شو، ستړګې یې ځلېدې .

لاروی مزل ته چمتو و، خو د قفسونو د ښار په اړه یې په ذهن کې پوښتنې ګرځېدې .

لاربښود و لاروی مخ په لمرخاته وخوځېدل، لاروي له خپل شوریده لاربښود څخه وپوښتل :

- د قفسونو ښار ولې په دې نامه یادیږي؟

لاربښود وخندل، همداسې یې ختیځ ته کتل :

- د قفسونو د ښار هر ښاري په یوه مقدس قفس کې رالوییږي. هرماشوم تر پینځه یا شپږ کلنۍ روسته په کاغذي قفسونو کې زنداني کوي. دغه قفسونو د افیونو او زعفرانو له ژېړو کاغذونو څخه جوړ او په دغو کاغذونو تورې ګډې وډې کرښې راکاږل شوي، چې ماشومان یې په مانا نه پوهیږي. په ژېړو کاغذونو د ګډووډو تورو کرښو په مانا یوازې د ښار لوی راهب پوهیږي. تر هغه واړه راهبان چې له ژېړو کاغذونو څخه د ښار ماشومانو ته قفسونه جوړوي، د تورو کږو وږو کرښو پا مانا ډېر نه پوهیږي .

عجیبه دا ده، چې واړه راهبان کرښې لوستلای شي، خو په مانا یې سم نه پوهیږي. یوازې لوی راهب، چې د ښار واکمن دی او ډېرې ښځې لري، د کرښو په رمز و راز خبر دی .

واړه راهبان هم څو څو ښځې لري او شپه و ورځ لګیا وي، په ژېړو کاغذونو تورې کرښې وړې کرښې راکاږي، په مانا یې ډېر نه پوهیږي، خو دا یې زده دي، چې څنګه یې په توره سیاهي پر ژېړو کاغذونو رسم کړي او ماشومانو ته ورنه قفسونه جوړ کړي. د قفسونو طلسم دا دی، چې ماشومان ټوله نړۍ د کاغذي قفسونو تر اندازې پراخه ګڼي. ژېړ کاغذونه او تورې کرښې ماشومان نه پرېږدي تر قفسونو بهر فکر وکړي، اسمان وویني، لمر وپېژني، د ستوریو او پراخو کایناتو په اړه پوه شي، د لوبو، خوښیو، مستیو او خنداګانو په خوند پوه شي. ژېړ کاغذونه او تورې کرښې ماشوم ته دا ورښیي، چې د ده له قفس بهر هرڅه شیطاني او کفري دي، شر دی او په اړه یې خبرې او فکر کول لویه ګناه او معصیت دي. هرچا ته خپل قفس مقدس دی.

لارښود په موسکو شونډو  د کیسې دې ځای ته رسېدلی و، چې لاروي پوښتنه وکړه :

- کوربان دې شم زما لارښوده !

دا ماشومان تر څه وخته په قفسونو کې ساتل کیږي؟

لارښود یوځل بیا وخندل او ویې ویل :

- عجیبه دا ده، چې ښاریان تر مرګه په قفسونو کې ژوند کوي، خو د قفس شکل و بڼه بدلیږي. ماشومان چې بالغ شي، نو له وړو قفسونو راایستل کیږي. تر بلوغ روسته د ښځینه ښاریانو لپاره کرښې کرښې لوڼې کڅوړې جوړیږي او وراغوستل کیږي. دغه کڅوړې تر مرګه د ښځو مقدس قفسونه دي، چې هرځای ورسره ځي. د ښځوټوله نړۍ د همدغې کڅوړې په اندازه ده. د ښځو لپاره تر کرښې کرښې کڅوړې بهر هرڅه کفر او ګناه دي .

د نرینه وو لپاره قفس کوشنی کیږي او یوازې یې سر په قفس کې بند وي. د نرینه لپاره تر خپل قفس بهر فکر کول کفر ګڼل کیږي، خو لاسونه او پښې یې  د جګړو او وژنو لپاره پرانیستي وي .

نارينه وو ته د ژېړو کاغذونو او تورو تورو کرښو څخه د ورپه سرکړيو قفسونو بهر فکر کول، څه ليدل او څه ويل کفر ګڼل کېږي .

لارښود د کيسې دې برخې ته رسېدلی و، چې دواړه د قفسونو ښار ته ننوتل. لاروی وليدل، چې کرښې کرښې کڅوړې روانې دي او د نارينه وو سرونه د داسې ژېړو کاغذونو په قفسونو پوښلي، چې په توره سياهي کرښې لري، خو هيڅوک يې په مانا نه پوهيږي .

ښاريانو د لارښود او لاروي په ليدلو منډې کړې، دوی له يې قفسه پرديو وډار شول. د لارښود و لاروي سرونه په قفسونو کې بند نه وو، ښاريانو باور درلود، چې دغو پرديو ته کتل او هرکلی لوی کفر دی .

لارښود ډاډه روان و، خو لاروی ډېر سخت ډارېده. ده فکر کاوه:

- هغوی چې سرونه يې په طلسم شويو قفسونو کې بندي وي، خو لاسونه او پښې يې خوشې وي، هر راز وحشت پېښېدلای شي .

بېرسری لارښود د خپل لاروی په ويره پوه شو، په کړس کړس يې وخندل او لاروي ته يې وويل :

- مه ډارېږه، دوی له هغو سرونو څخه ويرېږي، چې په قفسونو کې زنداني نه دي.

د قفسونو ښاريان په دې خبر دي، چې له قفسونو خپلواک سرونه تر دوی پياوړي دي .

# دريېنويم منزل

# لورپينه د څښتن،

# ستا تر هيلو ده لا لويه!

لاروی د ښار د زړې او نيمړنګې دروازې پر سر ډبرليک ولوست:

« هغه څه غواړو، چې لرو يې!

خو،

هغه څه نه پېژنو، چې نه يې لرو«!

ببرسری لارښود له دروازې څخه ښار ته په ننوتو و، چې لاروي له لمنې ونيو او وېې پوښت :

- زما لارښوده !

دا کوم ښار دی او راز يې څه دی؟

لارښود يوه غلې خندا وکړه، لا موسک و او خبرې ته يې خوله جوړوله، چې نيم‌بربنډ او وږي ماشومان له دوی دواړو راتاو شول. ماشومانو لارښود او لاروي ته د سوال لاسونه نيولي وو او له هر نوي راغلي مساپر يې د خوړلو لپاره څه غوښتل.

لارښود له خپل انډي څخه څه وچه ډوډۍ او توتان ورکړل، لاروي هم له ببرسري څخه په لاسنيوي، خپله برخه پر ماشومانو وويشله، خو د وږيو ماشومانو خلاصی نه و، ورپسې څو مخپټيو ښځو را منډې کړې او بيا لړزېدلي

سپین‌ږیري د سوال په نیت راوخوځېدل... لارښود و لاروی خپلې تشې خوړځینې وروښودې، ښاریان ناهیلي و رپړدېدلي  بېرته ستانه شول ...

لارښود لا موسک و. لاروي ته یې وویل :

دا د « ویاړ» او «ایمان»  ښار دی .

ویاړ او ایمان د دوو راهبانو نومونه دي، نیم ښاریان د یوه او نیم ښاریان د بل په برخه رسېدلي. د دې ښار خلک طلسم شوي دي، یوازې راهبان او د هغوی اوړدکمیسي شاګردان له طلسم څخه خلاص دي .

لاروي ښار ته وکتل، ړنګ کورونه، ناروغ او وږي ښاریان، په شخړو او وهلو بوخت ځوانان او سوالګر ماشومان. د ښار په دوو خواوو کې دوه لوړې ودانۍ وې، چې له هر ځایه ښکارېدې. لاروی لوړو او شاندارو ودانیو ته ځیر و، چې لارښود ورزیاته کړه :

-          دا دوه ودانۍ د «ویاړ» او « ایمان» مزدکونه دي. دواړه راهبان همدلته اوسي. خلک ګدایي کوي او څه چې ګټي یوه برخه خپله خوري او درې برخې راهبانو ته ورکوي. راهبان او اوږدکمیسي شاګردان یې ماړه او مست دي .

طلسم دا دی، چې ښاریان د خپلې نیستۍ په راز نه پوهېږي. نیم ښار د ورځې پینځه ځلې چیغې وهي :

« موږ ایمان غواړوووو!!!!»

نیم نور بیا د ورځې پینځه وارې چیغې کړي :

« موږ ویاړ غواړوووو!!!»

هیڅوک ډوډۍ، اوبه، زمکه، کرونده، ښوونځی او پوهه نه غواړي، هیڅوک د طلسم له خوب څخه راویښېدل او هوښیارېدل نه پېژني. دوی یوازې دوه راهبان

، چې ویاړ او ایمان نومیږي، پېژني او همدا غواړي. ښار د ایمان او ویاړ له حضوره ډک دی، د ایمان او ویاړ د مزدکونو لوړ منارونه له هرځایه ښکاري، خو ښاریان لا هم چیغې وهي :

موږ ایمان او ویاړ غواړووووو!!!

کلونه پخوا یوه فیلوسوف شاعر د ښار د دروازې په سر په یوه دړه ولیکل :

« هغه څه غواړو، چې لرو یې!

خو،

هغه څه نه پېژنو، چې نه یې لرو«!

راهبانو چې دا ډبرلیک ولید، شاعر یې کافر وباله او ښاریانو ته یې امر وکړ، چې سنګسار یې کړي، ښاریانو هر یوه د ثواب لپاره خوار شاعر په ډبره وویشت او د هغه په وینو لژند بدن همداسې د ډبرو تر بارې لاندې خښ پاتې شو، خلک وایي د ډبرو له بارې څخه تر نن پورې یوه نرۍ چینه رابهیږي، خو خلک یې اوبه نه څښي، ځکه فکر کوي، چې د کافر شاعر له وژنځای څخه د راوتلې چینې اوبه څښل کفر دی .

راهبانو ډېره خواري وکړه، چې ډبرلیک مات کړي، خو بریالي نه شول. اخر یې د خلکو ذهنونه طلسم کړل، خلک اوس د شاعر په تورو نه پوهیږي او هیڅکله یې نه لولي .

د طلسم د ماتېدو راز دادی، چې خلک د فیلوسوف شاعر په خبره پوه شي .

ویاړ او ایمان شته، خو که ډوډۍ، زمکه، اوبه، ښوونځي او پوهه وغواړي، نو نیستي به ورکه شي .

راهبان له دې ورځې ډاریږي، دوی ګومان کوي، چې که خلک ډوډۍ، کرنه، اوبه، ښوونځي او پوهه وغواړي، بیا به د دوی نومونه «ویاړ» او « ایمان» هېر کړی...

لاروی له ښاریانو وډار شو، په ترهېدلو سترګو يې خپل لارښود ته کتل، چې ناڅاپه د ښار له دواړو لوريو چيغې پيل شوې :

« مور، ايمان غواړوووو!!!!»

« مور، وياړ غواړووووو!!!»

لاروي په لړزېدلو ګامونو په خپل لارښود پسې منډه کړه، چې ژر له دې ښاره ووځي .

# څلورنوېيم منزل

# چوپتيا هم يو لوی سبق دی

نن ببرسري لاربښود خپل لاروی ته ويلي وو، چې له دوو کليو څخه به خاموش تېرېږو، لاروی دې څه نه پوښتي، بس هر څه به په سترګو وينې. لاروی لږ سودايي شو، خو د خپل مراد و مرشد خبره يې ومنله او په ببرسري مستانه پسې روان شو.

د ځنګله د بوټو له منځه چې ووتل يوه پراخه شنه ورشو په مخه ورغله، په ورشو کې پېوړې غواګانې او مېږې څرېدې. لاندې ګڼ باغونه وو. په ونو کې مڼې، اينځر او رنګارنګ ميوې ښکارېدې، تاکونو پرېمانه انګور نيولي وو. د کلي چاپېره زمکو کې د غنمو بې پايه کروندو زرينې وږانګې ښندلې. په کلي چې تېرېدل؛ ماړه، خندانه او په مستيو چالاک ماشومان يې وليدل، چې لوبې يې کولې .

لاربښود و لاروي تر مازيګره د کلي نېکمرغه خلک وليدل، خوشاله او ماړه وو. مازيګر مهال لاربښود يوه لوی او ښکلي باغ ته ورننوت، لاروي ته يې اشاره وکړه، چې د يوې ګڼې و سمسورې ونې تر څانګو لاندې غلی شي او د باغ په منځ کې د چينې په غاړه پنډو کليوالو ته غوږ ونيسي .

لاروی حيران و، مستې دنګې پېغلې په چينې راټولې وې او د مينې ترانې يې ويلې. په دغو ترانو کې د پوهو، ښکليو او کاريګرو ځوانانو ستاينه کېدله او نجونو په خپلو ترانو کې له ماشومانو، پلرونو او ميندو او د خپل کلي له ټولو انسانانو سره مينه ستايله، د خپل کلي د باغونو مڼې او ښکلاوې يې يادولې. د پېغلو غړونه ښکلي وو. د داسې غنم‌لو د جشن يادونه يې کوله، چې هلته پېغلې خپلو ميينو لوګريو ته يخې اوبه وروړې او په خپلو سپينو لپوکې اوبه ورکوې. د دوی غړونه چې په هوا کې خپرېدل، د ونو ميوې زياتېدې، غنم لا پسې طلايي کېدل، په چينو کې اوبه زياتېدلې او د غواګانو او مېږو غولانځې له شيدو راډکېدې...

لاروی لا د دغې ننداري په لیدو موړ نه و، چې لاربښود له باغه ووت او د خړ ماښام په څادر کې نغښتی څېرمه کلي ته ورواوښت.

دوی ټوله شپه په ځنګله کې مزل وکړ. سهار و، چې د ځنګله بلې څنډې ته ووتل، هلته ونې بل ډول وې، د ونو څانګې لکه نیزې او تورې داسې خونړۍ ښکارېدې او د پاڼو په ځای په کې چړې راځوړندې وې، له چړو څخه وینې راڅڅېدې .

د نیزو، تورو او چړو له ونو څخه چې تېر شول، د غنمو یوه کرونده یې ولیده، چې ډنډروئه یې د غنمو و، خو د وږیو په ځای یې په سرونو کې د مارانو نېښونه او غاښونه ښکارېدل. لاروی وډار شو، خو غلی زبون وهلی پخپل لاربښود پسې روان و، وچ واښه او اغزي هره خوا ولاړ وو. په اغزیو کې نه غواوې ښکارېدې نه مېږې. څو ستومانه او ډنګرې کچرې هلته دلته څرېدې، د کچرو ملاوې زخمي وې او له زنګنو یې وینې بهېدې. د کلي په کنډرو کوڅو کې څو وږي، ژېړ زبېښلي ماشومان پراته وو او له هر لاروي څخه یې یوه مړۍ ډوډۍ غوښته. څاه ګانې وچې او ژرندې ړنګې وې. د کلي د مزدک مخې ته ژېړکمیسی راهب ولاړ و او په غوسه یې یوه ډله نارینه وو ته څه ویل، د نارینه و په مخونو د تورو او چړو زخمونه له ورایه ښکارېدل، څېرې یې لمر او ولږې سیزلې وې، راهب د کومې بلې جګړې لپاره وعظ ورته کاوه .

بېر سری لاربښود له دې ځایه وړاندې ولاړ، دا ورځ هم مازیګر ته نږدې وه، څېرمه غونډۍ زقومو او غټو اغزنو بوټو پوښلې وه. لاربښود او زبون‌وهلی لاروی یې تریوه غټ زقوم لاندې غلي شول. شېبه روسته څو ډنګرې، وږې مېرمنې راښکاره شوې، چې سر تر پښو په تورو ټوټو کې نغښتې وې او یوازې دوه دوه سترګې یې په ژورو ګوګونو کې کوړاغې ښکارېدې. د مېرمنو کتار داسې روان و لکه په جګړه کې نیول شوي مریيان. د مېرمنو په پښو او لاسونو کې زنځیرونه و زولنې پرتې وې او په یوه اوږده زنځیر یې ټولې سره تړلې وې. د زنځیرپېچو مېرمنو کتار

رانړدې شو، ټولې د زقوم  تر یوې لوړې ونې لاندې راټولې شوې او په رنځورو غړونو یې ساندې پیل کړې .

لاروی پوه نه شو، چې مېرمنې پر کوم مړي ساندې وايي، که کومه غمجنه سندره بولي؟ خو دومره یې واورېدل، چې ښځو د تورو او جګړو ستاینې کولې، جګړه مار نارینه یې اتلان ګڼل، زوړ راهب یې د خدای استازی باله او  د خپلو ځښتنانو اتلولۍ یې خپل ویاړ ګاڼه .

ناڅاپه  د یوې ښځې کریغه پورته شوه او د دوښمنو له غاړو څخه یې د وینو د لکې دارې ننداره د ژوند تر ټولو ښه خاطره یاده کړه...

لاروي ولاړو اغزنو ونو ته وکتل، چې څنګه د ښځو له ساندو یا سندرو سره یې څانګې د اوږدو نیزو او تورو په شان خونړۍ کېږي او په تېرو څانګو یې  د پاڼو پرځای تېرې چړې او غشي راځرګندیږي .

لاروي ویرجنې سترګې خپل ببرسري لارښود ته – چې خندل یې – داسې ورواړولې، تا به ویل، ورته وايي :

- زما لارښوده !

ژر مې له دې ځایه وباسه!

# پینځه‌نویم منزل

# ژوند مزل دی،

# ناپوهي څخه د پوهې تر درشله

ببرسری لاربښود په خندا سپینې سپوږمۍ ته ځیر و، ناڅاپه یې خپل ستومانه لاروی وپوښت :

له ناپوهۍ تر پوهنې د مزله کیسه مې درته کړې وه؟

لاروی هېښ راکېناست :

-زما لاربښوده !

کاشکې یې اوس راته وکړې، تل مې په دې اره تلوسه ده.

لاربښود کټ کټ وخندل :

-کیسه داسې وه:

پینځه وړي و نهر ملګري په یوه کنډواله کلي ورپېښ شول. تر لږ دمې روسته ولړې وارخطا کړل، ټولو د یوه دیواله تر شا په خپلو کې خبرې پیل کړې .

ناپوهي (جهل):

-لومړی کس یوازې دیوال پېژني او نه پوهېږي، د دیوال تر شا څه دي؟

وایي :

- دلته له دیوال پرته نور څه نه شته.

دا ناپوهي (جهل) دی .

کتنې ( مشاهده) = تجربه :

-دویم کس وایي، زه شېبه مخکې په دیوال پورته شوم او له ورایه مې د دیوال شاته یوه غټه ولاړه ونه ولیدله .

معلومات :

-درېیم کس د کلي په اړه یو کتاب موندلی، وایي :

- په کتاب کې یې لیکلي، چې د دغه دیوال تر شا یو کوشنی نیالګی ولاړ دی، څه چې په کتاب کې راغلي همدا حقیقت دی، نو د دیوال تر شا یو نیالګی دی .

فیلوسوفي:

-څلورم کس یوازې پوښتنې کولې:

- ولې یې نیالګی د دیوال شاته کېنولی؟ ولې یې نیالګي ته دیوال جوړ کړی؟

ولې یې د نیالګي په اړه په کتاب کې لیکل کړي دي؟

د دغه نیالګي توپیر د لارې د سر له بې ثمره ولاړو ونو سره څه دی؟

دوی څلور و په خپلو کې شور جوړ کړ، ناپوهي ویل:

- له دیوال پرته بل څه نه شته، زه یوازې دیوال وینم .

دویم، چې پر خپله کتنه باوري و، ټینګار کاوه، چې:

- هلته یوه غټه ونه ولاړه ده .

درېیم کس ویل :

- کتاب د پوهې خزانه ده او زه یوازې په کتاب باور لرم، په کتاب کې یې لیکلي: «هلته یو کوشنی نیالګی دی.» محض حقیقت همدا دی .

څلورم (فیلوسوفي) لاهم پوښتنې کولې:

دا نیالګی له نورو سره څه توپیر لري؟

پوهنه (علم) :

ټولو پینځم کس ته وکتل، چې تراوسه لا چوپ ولاړ و. پینځم ملګري کتاب وغوښت او لومړی مخ یې وکوت، یو څه فکر یې وکړ او بیا یې وویل :

کتاب لس کاله مخکې کښل شوی دی، حقیقت له زمان سره بدلیږي، لس کاله مخکینی نیالګی باید اوس یوه لویه ونه وي. نو د کتونکي (تجربې) خبره سمه ده!

د فیلوسوفي پوښتنو زه دې فکر ته اړ کړم، چې ولې یې د دې نیالګي په اړه په کتاب کې لیکلي؟ پایله دا ده، چې دا پخوا د کلي عمومي باغ و او نیالګی باید د میوې ونه وي، د دې لپاره چې میوه خوندي وي، دیوال ورته جوړ شوی دی. د دغې سیمې هوا او د تاوده اوړي دا ورځې ښيي، چې ونه میوه لري. موږ وږي یو او په ونه کې میوه شته، باغ هرو مرو د ورننوتلو یوه لار لري. زما سپارښتنه ټولو ته دا ده، چې د خپل ژوند ژغورلو لپاره تر نور شور و بحث وړاندې باید عمل وکړو. پر دیوال راوګرځئ او باغ ته د ننوتلو لار پیدا کړئ. باید له ونې میوه راواخلو، ویې خورو او د ټولو (ژوند) وژغورو .

ټولو پینځم ملګري ته د پوهې (علم) نوم ورکړ .

میوې د لومړي ملګري (ناپوهۍ = جهل) خېټه هم مړه کړه او ژوند یې وروژغوره .

لاروي د خپل ببر سري لاربنود کیسې ته پرانیستې خوله غوږ نیولی و. د سهار ستوری روڼ ځلېده.

# شپږنوی‌یم منزل

# ها چینجي چې ګروهه وخوري،

# ښامارن شي

ټوله شپه یې مزل کړی و. لاروی د خپل بېرسري لاربښود اندېښمنې خو موسکې څېرې ته ځیر شو، لاربښود په خندا ورته وویل :

- تر دې وړاندې چې زخم‌اباد ته ورننوځو باید په دغې چینې کې ولامبو، دا مهال یې د لارې کیڼ اړخ ته یوه بهانده چینه وروښوله .

لاروی د خپل لاربښود حکم ومانه او جامې یې له تنه بېلې کړې ...

- شېبه روسته لاربښود هم خپلې لمدې څنې باد ته وسپارلې او لاروي ته یې په خندا ځواب ورکړ :

پر زخم‌اباد طلسم شوی، چې هروګړی یې له ګناه څخه یوه ګونګه او مبهمه ویره لري، هیڅوک نه پوهیږي، چې دا کومه ګناه ده، خو ټول یې له ویرې په ځان باندې زخمونه او دردونه ګالي. اوس چې موږ دواړو په دې چینې کې ولامبل، نو ښار ته ننوتلای شو، پرته له دې چې طلسم په موږ اغېز وکړي .

سهار رڼا خپره شوې وه، خو لمر لا راختلی نه و، چې لاربښود او لاروی ښار ته ورننوتل، څه ګوري، چې د ټولو خلکو اوږې او ډډې زخمي دي، له زخمونو یې وینې و زوې رابهیږي او په زخمونو کې له وینو ډک واړه واړه سوري شته، چې په کې چینجي وځي و ننوځي .

لاروي له دې منظرې وحشت وکړ، په رپږدېدلیو لاسو یې د لاربښود لمن ونیوله او ویې پوښت:

- زما لاربشوده!

له دې رازه مې خبر کړه!

لاربشود بيا په خندا وخوځېد او ځواب يې ورکړ :

- ډېر کلونه وړاندې په دغه ښار يو قهار سړی واکمن شو، چې ځان يې خدای او ښاريان يې خپل بندګان بلل. ښاريانو په نوبت د ځانبللي خدايګوټي خدمت کاوه او د هغه روان تخت به يې په خپلو اوږو ګرځاوه. په دې کې څوتنه ښاريان چې د خدايګوټي تخت يې ډېر په اوږو ګرځولی و، په خپلو اوږو کې ټپونه وليدل، روسته دغو ټپونو چينجي وکړل، ټپونه تر ملا او خېټو پورې وراسته شول او د خدايګوټي صادقو خدمتګارانو نيمايي بدن له چينجيو ډک شو. خدايګوټي وويل :

- يوازې دا بندګان ريښتيني مؤمنان دي او تر مړينې روسته به تلپاتې ژوند ورپه برخه شي. هغوی چې په بدن کې يې زخمونه او په زخمونو کې يې چينجي نه وي، لوی ګنهکاران دي او په تلپاتې عذاب کې به کړېږي .

د خدايګوټي له دې وينا روسته ښاريانو د ګناه له وېرې په خپلو بدنونو کې سوري جوړ کړل او له صادقو خدمتګارانو يې مقدس چينجي په پور وغوښتل ...

دا کيسه همداسې روانه ده او تر ننه ښاريان په خپلو بدنونو کې زخمونه او چينجي ساتي، چې ريښتيني مؤمنان وګڼل شي .

د خدايګوټي استازي راهبان د ښار واکمنان دي، دوی په لويو ختېنو مټيو او منګيو کې وينې زبېښونکي مقدس چينجي ساتي او هر ښاري، چې اووه يا لس کلنۍ ته ورسيږي، خپلې اوږې او ملاوې زخمي کوي او بيا راځي له واکمنو راهبانو څخه چينجي غواړي، چې له ګناه څخه پاک پاتې شي .

ښاريان کار و کرنه کوي، واکمن راهبان عيش کوي. ښاريان وږي دي، خو راهبان په ماڼيو کې ښه خوري او ښه څښي، هره شپه له ښکليو ښځو سره په وريښمينو

کټونو کې پریوځي او سبا ته نویو ښاریانو ته چینجي ورکوي، چې په خپلو زخمونو کې یې وروزي .

په ښاریانو له ګناه څخه د ویرې یو عجیب سیوری پروت دی، دوی همدغه ګروهه منلې ده، چې د خدایګوټي او راهبانو په خدمت کې دې د دوی بدن زخمي وي او مقدس چینجیان دې د هغوی غوښې خوري. دوی وايي :

- د دونیا ټولې نورې ګروهې او مذهبونه دروغ او باطل دي، یوازې زموږ ګروهه سمه ده .

دوی وايي:

- هغه بنیادمان، چې په دې اړه شک یا پوښتنه کوي، د خدایګوټي او راهبانو له محبت څخه محروم دي .

لاروي په لړزه وویل :

- دوی څومره بدمرغه دي؟

لارښود کړس کړس وخندل :

- خو د دوی په نظر زه او ته د نړۍ تر ټولو بدمرغه بنیادمان یو، چې په اوږو او ډډو کې نه زخمونه لرو او نه چینجیان .

بېرسرې لارښود روسته په اندېښمنه څېره یوه لرې افق ته ځیر شو او ورو ورو یې تر شونډو لاندې څه وویل. لاروي په ډېر زحمت د خپل لارښود خبره واورېده، چې ویل یې :

- «هغه بنیادمان، چې د ګناه له ویرې د خپلو تلپاتې بدمرغیو، رنځونو او کړاوونو په اړه فکر نه‌کوي ټول د زخم‌اباد ښاریان دي، د چا زخمونه و چینجي په اوږو او ډډو کې دي او د چا په زړونو، ذهنونو او ارواوو کې .»

# اووه‌نوي‌یم منزل

# موږ لیکلي دي په شناختو برخلیکونه

لاروي له خپل ببر سري لاربښود هیله وکړه، چې د قبرونو د وطن په اړه یې خبر کړي .

د لاربښود سترګې د سهارني افق تکو سپینو څنډو ته موسکې وې، همداسې چوپه خوله د مخامخ غره کنډو ته ځیر شو، ورو یې وویل :

- لمربه یوه نیزه راپورته شوی وي، چې د قبرونو وطن ته ورسیږو، هلته به هرڅه ووینې، خو تر هغو وررسیږو، خبر شه چې د قبرونو د وطن خلک په دې ویاړي، چې وطن یې هدیره ده. دوی په دې هم فخر کوي، چې وطن یې په ټوله دونیا کې د هدیرې په نامه پېژندل کیږي، « د زورورو هدیره» .

لاروی نور هم حیران شو:

- « د زورورو هدیره!»

لاربښود خپلې ببرې ایره‌یي څنې د باد منګولو ته ورپرېښودې او ویې موسل :

- هو، د قبرونو د کلي ختیځ ته د سروزرو د مرغیو ښار ودان دی، هلته د یوه زاړه مندر له تل څخه د سرو زرو مرغۍ الوځي. د نړۍ زورور د دغو مرغیو په ښکار پسې راځي او د قبرونو په وطن تیریږي. د زورورو لښکرونه هم چې ځي او هم چې راځي همدا یې لار ده. د قبرونو د وطن خلک فکر کوي، چې خدای دوی یوازې همدې ته پیدا کړي، چې د همدې تګ راتګ پرمهال د زورورو د لښکرونو یوه برخه ووژني او قبرونه پرې جوړ کړي، بیا نو د ببوزله مینجاورو په شان همدا قبرونه ساتي او کپ ډوډۍ ته یې د سوال لاسونه اوږده دي .

لاربښود چوپ شو، لاروي د خپل مرشد څېره پېژندله، د هغه شونډې موسکۍ وې، خو سترګې یې جدي بریښېدې، لاروی پوه شو؛ باید چوپ پاتې شي .

لمر لا یوه نیزه ولاړ و، چې لاربنود او سیلولی لاروی ورپسې د روانو مړیو د وطن په شاړه دروازه ورننوتل، د دروازې اړخ ته په یوه څو زره کلنه دړه لیکل شوي وو: « د زورورو هدیرې ته لومړی ځل په خیر راشئ!»

لاروی حیران شو، «لومړی ځل؟» لاربنود یې په ذهن کې پوښتنه ولوسته، کټ کټ یې وخندل :

- هو، د زورورو هدیرې ته دویم ځل څوک نه راځي. ولې راشي؟

له شاړې دروازې د هغه وطن دننه، چې نه ښار و، نه کلی، نه بشپړه هدیره وه او نه هم کرونده یوه کړه وړه لاره تېره شوې وه، د لارې ترخنګ واړه، غټ، خاورین، ډبرین، مرمري او ګومبزي قبرونه او زیارتونه وو. لومړني مینجور لاربنود او لاروي ته په مسخرو وخندل، لاربنود له خپل ګوډې څخه لږ ډوډۍ ورکړه، مینجور ګویا شو:

- هاغلته د یونانیانو قبر دی، ورهاخوا د عربو زیارتونه دي، مغول، انګریز... دا وخت له یوه صلیب لرونکي قبرڅخه یو تور کارغی والوت .

د قبر ترخنګ یو ماشوم د زړې شناختې له شا راښکاره شو، لارویو ته یې بد بد وکتل، خپله لرګینه توره یې د دوی خواته نېغه ونیوله .

مینجور ورغبرګ کړ:

- غلی شه اتله! دوی زورور نه دي.

مهربان لاربنود هغه ته هم څه ډوډۍ ورکړه، ماشوم په یوه بل لرګي سپور شو او چوووووو یې وویله، په خپل لرګین اس او نېغه توره د قبرونو تر منځ ورک شو...

لاروي د خپلو بېشمېره پوښتنو ځوابونه وموندل .

پوه شو، چې د قبرونو وطن به د زورورو لپاره هدیره وي، خو د خپلو بېوزله هستوګنو لپاره هم جنت نه

# اته نوي‌یم منزل

# د جنت یوه چینه راغلې دلته

# او رنه رنه بهیږي

# زموږ د میندو له دوه سترګو

ببرسري لاربنود ناڅاپه لاروی وپوښت:

- زه خبر یم، چې مور یې یې دې په سترګو بینا وه. ووایه تا د خپلې مور په سترګو کې څه څه لیدل؟

لاروی حیران شو، د هغه لاربنود عجیبه پوښتنه کړې وه، یوځل بیا یې خپل لاربنود ته وکتل، د تل په شان موسک و. دا ځل یې لرې افقونو ته نه‌کتل، بلکې سترګې یې د لاروي په سترګو کې خښې کړې وې، لاروی لږ راهیښ شو او ویې ویل :

- کوربان دې شم  زما لاربنوده !

ما د خپلې مورکۍ په سترګو کې بې‌پایه مینه و مهرباني لیدله. موربه مې چې هرځل راوکتل، نو زمابه پر انسانیت باور زیات شو، عاطفه به مې زده‌کړه او هر بل انسان به راته د مهربانۍ وړ موجود ښکاره شو...

لاروي به لا نور څه هم ویل، خو لاربنود ناڅاپه وپوښت:

- هیلې څنګه؟

د مور په سترګو کې دې هیلې هم لیدلې؟

لاروي وويل :

- هو، زه لا هم چې د ژوند د سختیو په وړاندې مات شم، د خپلې مورکۍ له ستړګو څخه هیلې په پور اخلم ...

لاربښود وخندل، خندا یې په تنګه دره کې تاوراتاو شوه،

- لارویه !

چې داسې ده، نو تر دې درې وړاندې تا داسې کلي ته بیایم، چې ټولې میندې یې ړندې دي او دې ځای ته د ړندو میندو وطن وایي.

لاروی وریږدېد، تا به وېل زبون یې وهل شوی دی. غوښتل یې وپوښتي :

- ولې د ړندو میندو وطن؟

خو له خپلې پوښتنې وویرېد ...

د سهار لمر ته لا سیوري اوږده ښکارېدل، چې په یوه ړنګ او بېوزلي کلي ورننوتل، همدا د ړندو میندو وطن و .

لاروی ژر خبر شو، چې د ړندو میندو په وطن کې نارینه هم ړنا ته کتلی نه‌شي. د نارینه‌وو مهرباني هېره ده او هیلې نه پېژني. ماشومان د میندو په تقلید لاسونه تپوي او تیندکونه خوري. نجونې له موره ړندې زیږي او هلکان له ړنا څخه کرکه لري، ځکه سترګې یې وربرېښوي. د کلي خلک فکر کوي، چې ټوله نړۍ همدومره ده، لکه د دوی سیمه او په ګاونډ کې د معبد د کلي خلک تر دوی غوره دي، ځکه خدای هلته معبد جوړ کړی دی .

لاربښود او لاروی دواړه د کلي ژرندګري ته ورغلل. ژرندګری د کلي خلکو ته سیال نه ښکارېده، خلکو ویل: په ایمان کې یې خلل دی. کوډګر غوندې دی. مور یې ړنده نه وه، دی هم له ړنا نه ویریږي او زړې پاڼې لوستلی شي. خلکو ژرندګری اصیل نه ګاڼه، ځکه له سترګورې مورڅخه زېږېدلی و .

ژرنده په اوبو تاوېده او د مېچنو غرهار و، چې ژرندګړي خپل مساپر مېلمانه د اوبو په غاړه ناستي ته راوبلل .

زبونوهلي لاروي ژرندګړی وپوښت :

- د ړندو میندو د کلي کیسه څه ده؟

ژرندګړي، چې سترګې یې په لرې زمانو کې ګنډلې وې وویل :

ډېرکلونه پخوا موږ د معبد د کلي له خلکو سره په بدۍ وواوښتو. د معبد کلي خلکو له کوم مغربي کوډګر څخه زموږ د کلي د اېل کولو چل زده کړ او په خپل کلي کې یې یو معبد جوړ کړ. کوډګر په معبد کې له خاورې سره تکسره مرچ ګډ کړل او زموږ کلي ته یې راوشیندل، ناڅاپه د ټولو ښځینه‌وو سترګې ړندې شوې او د نارینه وو په زړونو کې مهرباني او هیلې له منځه ولاړې. د معبد د کلي کوډګرو زموږ له کلي څخه ښېرازې زمکې لاندې کړې وې او اوازه یې ګډه کړې وه، چې دلته معبد خدای جوړ کړی او دوی تر موږ غوره دي .

له دې روسته د معبد د کلي راهبانو اوازې ګډې کړې، چې د ړندو میندو د کلي ټولې ښځې باید ړندې وي او که نه بې حیایي به کوي، دوی ویل: بینا ښځې کنچنۍ وي. راهبانو ویل: د خدای امر دا دی، چې نجونې او ښځې دې ړندې وي او نارینه دې له رڼا ډارېږي. راهبانو ویل: مهرباني او هیلې، چې له بینا میندو څخه زده کېږي، لویه ګناه ده! تر دې روسته هر نارینه چې مهرباني و هیلې پېژندلې، دوزخ ته د تللو لایق دی .

له هغې ورځې تر نن پورې زموږ د کلي ښځې ړندې دي او دا یې منلې ده، چې ړندې ښځې پاکې او حیاناکې وي. نارینه له رڼا ډارېږي او د معبد د کلي خلک تر ځان غوره ګڼي. د معبد د کلي خلکو ښېرازه زمکې ورخپلې کړې او هره ورځ چې د ړندو میندو په کلي کې لمر روڼ ځلېږي، نو هغه ورځ نارینه ډېر وېرېږي، همدا مهال د معبد د کلي خلک راځي او زموږ له کلي څخه میوې، غلې، غمي او لرګي غلا کوي. زموږ

نارینه له رڼا څخه ویرېږي او ښځینه ړندې دي، هیڅوک نه پوهیږي، چې د معبد د کلي خلک څه څه غلا کوي؟

ژرندګړي وړاندې وویل :

- زما مور ړنده نه وه، زه له رڼا نه ډارېږم، زه هرڅه وینم. زه وینم چې د معبد د کلي خلک زما کلی لوټي، خو هرکله چې څه ووایم، نو خپل کلیوال مې سپکوي، پیغور راکوي، چې ګواکې مور مې پاکه ښځه نه وه، ځکه په سترګو یې هرڅه لیدل، کلیوال مې د معبد د کلي په تورنولو کافر ګڼي، راته وایي :

- ته اصیل نه یې! ستا مور بده ښځه وه ...

له لاروي څخه  د ژرندګړي د کیسې بهیر پرې شو، په سترګو یې توره شپه شوه. د خپل لارښود په لمن یې منګولو ولګولې :

- یه زما مرشده!

یه سپېڅلیه لارښوده !

ژر مې له دې کلي وباسه !

غواړم ساه وکاږم ،

غواړم ژوندی وپایم .

# نهه‌نوي‌يم منزل

# چې لمر وخیژي، ډاډه شه

# چې ځښتن دې مهربان دی

د مني ژېړې و سرې پاڼې یوه یوه له ونو راپه نڅا وه. لمر خوږ لګیده. د لاروي ډډې تودې شوې او خپل بېرسري لارښود ته یې وویل:

- قربان زما لارښوده!

بېشکه، چې لمر پر موږ د ځښتن لویه لوربینه ده. لمر رڼا ده، تودوخه ده او ژوند دی...

بېرسري لارښود وخندل، د خندا لوړ غږ یې واورېدل شو. بیا مخامخ د لمر زرینې بېړۍ ته ځیر شو، چې د اسمان په لاژوردین سمندر کې خرامانه روانه ده.

لارښود لا موسک و، لاروي ته یې وویل:

- ځښتن هرڅه وړیا پنځولي دي؛ رڼا، هوا، اوبه، اور، خاوره، خوند، ښکلا او مینه.

خو د هغه لیوني له کیسې خبر یې، چې د ځښتن پنځونې ټولو انسانانو ته وړیا غواړي؟

لاروي له خپل لارښوده په تلوسه وغوښتل:

- د هغه لیوني له کیسې مې خبر کړه، چې «د ځښتن مهرباني یې پېژندلې ده«.

لاربنود وویل:

- تر دې ځنګله چې واوړو، نو هغه زندان ته رسیږو، چې د انسان د سرکوپړۍ غوندې ده او هغه لیونی په کې بندي دی، چې «د څښتن مهرباني پېژني.»

غرمه وه، چې د دوی د مزله لاره له زرین او مني‌وهلي رنګین ځنګله ووته.

لاروي ناڅاپه د ځنګله د روستیو ځانګو شاته پر یوه ډبرینه غونډۍ د انسان د کوپړۍ په شان لوی سپین زندان ولید.

هو! لکه د انسان کوپړۍ چې د سترګو په کوړاغو کې یې پنجرې لګېدلې وې او د ویتې خولې په مغاره کې یې د غاښونو پرځای سیخان داسې نېغ شوي وو، چې لیونی ترې تښتېدلی نه شو. د انسان د کوپړۍ د زندان سترګې لرې، چېرته کوم نااشنا افق کې خښې وې. لاروی د انسان کوپړۍ ته ورته لوی زندان څخه ووېرېد، خو د لیوني لیدو ته یې تلوسه وه، ځکه یې وېره هېره شوه ...

ورو یې له ځان سره وویل :

- هغه لیونی، چې « د څښتن مهرباني پېژني!»

لمر په غرغړ و، خو تودوخه یې لاهم د لاروي په ډډو ښه لګېده، چې د انسان د کوپړۍ په شان زندان ته ورورسېدل. دواړه ستومانه لارویان د کوپړۍ له زنې سره ودرېدل او لاربنود وخندل، د ده خندا د زندان د سر د کاسې په ګومبزه کې تاوراتاو شوه او انګازه یې وکړه... ناڅاپه د کوپړۍ له ښۍ سترګې څخه د پنجرو ترشاه لیونی راښکاره شو. لیونی خیرن او ببرسری نه و. اوږدې ایره‌یي څڼې یې پاکې او ږمنځ کړې وې، سترګې یې نېغې په زړه ننوتلې. له پاسه یې راغږ کړ :

- په رېښتیا پسې ورکه ملګریه !

پردېسه لارښوده ښه راغلې !

لارښود ځواب ورکړ :

- پر تا دې وي ښېګڼې!

اې زما زنداني ملګریه !

له ماسره مې لاروی ملګری هم شته، هغه چې تل پوښتنې کوي او نن يې راځخه د څښتن د بېپايه مهربانيو په اړه پوښتلي، چې ته يې ځواب ورکړې.

د کوپړۍ په سترګې کې ولاړ ليوني هم هغه افق ته وکتل، چې د کوپړۍ کوړاغه سترګه ورته ځير وه، ويې ويل :

- بېشکه چې د څښتن مهرباني بېپايه او وړيا ده !

څښتن هستي داسې پنځولې، چې مهرباني يې وپېژندل شي. د هغه د مهرباني پېژندل د ده د ذات پېژندل او په حقيقت کې د ده پېژندل دي .

د څښتن د مهرباني د پېژندو هينداره ځينو ځانخوشيو او د قدرت ليونيو انسانانو د درواغجنو دعوو په ګردونو لړلې ده. هغه راهبان او زاهدان چې وايي:

- «موږ د څښتن استازي يو!»

چې وايي :

- « د څښتن په ژبه يوازې موږ پوهېږو!»

چې وايي :

- «موږ د څښتن پيغام خپروو!»

چې وايي:

- «زموږ واکمني ومنئ، چې له دوزخه وژغورل شئ!»

دوی د ځښتن‌پېژندنې او خلکو ترمنځ پرده اچولې ده، د ځانځانۍ، واک، خېټې او حرص پرده.

دوی وايي :

- د ځان‌هېرېدنې اوبه مه ځښئ! چې د هستۍ راز ته به مو پام شي!

د لمر تودوخه مه ستايئ! چې لمرپرښتنه ده .

ښکلا ته مه ګورئ! چې له حيا وځئ!

د طبيعت موسيقي مه اورئ! چې د ځښتن له یاده غافل کيږئ! دوی خبر نه دي، چې د طبيعت سندره د ځښتن ياد دی .

دوی وايي :

- ښځه بده ده! خو دا يې هېر دي، چې دوی هم يوې ښځې زوکړي دي!

دوی وايي :

- هغه څه چې خوند لري، ناولي دي! خو پخپله د ټولو خوندونو د ځکلو لپاره په ځان، په خلکو او ان په ځښتن پورې هم دروغ وايي.

دوی وايي :

- توپان او وريځې د ځښتن غوسه ده، خو کله چې له وريځو باران راوري، هله بيا دا هېروي، چې باران د ځښتن لوی نعمت دی .

دوی وايي، چې :

- اور د شيطان نښه ده. شيطان له اوره جوړ دی، خو کله چې اور تودوخه وربښي، خام خواړه ورپخوي او په تيارو کې رڼا وربښي، هله يې په نورو دغه تودوخه او رڼا نه لوريږي .

د کوپړۍ په سترګه کې ولاړ لیوني تر لږ ځنډ روسته زیاته کړه :

ما وویل :

- د ښځتن مهرباني بې‌پایه او وړیا ده!

ما ورته وویل :

- د ښځتن مهرباني د ټولو لپاره ده !

د ښځتن مهرباني له ښځتن پرته د هیچا نه ده او هیڅوک یې د ویشلو اختیار نه لري .

ښځتن د خپلې مهربانۍ د ویش لپاره هیڅ راهب یا شیخ رااستولی نه‌دی !

هغه د ریا په چپنو کې پټ زاهدان او راهبان درواغ وایي، چې ګواکې ښځتن د خپلې مهربانۍ د ویش اختیار ورکړی دی !

هغوی درواغ وایي، چې ګواکې د ښځتن په خبرو یوازې دوی پوهیږي. دوی دا هېره کړې ده، چې د ښځتن ژبه د هغه مهرباني ده او په مهرباني ټول پوهیږي. ان ماشومان او لیوني هم مهرباني پېژني .

هغوی درواغ وایي، چې د خپل واک و ځواک لپاره د ښځتن له مهربانۍ ځخه خلک ویروي!

هغوی درواغجن دي، چې د ښځتن د مهرباني او د خلکو ترمنځ پردې اچوي !

دوی د ښځتن له مهربانیو ځخه د انسانانو د وېرولو له امله د ښځتن پېژندنې هینداره ګردجنه کړې ده .

دوی هم د ښځتن دوښمنان دي او هم د خلکو...

دا هرڅه مې وویل... خو د ښځتن د مهربانیو غلو زه ونیولم او په دغې کوپړۍ کې یې زنداني کړم. د ښځتن د مهربانۍ غله او لاروهونکي واکمن شول او زه د هغه کفر په تور بندي کړای شوم، چې ګواکې: « د ښځتن د مهربانۍ راز مې پټ نه ساته! »

دوی د خلکو په زړونو کې د ښځتن له مهربانۍ څخه وېره لویه کړه او د هغوی ټول وجود یې له ویرې ډک کړ... او هغه څوک چې د ښځتن مهرباني یې پېژندله په کوپړیو کې زنداني پاتې شو ...

د لیوني خبرې دلته رارسېدلې وې، چې ناڅاپه لاروي سترګې پرانیستې، داسې لکه له درانه خوبه چې راویښ شوی وي .

ناڅاپه وپوهېد :

چې لیونی ریښتیا وایي :

- «موږ ټولو د ښځتن د مهربانۍ د لاروهونکیو په خوله د ښځتن له مهربانۍ دومره ویرول شوي یو، چې هرچا خپل هغه لیونی په خپلو خپلو کوپړیو کې زنداني کړی، چې: « د ښځتن وړیا، بې‌پایه، نه تمامېدونې او د ټولو لپاره بې‌پولې مهرباني پېژني او د ټولو لپاره یې د ښځتن لورېینه ګڼي! »

لاروی پوه شو، چې راهبان درواغ وايي .

لاروی تلوسې واخیست: چې خلکو ته نارې کړي :

- «له کوپړیو څخه هغه لیونی ازاد کړئ، چې : « د ښځتن مهرباني پېژني! »

د ښځتن تر ټولو ستره مهرباني د انسان ازادي ده!

# سلم منزل
# بیا له سره
# پوړۍ پوړۍ مزل دی
# د ریښتیا تر منزلونو

په سلم منزل کې لاربښود او لاروی هغه ښار ته ورسېدل، چې د تاریخ د حافظې د نندارتون دروازه په کې جوړه وه .

لاروی د یوه خورا لرغوني تاق په لیدو حیران شو. زوړ تاق پوخ او کلک جوړ شوی و. له دواړو خواوو یې زینې تاوشوې وې، خو هېڅ ځای ته نه رسېدلې .

لاروي خپل لاربښود وپوښت:

- د تاریخ د حافظې د نندارتون له دروازې څخه مخ پورته دا زینې ولې جوړې شوې دي، چې لوری لودن یې نه ښکاري؟

لاربښود وخندل، زړو زینو ته یې وکتل او بیا یې وویل:

- دا زینې د ورک عدالت د پلټنې هڅه ده ، چې بشریت د تاریخ په اوږدو کې جوړې کړې، خو هیڅکله وررسېدلی نه‌دی .

لاروی نور هم حیران شو:

- نو ولې زینې مخ پورته جوړې دي؟ بشریت په عدالت پسې اسمان ته ځي؟ حال دا چې بې عدالتي په خپله ده کې ده .

ایا د عدالت منزل دا نه‌دی، چې بشریت (ظلم) پرېږدي؟

لاربښود دا ځل په لوړ غبږ وخندل:

- هو. د ظلم له منځه وړل عدالت ته رسېدل دي، خو د بشریت بدمرغ برخلیک داسې دی، چې د ظلم د له منځه وړلو په هڅه کې په بل ظلم لاس پورې کوي او په همدغې کړۍ کې تاویږي.

بشر دومره بیچاره دی، چې پخپله له ظلم څخه لاس نه اخلي، خو عدالت له اسمانه غواړي. ځکه خو دا زینې مخ پورته جوړې شوې دي، مګر هېڅ ځای ته نه رسیږي.

خبر اوسه اې لارویه!

چې د دغو زینو هره پوړۍ د بشر په تاریخ کې د ظلم ورکاوي یوه لویه هڅه ده، مګر ژر د دغې هڅې پلویان پخپله د ظلم په سرچینو بدل شوي دي.

لاروي وویل:

- یا زما روښانه لاربښوده! له دې باطلې کړۍ مې وباسه، چې زړه ته مې رڼا راشي.

لاربښود وویل:

- راشه او وګوره!

لاروی ځیر شو، څه ګوري چې د زینو په هره پوړۍ د یوه لوی پیغام‌راوړونکي نوم لیکل شوی دی .

لاربښود وویل:

- هرځل چې د انسانانو تر منځ ظلم، بې عدالتي او بېرحمي زیاته شوې ده، نو یوه پیغام راوړونکي هڅه کړې، چې له ظلم څخه د خلاصون لار روښانه

کړي. هریوه خپل پلویان او باورمندان موندلي او لارویان ورپسې روان شوي دي. تر پیغام راوړونکي روسته يې پلویانو د هغه د پیغامونو د خپرولو لپاره هڅې پیل کړې دي. دوی هڅه کړې ده چې د هر پیغام راوړونکي عدالت غوښتونکي پیغامونه نورو خلکو ته ورسوي. ځینو په داسې مقدسو هڅو کې تورې کارولي، خلک يې وژلي او د عدالت د ټینګښت لپاره يې بیا ظلم راپیل کړی دی .

د بشریت په تاریخ کې د لرې دښتو د یوه پاچا د سوداګرۍ لپاره د ښه نیت پلاوی او استازي د یوه بل مغرور پاچا له خوا ووژل شول، تاریخ وایي:

- شمېر يې پینځه سوه کسان وو. د لرو دښتو پاچا چې خبر شو، نو وخښمېد او لښکر يې راټول کړ. ده خپلو لښکریانو ته وویل:

- زما د استازیو وژل لوی ظلم دی. عدالت به هغه وخت راشي، چې له ظالم پاچا څخه د دغه ظلم کسات واخلو... د لرې دښتو پاچا په دې عادلانه دعوی راووت او نیمه نړۍ يې ونیوله. نیمه نړۍ يې ونه نیوله، بلکې ورانه يې کړه، ويې سېزله او د نیمې نړۍ ټول انسانان او ان ژوي او بوټي يې هم له ژونده وویستل. میلیونونه انسانان يې ووژل او ودان تمدنونونه يې ویجاړ کړل... د هغه دعوه هم د عدالت د ټینګښت دعوه وه.

د دغو زینو هره پوړۍ په وینو مینځل شوې، حال دا چې نیت يې د وینو تویولو مخنیوی و.

د هر پیغام راوړړنکي پلویان د عدالت ټینګولو په نامه واک و ځواک ته رسېدلي ، بیا يې خپله لاره د عدالت لاره بللې، د عدلت ټینګولو په نامه يې خپله دبدبه پاللې او په دې عصبیت کې يې د نوي ظلم بنسټ ایښی دی.

یوه پیغام راوړونکي خپلو پلویانو ته ویل:

- خپلې پوزې او سپږمې بندې ساتئ! په هوا کې واړه ژوي ستاسو د ساکښلو له لاسه مري او دا ظلم دی.  د دغه پیغام راوړونکي پلویانو تر ده څو لسیزې روسته د ده د شریعت ټینګولو لپاره چې د رحم و عدالت لاره یې بلله، د وینو ویالې وبهولې.  دوی د خپل عدالت غوښتونکي شریعت د عامولو او خپرولو لپاره نور هېوادونه ونیول او د خپل عاطفي پیغام راوړونکي لوېې لوېې مجسمې یې جوړې کړې. په لویو ګاګرو او غرونو کې یې د هغه څېره له ډبرو وتراشله او د هغه پیغام یې په ډبرلیکونو کې ولیکه:

- « په انسانانو، څارویو او ان خزندو رحم وکړئ ـ دا عدالت دی. د ژویو غوښې مه خورئ- یوازې سابه وخورئ! ځکه غوښه خوړل ـ چې څاروي وژني- ظلم دی .»

د پیغام راوړونکي دغه عادلانه پیغامونه هم د لکونو انسانانو د وژلو په زور خپاره شول.

...او داسې دا کیسه تر نن پورې راروانه ده او د زینو دغه پوړۍ مخ پورته لوړېږي.

بشریت عدالت له اسمانه غواړي، خو لا هم نه پوهېږي، چې عدالت د ده په زړه کې ورک دی.

لاروي ، چې د زینو روستیو پوړیو ته څېر و، ورو له ځانه سره وویل:

- هو!

عدالت او ظلم هره ورځ همدلته یو له بل څخه زیږي او بېرته همدلته یو د بل په لاس وژل کیږي.



عبدالغفور لېوال

# لارویان

(مریدنامه)

...څوک نه پوهېدل، چې دا پرون و، که نن که سبا؟ خو دومره خبر شول، چې لاروی او لارښود په خپلې ورکې پسې ووتل. لارښود ببرې ایرهیي څنې لرلې او د هغه زدکوونکې و مرید (لاروي) داسې برېښنده سترګې لرلې، چې له هرو کتلو څخه يې پرېمانه پوښتنې پیدا کېدلې. لارښود د خپل لاروي سترګې لوستلای او پوښتنې يې په کې موندلای شوې...

9 781326 630379